بسم الله الرحمن الرحیم

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مدنی قانون

درييم ټوك

ګڼه رسمي جريده (۳۵۳)

نېټه ۱۳۵۵/۱۰/۱۵ ه . ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خواننده گرامی!**

افتخار داریم که بعد از نشر" مجموعه قوانین افغانستان" با شیوهٔ تنظیم موضوعی، اکنون بخاطر سهولت بیشتر در دسترسی شما به قوانین مورد نیاز، سلسلهٔ دیگر از قوانین نافذهٔ کشور را با قطع کوچک جیبی در اختیار شما قرار می دهیم.

**ځارنپوه حبیب الله "غالب"**

**وزیر عدلیه**


| | |
|---|---|
| **نام:** | قانون مدنی- جلد سوم |
| **ناشر:** | وزارت عدلیه جمهوری اسلامی افغانستان |
| **تهیه و ترتیب:** | ریاست نشرات |
| **مدیرپروژه:** | قانونمل محمد رحیم"دقیق" سرپرست ریاست نشرات |
| **تدارکات و اداری:** | سید محمد هاشمی رئیس امور مالی و اداری واحمد خالد عزیزی معاون واحد پروژه بانک جهانی در وزارت عدلیه |
| **طراح جلد وصفحه‌آرا:** | امان الله صداقت(غیبی)، عباس رسولی و حسین امینی |
| **مصححین:** | نورعلم خان، حلیم سروش، احسان الله نیکزاد و محمد رفیع عمری |
| **مشاورین:** | اسماعیل حکیمی و محمد یما قاسمیار |
| **تاریخ نشر:** | ۱۳۹۰ |
| **تیراژ:** | ۸۰۰۰ |
| **چاپ:** | اول (قطع جیبی) |
| **قیمت:** | ۱۵۰ افغانی |
| **مطبعه:** | **مطبعه طباعتی وصنعتی احمد** |
| **تلفن ریاست نشرات:** | ۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷ |
| **ویب سایت:** | www.moj.gov.af |


**کلیه حقوق چاپ برای وزارت عدلیه محفوظ است.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پشتو فهرست

**دوه یم کتاب** ............................................................ ۱۸
**تاکل شوي عقدونه** ............................................................ ۱۸
**لومړی باب: تملیک** ............................................................ ۱۸
**لومړی فصل: د بیعې عقد** ............................................................ ۱۸
لومړی قسمت: د بیعې رکنونه ............................................................ ۱۸
لومړی مبحث: مبیعه ............................................................ ۱۸
دوه یم مبحث: د خرڅوونکی وجیبی ............................................................ ۲۷
لومړی فرعه: عمومی حکمونه ............................................................ ۲۷
دوه یمه فرعه: د تعرض او استحقاق ضمان ............................................................ ۳۲
دریيمه فرعه: د پټو عیبونو ضمان ............................................................ ۳۵
دریيم مبحث: د اخیستونکی التزامونه ............................................................ ۳۸
دوه یم قسمت: مختلفې بیعې ............................................................ ٤۲
لومړی مبحث: سلم ............................................................ ٤۲
دوه یم مبحث: صرف ............................................................ ٤٤
دریيم مبحث: دوفاء بیعه ............................................................ ٤٤
څلورم مبحث: د بل چا د ملکیت خرڅول ............................................................ ٤۹
پنځم مبحث: د نائب بیعه د خپل ځان دپاره ............................................................ ۵۰
شپږم مبحث: د متنازع فیه حقوقو بیعه ............................................................ ۵۱
اووم مبحث: د متروکی بیعه ............................................................ ۵۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم مبحث: د مرګ د رنځ په وخت کښی بیعه........................ ۵۳
نهم مبحث: مقایضه ..................................... ۵٤
**دوه یم فصل: هبه**....................................... ۵۵
لومړی قسمت: د هبې رکنونه ............................. ۵۵
دوه یم قسمت: د هبی حکمونه ............................ ۵۸
لومړی مبحث: د هبه کوونکی التزامونه ....................... ۵۸
دوه یم مبحث: د هبه کړه شوی شخص التزامونه ................ ۵۹
دریم قسمت: د هبی څخه رجوع کول.......................... ٦۰
**دریم فصل: شرکت** ....................................... ۶۴
لومړی قسمت: عمومي حکمونه .............................. ٦٤
لومړی مبحث: تعریفونه....................................... ٦٤
دوه یم مبحث: د شرکت عمومی رکنونه ....................... ٦٦
دریم مبحث: د شرکت اداره .................................. ٦٩
څلورم مبحث: د شرکت اثرونه................................. ۷۱
پنځم مبحث: د شرکت انحلال ................................ ۷۳
شپږم مبحث: د شرکت تصفیه او تقسیم.......................... ۷٦
دوه یم قسمت: مختلف شرکتونه................................ ۷۸
لومړی مبحث: د مضاربت شرکت................................ ۷۸
دوه یم مبحث: په کار کښی شرکت................................ ۸۳
**څلورم فصل: قرض**........................................ ۸۴
**پنځم فصل: صلحه**......................................... ۸۶
لومړی قسمت: عمومي حکمونه .............................. ۸٦
دوه یم قسمت: د صلحې آثار................................. ۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library


درېیم قسمت: د صلحې باطلیدل ............................................ ۹۲
**دوه یم باب: د ګټې اخیستلو عقدونه**............................................۹۳
لومړی فصل: اجاره........................................................................۹۳
لومړی قسمت: عمومي حکمونه ............................................. ۹۳
لومړی مبحث: د اجارې رکنونه.............................................. ۹۳
دوه یم مبحث: هغه عین چه په اجارې ورکول کیږی .................... ۹۵
درېیم مبحث: رجوره ........................................................ ۹۸
څلورم مبحث: موده........................................................ ۹۸
دوه یم قسمت: داجاری آثار............................................... ۹۹
درېیم قسمت: د اجارې او د باطنی اجارې څخه تېریدل.............۱۰۹
څلورم قسمت: د اجارې پای ...........................................۱۱۰
پنځم قسمت: د اجاری ځینی نوعی.....................................۱۱۶
لومړی مبحث: د زراعتی ځمکی اجاره.................................۱۱۶
دوهم مبحث: دهقانی.....................................................۱۱۹
درېیم مبحث: باغوانی ..................................................۱۲٤
څلورم مبحث: د وقف اجاره .........................................۱۲۷
**دوه یم فصل: عاریت** ...............................................................۱۳۱
لومړی قسمت: عمومي حکمونه ........................................۱۳۱
دوه یم قسمت: د عاریت ورکوونکی التزامونه ........................۱۳۱
درېیم قسمت: د عاریت اخیستونکي التزامونه........................۱۳۲
څلوم قسمت: د عاریت پای.............................................۱۳۷
**درېیم باب: د کار عقدونه**.............................................................۱۳۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لومړی فصل: قرارداد، د یو شي د جوړولو غوښتنه او د عمومي مرفقونو تعهدات** ............ ۱۳۸
لومړی قسمت: قرارداد ............ ۱۳۸
لومړی مبحث: عمومی حکمونه............ ۱۳۸
دوه یم مبحث: د قرارداد کوونکی التزامونه............ ۱۳۹
دریيم مبحث: د کار د خاوند وجیبی ............ ۱۴۲
ځلوم مبحث: دوهم تعهد کوونکی ............ ۱۴۴
پنځم مبحث: د قرار داد پای ته رسیدل............ ۱۴۴
دوه یم قسمت: د یوشي د جوړ ولو غوښتنه............ ۱۴۶
دریيم قسمت: د عمومی مرفقونو تعهدات ............ ۱۵۱
**دوه یم فصل: د کار عقد** ............ ۱۵۳
لومړی قسمت: عمومي حکمونه ............ ۱۵۳
دوه یم قسمت: د عقد رکنونه ............ ۱۵۴
دریيم قسمت: د عقد حکمونه............ ۱۵۵
لومړی مبحث: د اجیر التزامونه............ ۱۵۵
دوه یم مبحث: د کار د خاوند التزامونه............ ۱۵۷
دریيم مبحث: د کار د عقد پای............ ۱۵۸
**دریيم فصل: وکالت** ............ ۱۶۳
لومړی قسمت: عمومي حکمونه ............ ۱۶۳
دوه یم قسمت: د وکالت حکمونه ............ ۱۶۵
دریيم قسمت: د اخیستلو د پاره وکالت............ ۱۶۸
ځلورم قسمت: په خرڅولو وکالت............ ۱۷۱
پنځم قسمت: د دعوی وکیل ............ ۱۷۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم قسمت: د وکالت پای ........................................................ ۱۷۵
**ځلورم فصل: ودیعت** ........................................................ ۱۷۶
لومړی قسمت: عمومی حکمونه ........................................................ ۱۷۶
دوه یم قسمت: د هغه چا التزامونه چه ودیعت ور سره ایښودل کیږی ........................................................ ۱۷۷
دریم قسمت- د ودیعت ایښودونکی التزامونه ........................................................ ۱۸۱
ځلورم قسمت- د دویعت نوعی ........................................................ ۱۸۲
**پنځم فصل: ساتنه** ........................................................ ۱۸۳
**ځلورم باب: احتمالی عقدونه** ........................................................ ۱۸۵
**لومړی فصل: جواری** ........................................................ ۱۸۵
**دوه یم فصل: د بیمې عقد** ........................................................ ۱۸۶
لومړی قسمت: عمومي حکمونه ........................................................ ۱۸۶
دوه یم قسمت: د بیمې نوعې ........................................................ ۱۸۸
لومړی مبحث: د ژوند بیمه ........................................................ ۱۸۸
دوه یم مبحث: د اور اخیستلو په ضد بیمه ........................................................ ۱۹۱
**پنځم باب: د توثیق عقدونه** ........................................................ ۱۹۳
**لومړی فصل: کفالت** ........................................................ ۱۹۳
لومړی قسمت: د کفالی رکنونه ........................................................ ۱۹۳
دوه یم قسمت: د نفس کفالت ........................................................ ۱۹۷
دریم قسمت: د کفالت آثار ........................................................ ۱۹۸
لومړی مبحث: د پور ورکوونکی او کفیل ترمنځ د پور آثار ........................................................ ۱۹۸
دوه یم مبحث: د پوروړی او کفیل ترمنځ د کفالت آثار ........................................................ ۲۰۳
**دوه یم فصل: حواله** ........................................................ ۲۰۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی قسمت: د پور حواله ........................................................ ۲۰۵
لومړی مبحث: عمومی حکمونه.................................................... ۲۰۵
دوه یم مبحث: د حوالی د صحت شرطونه.......................................... ۲۰۶
دریيم مبحث: هغه پورونه چه حواله وربانډی جواز لری.............. ۲۰۷
څلورم مبحث: د حوالی حکمونه .................................................. ۲۰۸
پنځم مبحث: د حوالی ورکړه شوي د ذمی برائت........................ ۲۱٤
دوه یم قسمت: د حق حواله ........................................................ ۲۱۵
**دریيم فصل: حیازی ګروی** ........................................................ ۲۱۹
لومړی قسمت: د حیازی ګروی رکنونه........................................... ۲۱۹
لومړی مبحث: د عقد د دواړو خواوو ترمنځ د حیازی ګروی آثار .... ۲۲۰
لومړی فرعه: دګروی ورکوونکی التزامونه ................................... ۲۲۰
دوه یمه فرعه: د پورورکوونکی ګروی اخیستونکی التزامونه........ ۲۲۲
دوه یم مبحث: نسبت دریيم شخص ته د حیازی ګروی آثار ............ ۲۲۷
دوه یم قسمت: دحیازی ګروی د مودی تیریدل.............................. ۲۲۸
دریيم قسمت: د حیازی ګروی ځینی نوعی.................................... ۲۳۰
لومړی مبحث: عقاری ګروی ........................................................ ۲۳۰
دوه یم مبحث: منقوله ګروی........................................................ ۲۳۱
دریيم مبحث: د پور ګروی ........................................................... ۲۳۳
څلورم مبحث: د عاریت ګروی...................................................... ۲۳۶
**څلورم فصل: رسمی ګروی**........................................................ ۲۳۸
لومړی قسمت: د رسمی ګروی انشاء ............................................ ۲۳۸
دوه یم قسمت: د رسمی ګروی آثار................................................ ۲٤۲
لومړی مبحث: د عقد د دواړو خواوو ترمنځ د رسمی ګروی آثار..... ۲٤۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړۍ فرعه: د رهن ورکوونکی په نسبت د رسمی ګروی آثار......... ۲۴۲
دوه یمه فرعه: د ګروی اخیستونکی داین په نسبت د ګروی آثار ..... ۲۴۴
دریمه فرعه: د بل چا په نسبت د ګروی اثار................................ ۲۴۶
څلورمه فرعه: دوراندې والی او ور پسې والی حق ........................ ۲۴۷
دریم قسمت: د رسمی ګروی د مودې تېرېدل ............................ ۲۵۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست (دری)

**باب اول: تمليك**............................................ ۲۵۹
**فصل اول: عقد بیع**........................................... ۲۵۹
قسمت اول: ارکان بیع........................................... ۲۵۹
مبحث اول: مبیعه............................................... ۲۵۹
مبحث دوم: وجایب بایع ......................................... ۲۶۸
فرع اول: احکام عمومی ......................................... ۲۶۸
فرع دوم: ضمان تعرض و استحقاق.................................. ۲۷۲
فرع سوم: ضمان عیوب پوشیده..................................... ۲۷۵
مبحث سوم: وجایب مشتری......................................... ۲۷۸
قسمت دوم: بیوع مختلفه.......................................... ۲۸۲
مبحث اول: سلم ................................................ ۲۸۲
مبحث دوم: صرف ................................................ ۲۸۴
مبحث سوم: بیع وفا ............................................ ۲۸۴
مبحث چهارم: بیع ملك غیر ...................................... ۲۸۹
مبحث پنجم: بیع نائب برای خود .................................. ۲۹۰
مبحث ششم: بیع حقوق متنازع فیه ................................. ۲۹۱
مبحث هفتم: بیع متروکه ......................................... ۲۹۲
مبحث هشتم: بیع در حین مرض موت................................. ۲۹۳
مبحث نهم: مقایضه.............................................. ۲۹۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

**فصل دوم: هبه**.................................................... ۲۹۵
قسمت اول: ارکان هبه.................................................... ۲۹۵
قسمت دوم: احکام هبه.................................................... ۲۹۸
مبحث اول: وجایب واهب.................................................... ۲۹۸
مبحث دوم: وجایب موهوب له.................................................... ۲۹۹
قسمت سوم: رجوع از هبه.................................................... ۳۰۰
**فصل سوم: شرکت**.................................................... ۳۰۴
قسمت اول: احکام عمومی.................................................... ۳۰۴
مبحث اول: تعریفات.................................................... ۳۰۴
مبحث دوم: ارکان عمومی شرکت.................................................... ۳۰۶
مبحث سوم: ادارهٔ شرکت.................................................... ۳۰۹
مبحث چهارم: آثار شرکت.................................................... ۳۱۱
مبحث پنجم: انحلال شرکت.................................................... ۳۱۳
مبحث ششم: تصفیه و تقسیم شرکت.................................................... ۳۱۶
قسمت دوم: شرکتهای مختلفه.................................................... ۳۱۸
مبحث اول: شرکت مضاربت.................................................... ۳۱۸
مبحث دوم: شرکت در کار.................................................... ۳۲۲
**فصل چهارم: قرض**.................................................... ۳۲۴
**فصل پنجم: صلح**.................................................... ۳۲۶
قسمت اول: احکام عمومی.................................................... ۳۲۶
قسمت دوم: آثار صلح.................................................... ۳۳۰
قسمت سوم: بطلان صلح.................................................... ۳۳۲
**باب دوم: عقود انتفاع**.................................................... ۳۳۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

**فصل اول: اجاره** ........ ۳۳۳
قسمت اول: احکام عمومی ........ ۳۳۳
مبحث اول: ارکان اجاره ........ ۳۳۳
مبحث دوم: عینی‌که به اجاره داده می‌شود ........ ۳۳۵
مبحث سوم: اجرت ........ ۳۳۷
مبحث چهارم: مدت ........ ۳۳۸
قسمت دوم: آثار اجاره ........ ۳۳۹
قسمت سوم: تنازل از اجاره و اجارۀ باطنی ........ ۳۴۸
قسمت چهارم: ختم اجاره ........ ۳۴۹
قسمت پنجم: بعضی انواع اجاره ........ ۳۵۴
مبحث اول: اجاره زمین زراعتی ........ ۳۵۴
مبحث دوم: دهقانی ........ ۳۵۸
مبحث سوم: باغبانی ........ ۳۶۳
مبحث چهارم: اجارۀ وقف ........ ۳۶۶
**فصل دوم: عاریت** ........ ۳۷۰
قسمت اول: احکام عمومی ........ ۳۷۰
قسمت دوم: وجایب عاریت دهنده ........ ۳۷۰
قسمت سوم: التزامات عاریت گیرنده ........ ۳۷۱
قسمت چهارم: انتهای عاریت ........ ۳۷۶
**باب سوم: عقود کار** ........ ۳۷۷
**فصل اول: مقاوله، استصناع و تعهدات مرافق عامه** ........ ۳۷۷
قسمت اول: مقاوله ........ ۳۷۷
مبحث اول: احکام عمومی ........ ۳۷۷

(c) ketabton.com: The Digital Library


مبحث دوم:  وجایب مقاوله کننده ........................................ ۳۷۸
مبحث سوم: وجائب صاحب کار............................................ ۳۸۱
مبحث چهارم: متعهد ثانی ................................................ ۳۸۳
مبحث پنجم: انجام قرارداد .............................................. ۳۸۴
قسمت دوم.................................................................. ۳۸۵
استصناع:  فرمایش ساختن شی.......................................... ۳۸۵
قسمت سوم:  تعهدات مرافق عامه ...................................... ۳۹۰
**فصل دوم:  عقد کار**...................................................... ۳۹۲
قسمت اول:  احکام عمومی.............................................. ۳۹۲
قسمت دوم: ارکان عقد ................................................... ۳۹۳
قسمت سوم:  احکام عقد ................................................ ۳۹۴
مبحث اول:  وجایب اجیر................................................. ۳۹۴
مبحث دوم:  وجایب صاحب کار ........................................ ۳۹۶
مبحث سوم: انتهای عقد کار ........................................... ۳۹۷
**فصل سوم: وکالت** ....................................................... ۴۰۱
قسمت اول:  احکام عمومی.............................................. ۴۰۱
قسمت دوم:  احکام وکالت............................................... ۴۰۳
قسمت سوم:  وکالت برای خرید ........................................ ۴۰۶
قسمت چهارم:  وکالت به فروش......................................... ۴۱۰
قسمت پنجم:  وکیل به دعوی ........................................... ۴۱۲
قسمت ششم:  انتهای وکالت............................................. ۴۱۴
فصل چهارم: ودیعت........................................................ ۴۱۵
قسمت اول:  احکام عمومی .............................................. ۴۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

قسمت دوم: التزامات شخصی‌که نزد وی ودیعت گذاشته می‌شود ۴۱۵
قسمت سوم: وجایب ودیعت گذار ........................ ۴۲۰
قسمت چهارم: انواع ودیعت........................... ۴۲۱
**فصل پنجم: نگهبانی** ................................................ ۴۲۲
**باب چهارم: عقود احتمالی** ...................................... ۴۲۴
**فصل اول: قمار بازی**.............................................. ۴۲۴
**فصل دوم: عقد بیمه** ............................................... ۴۲۵
قسمت اول: احکام عمومی ............................................ ۴۲۵
قسمت دوم: انواع بیمه................................................ ۴۲۷
مبحث اول: بیمه حیات ................................................ ۴۲۷
مبحث دوم: بیمهٔ ضد حریق........................................... ۴۳۰
**باب پنجم: عقود توثیق** ........................................... ۴۳۲
**فصل اول: کفالت**.................................................... ۴۳۲
قسمت اول: ارکان کفالت ............................................. ۴۳۲
قسمت دوم: کفالت نفس ............................................... ۴۳۶
قسمت سوم: آثار کفالت................................................ ۴۳۷
مبحث اول: آثار کفالت در بین داین و کفیل ....................... ۴۳۷
مبحث دوم: آثار کفالت بین مدیون وکفیل.......................... ۴۴۳
**فصل دوم: حواله**..................................................... ۴۴۴
قسمت اول: حواله دین ................................................. ۴۴۴
مبحث اول: احکام عمومی.............................................. ۴۴۴
مبحث دوم: شروط صحت حواله ....................................... ۴۴۵
مبحث سوم: دیونیکه حواله به آن جایز است ........................ ۴۴۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

مبحث چهارم: احکام حواله ........................................... ۴۴۷
مبحث پنجم: برائت الذمه شخص حواله داده شده ........................... ۴۵۴
قسمت دوم: حواله حق ................................................. ۴۵۵
**فصل سوم: رهن حیازی** ............................................. ۴۵۸
قسمت اول: ارکان رهن حیازی (تأمینی) .................................. ۴۵۸
مبحث اول: آثار رهن حیازی بین متعاقدین ................................ ۴۵۹
فرع اول: وجایب رهن دهنده ............................................ ۴۵۹
فرع دوم: وجایب داین رهن گیرنده ........................................ ۴۶۱
قسمت دوم: انقضای رهن حیازی ......................................... ۴۶۷
قسمت سوم: بعضی از انواع رهن حیازی .................................. ۴۶۹
مبحث اول: رهن عقار ................................................. ۴۶۹
مبحث دوم: رهن منقول ................................................ ۴۷۰
مبحث سوم: رهن دین .................................................. ۴۷۲
مبحث چهارم: رهن عاریت .............................................. ۴۷۴
**فصل چهارم: رهن رسمی** ............................................ ۴۷۶
قسمت اول: انشاء رهن رسمی ........................................... ۴۷۶
قسمت دوم: آثار رهن رسمی ............................................ ۴۸۰
مبحث اول: آثار رهن رسمی بین متعاقدین ................................ ۴۸۰
فرع اول: آثار رهن رسمی به نسبت رهن دهنده ............................ ۴۸۰
فرع دوم: آثار رهن به نسبت داین رهن گیرنده ............................ ۴۸۳
فرع سوم: آثار رهن به نسبت شخص ثالث ................................. ۴۸۴
فرع چهارم: حق تقدم و حق تتبع (تعقیب) ................................ ۴۸۵
قسمت سوم: انقضای رهن رسمی ......................................... ۴۹۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوه یم کتاب
# ټاکل شوي عقدونه
## لومړی باب
## تملیک
### لومړی فصل
### د بیعې عقد

#### لومړی قسمت- د بیعې رکنونه
#### لومړی مبحث - مبیعه

**۱۰۳۵ ماده:**

(۱) دبیعی عقدهغه عقدته ویل کیږی چی خرڅوونکی خپل مال، اخیستونکی ته د هغه مال په مقابل کښی تملیک کی چه د مبیعی ثمن وی.

(۲) په ټاکلوعقدونو کښی په عمومی رکنونو چه د عقدونو په لومړی قسمت کښی ذکر شوی په هغی علاوه، د هر عقد خاص رکنونه مراعات کیږی.

**۱۰۳۶ ماده:**

په پیسو د عین خرڅولو ته مطلقه بیعه، پیسی په پیسو خرڅولو ته د صرف بیعه او عین په عین خرڅولو ته د مقایضی بیعه ویل کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۰۳۷ ماده:**

بیعه په داسی ایجاب او قبول چه د تملکیت معنی افاده کی د مبیعی او ثمن د ټاکلو سره منعقد کیږی.

**۱۰۳۸ ماده:**

مبیعه باید چه موجود ، قیمت لرونکی مال او تسلیمول ئی ممکن وی، او اخیستونکی ته داسی معلومه وی چه فاحش جهالت نفی کی.

**۱۰۳۹ ماده:**

که په عقد کښی دا رنګه ذکر شوی وی چه اخیستونکی په مبیعی پوره علم لری نو د هغه حق د بیعی په باطلولو د بی علمی په نسبت ساقطیږی، مګر داچه د خرڅوونکی دوکه کول ثابت کی.

**۱۰۴۰ ماده:**

که مبیعه د اخیستونکی په نزد معلومه نه وی نو باید چه د هغی په خصوصیاتو او ممیزه صفتونو، علم ولری.

**۱۰۴۱ ماده:**

که مبیعه د عقد په مجلس کښی موجوده وی، هغی ته اشاره کول بی د صفتونو د ذکرولو څخه کافی ګڼل کیږی.

**۱۰۴۲ ماده:**

کوم شی چی د عقد په وخت کښی د عقد دواړو خواوو نه وی لیدلی د هغی اخیستل او خرڅول جواز لری، خو په دی شرط چه د هغی جنس او صفت ذکر شوی وی، یا د مبیعی خواته او یا د هغی ځای ته اشاره شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وی. په دی صورت کښی که څه هم د بیعی عقد صحیح دی خو عقد پوره نه دی او په اخیستونکی کوم الزام نه شته.

**۱۰۴۳ ماده:**

د بیعی دلزوم دپاره شرط ده چه اخیستونکی د عقد په وخت کښی مبیعه وګوری، مګر داچه هغه یی ترمخه لیدلی وی او د عقد په وخت کښی یقین ولری چه مبیعه عیناً همغه شی دی.

**۱۰۴۴ ماده:**

که چا یو شی نه وی لیدلی او وائی خلی، د لیدلو په وخت کښی ورته خیار ورکول کیږی، که څه هم ترمخه ئی په هغی رضائیت ښکاره کړی وی. که خرڅوونکی کوم شی د لیدلو ترمخه خرڅ کړی وی نو د لیدلو خیار نه لری.

**۱۰۴۵ ماده:**

د عقد دواړه خواوی کولی شی هغه موده چه د هغی په پای ته رسیدو سره د لیدلو خیار ساقطیږی وټاکی، خو په دی شرط چه په ذکر شوی مودی کښی د اخیستونکی څخه په صراحت یا دلالت داسی شی نه وی صادر شوی چه خیار باطل کی یا مبیعه نه وی عیب جنه شوی.

**۱۰۴۶ ماده:**

د ړانده اخیستل او خرڅول صحیح دی، او خیار ئی د شی د ردولو، لمسولو، څکولو، بویولو یا هغه ته د شی د توصیف کولو څخه وروسته ساقطیږی،همدارنګه که ړانده دشی د اخیستلو یا قبضولو دپاره وکیل نیولی وه نو د هغه خیار د هغه د وکیل په لیدلو ساقطیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۰۴۷ ماده:**

که څو متعدد او توپیر لرونکی شیان په یوه عقد خرڅ کړی شی، د بیعی د لزوم د پاره د هر یوه لیدنه هرومرو ده.

**۱۰۴۸ ماده:**

که څوک توپیر لرونکی جنسونه په یوه عقد واخلی، خوځینی ئی لیدلی وی او ځینی نور ئی نه وی لیدلی، کولی شی چه عقد فسخ کی او یا ټول جنسونه قبول یا رد کی، عام له دی چه لیدل شوی جنسونه د موافقی سره مطابق وی او یا ورڅخه مغایر وی.

**۱۰۴۹ ماده:**

کوم شیان چه د نمونی په اقتضاء خرڅول کیږی د هغی د نمونی لیدنه کافی ده، که مبیعه د نمونی په خلاف ثابته شی، اخیستونکی اختیار لری چه هغه په مسمی شوی ثمن قبلوی او یائی د بیعی په فسخ کولو ردوی.

**۱۰۵۰ ماده:**

که اخیستونکی د مبیعی د لیدلو ترمخه په هغی کښی داسی تصرف وکی چه فسخ ناممکنه کی او یا د هغی پوری د بل چا حق تعلق ونیسی په داسی توګه چه هغه په مطلقی بیعی بی د خیار د شرط څخه خرڅه یا ګروه کی او یایی په اجاری ورکی، او یا ورسره هلاکه شی او یائی هلاکه کی او یا عیب جنه شی د لیدلو په خیار د هغه حق د مبیعی په ردولو کښی ساقطیږی او بیعه لازمیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۰۵۱ ماده:**

که کوم مال د مطلوب صفت په اساس خرڅ کړی شي او مبیعه د ذکر شوی صفت څخه عاري وي نو اخیستونکی کولی شي چه یائی په مسمی شوی ثمن قبوله کی او یا یې د بیعی په فسخ کیدو رد کی.

**۱۰۵۲ ماده:**

که څوک د صفت د نشتوالی له امله د خیار حق ولری او په مبیعه کښې مالکانه تصرف وکی، نو د مبیعی په ردولو کښې د هغه حق ساقطیږی، او که په مبیعه کښې داسی شي پیدا شي چه د هغی د ردولو مانع وګرځی، نو مبیعه به د صفت د موجودیت په حالت کښې او بې له هغی قیمت کیږی، او اخیستونکی به د دواړو قیمتونو توپیر د خرڅوونکی څخه غواړی که اخیستونکی د اختیار کولو ترمخه مړ شی، نو دفسخ کولو د غوښتنی حق دهغه وارثانو ته نقلیږی.

**۱۰۵۳ ماده:**

په اخیستلو کښې د وکیل کتنه یا قبضول او د هغه رضائیت د اصلی اخیستونکی د کتنی، قبضولو او رضائیت په شان دی.

**۱۰۵۴ ماده:**

د کوم شي خرڅول چه په ځانګړی توګه جواز لری، د هغی استثنی کول د اصلی مبیعی څخه هم جواز لری.

**۱۰۵۵ ماده:**

د معدوم شي بیعه باطله ده. د ونو میوی خرڅول د ظاهریدو ترمخه او د کښت خرڅول د زرغونه کیدو ترمخه، جواز نه لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۰۵۶ ماده:**

د هغه شي بيعه چه يو د بل پسی ظاهريږی، نو په هغه صورت کښی چه اکثره يی ظاهره شوی وی او څه ئی نه وی ظاهره شوی، په يوه عقد کښی جواز لري.

**۱۰۵۷ ماده:**

(۱) د عمارت د لومړی طبقی د جوړيدو ترمخه د پورتنی طبقی خرڅول جواز نه لري.
(۲) د عمارتونو د هغو طبقو او کورونو د خرڅولو قراردادونه چه د ښاری طرحه شوو نقشو په اساس او د دولت د ساختمانی مقرراتو سره سم صورت مومی، د هغی د جوړيدو ترمخه هم جواز لري.

**۱۰۵۸ ماده:**

که پورتنی طبقه د لومړنی طبقی د خاوند په ملکيت کښی وی، خرڅول ئی په هغه صورت کښی جواز لری چه آباده وی، اخيستونکی په پورتنی طبقی کښی د دوام لرونکی اوسيدو حق لری، که پورتنی طبقه ونړيده نو کولی شی چه د پخوا په شان يی بيا آباده کی.

**۱۰۵۹ ماده:**

د عقار څخه د شريکی معلومی حصی خرڅول پخواله ويشلو جواز نه لری مگر په هغه صورت کښی چه د هغی څخه خرڅوونکی يا شريک ته ضرر عايد وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۰۶۰ ماده:**

(۱) هغه بیعه چه په تجربې مشروطه شوې وي، په هغې کښې اخیستونکي کولی شي چه مبیعه قبوله یا رد کي، په هغې کښې خرڅوونکي مکلف دی چه اخیستونکي ته د تجربې امکان برابر کي، که اخیستونکي مبیعه رد کي، باید چه خپل نه قبلول د ټاکلې مودې په اوږدو کې اعلان کي، که موده نه وه ټاکل شوې نو خرڅوونکي به معقوله موده ټاکي، د ذکر شوې مودې په اوږدو کښې داخیستونکي سکوت د تجربې د توان سره، قبوله شوې ګڼل کیږي.

(۲) په تجربې باندې مشروطه بیعه د واقف د شرط پورې معلقه ده، او هغه د مبیعې د قبلولو څخه عبارت ده، مګر داچه د موافقې یا حالونو څخه دارنګه معلومه شي چه د شرط پورې معلقه بیعه فسخ کوونکې ده.

**۱۰۶۱ ماده:**

کومه بیعه چه د ذایقې د پیژندلو پورې مشروطه وي، په هغې کښې اخیستونکي کولی شي چه مبیعه قبوله یا یې رد کي، د مبیعې دقبلولو اعلام د هغې مودې په اوږدو کښې چه په موافقې یا عرف وټاکل شي، صورت مومي، بیعه د قبلولو د اعلام د نیټې څخه نافذه ګڼل کیږي.

**۱۰۶۲ ماده:**

ثمن د مبیعې د قیمت څخه عبارت دی که څه هم د مبیعې د قیمت څخه کم یا زیات وي. ثمن باید چه ټاکلی او معلوم وي، او په هغې باندې پوره علم حاصل وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۰۶۳ ماده:**

(۱) په مطلقی بیعی کښی په نقدو پیسو باندی د ثمن تاکل هرومرو دی، سره ددی هم کله د هغه اساسونو په ذکرولو چه د ثمن تاکل په راتلونکی وخت کښی ایجاب کی، کفایت کوی.
(۲) که د ثمن په ټاکلو کښی د بازار په نرخ موافقه وشی، نو د نرخ د نوسان په حالت کښی هغی زمانی او ځای ته اعتبار ورکول کیږی چه اخیستونکی ته د مبیعی تسلیمول صورت مومی. که د تسلیمولو په ځای کښی بازار موجود نه وی د هغه ځای بازار ته چه عرف د هغی په عمومیت حکم وکی اعتبار ورکول کیږی.

**۱۰۶۴ ماده:**

بیعه په معجل او مؤجل ثمن چه د تأجیل موده ئی ټاکلی وی بی له دی چه د مودی اوږدوالی او لنډوالی په نظر کښی ونیول شی جواز لری. همدارنګه په ثمن کښی د قسطونو د ټاکلو شرط چه په ټاکلو میعادونو کښی تأدیه شی جواز لری. که داسی موافقه وشی چه که قسطونه د هغی په ټاکلی مودی کښی ورنه کړل شی نو په معجل ثمن دی تبدیل شی، دا کار هم جواز لری.

**۱۰۶۵ ماده:**

که په مؤجلی بیعی کښی د شرط خیار نه وو نو د مبیعی د تسلیمولو سره سم او که په کښی د شرط خیار وو نو د خیار د ساقطیدو د نېټې څخه، د ثمن د ادا کولو میعاد رارسیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۰۶۶ ماده:**

په هغې مطلقې بیعې کښې چه په کښې دثمن د تعجیل یا تأجیل ذکر نه وی شوی نو دهغې ثمن په معجل صورت ورکول کیږی، مګر دا چه عرف د هغې په خلاف حکم وکی.

**۱۰۶۷ ماده:**

د عقد څخه وروسته د ثمن زیاتوالی او کموالی جواز لری او اصلی عقد ته راجع کیږی، شفیع اخیستونکی د ثمن د کموالی څخه استفاده کولی شی او د هغې د زیاتوالی څخه ضرر نه مومی، که خرڅوونکی د ټول ثمن څخه منصرف شی شفیع اخیستونکی کولی شی چه عقار د هغې په مثل ثمن واخلی.

**۱۰۶۸ ماده:**

د بیعې عقد د مرابحې په صورت چه عبارت ده د شی د خرڅولو، د اخیستلو د ثمن په مثل د معلومې ګټې سره، او د تولیې په صورت چه عبارت ده د لومړنی ثمن په مثل خرڅولو څخه، او د اشتراک په صورت چه عبارت ده د ځینې مبیعي دخرڅولو څخه په ځیني ثمن، او د وضیعې په صورت چه عبارت ده د لومړنی ثمن څخه په کم ثمن خرڅولو څخه، جواز لری.

**۱۰۶۹ ماده:**

خرڅوونکی کولی شی د ثمن د قبضولو ترمخه په هغې کښې تصرف وکی یائې خپل قرض لرونکی ته حواله کی، عام له دی چه د داسی شیانو د جملې څخه وی چه ټاکل کیدای شی او که نه شی ټاکل کیدای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۰۷۰ ماده:**

د دې دپاره چه د بيعې اثر د دريم شخص په حق کښې نتيجې ته ورسيږي، بايد چه عقد د قانون د حکمونو سره سم ثبت شي.

## دوه يم مبحث – د خرڅوونکي وجيبې

## لومړۍ فرعه – عمومي حکمونه

**۱۰۷۱ ماده:**

که مبيعه بالذات تاکل شوې وي او يا په تخميني صورت خرڅه شوې وي نو د مبيعې ملکيت پخپله، اخيستونکي ته نقليږي. په هغه صورت کښې چه يوائې د مبيعې نوعه معلومه وي نو د هغې ملکيت بې د خرڅوونکي د اقرار څخه نه شي نقليداى.

**۱۰۷۲ ماده:**

اخيستونکى کولى شي د ملکيت د نقليدو سره يو ځاى په مبيعه کښې عام له دې چه منقوله وي اويا غيرمنقوله تصرف وکي. که څه هم د قبضولو ترمخه وي.

**۱۰۷۳ ماده:**

که خرڅوونکى د ثمن د قبضولو وروسته او اخيستونکي ته د مبيعې د تسليمولو ترمخه، مفلس شي، اخيستونکى به مبيعه د خرڅوونکي څخه يا د هغه د وارثانو څخه اخلي، نور پور ورکوونکي د اخيستونکي مزاحم کيداى نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۰۷۴ ماده:**

(۱) اخیستونکی کولی شي په هغې بیعې کښې چې په مؤجل ثمن ئې صورت موندلی، اخیستونکی ته د مبیعې د ملکیت نقلول د ټول ثمن د ورکولو تروختې پورې شرط کښیږدي، که څه هم د مبیعې تسلیمولو صورت موندلی وي.

(۲) که د مبیعې ثمن په قسطونو ورکول کیږي، د عقد دواړه خواوې کولی شي چې دا رنګه موافقه وکې چې خرڅوونکی به د ټولو قسطونو د نه ورکولو په صورت کښې د هغې یو جزء د تعویض په حیث د بیعې د فسخ کیدو په مقابل کښې د خپل ځان سره وساتي. سره ددې هم محکمه کولی شي د شرطونو او حالونو په نظر کښې نیولو سره، موافقه شوې تعویضونه د دې قانون د (۷۳۱) مادې د حکم سره سم، تنقیص کې.

(۳) که ټول قسطونه ورکړل شي نو د مبیعې ملکیت د بیعې د منعقد کیدو د نیټې څخه اخیستونکی ته نقلیږي.

(۴) د پورتنیو فقرو حکمونه که څه هم د عقد دواړه خواوې د بیعې عقد د اجارې په نامه مسمی کې، هم تطبیقیږي.

**۱۰۷۵ ماده:**

خرڅوونکی د هغې کارونو په اجراء کولو چې د مبیعې د ملکیت د نقلولو دپاره ضروري وګڼل شي او همدارنګه د هغه کارونو څخه په ځان ژغورلو چې د مبیعې د ملکیت نقلول نه کیدونکی کې، مکلف دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۰۷۶ ماده:**

خرڅوونکی مکلف دی چه مبیعه په هغه صفتونو چه د عقد په وخت کښی وه او په هغه حالت چه د مبیعی د طبیعت سره سمون ولری، اخیستونکی ته تسلیم کی.

**۱۰۷۷ ماده:**

تسلیمول د مبیعی ټولو ملحقاتو او هر هغه څه ته چه د مبیعی د استعمال دپاره په دایمی توګه برابر شوی وی، شامل دی. دا حکم د شی د طبیعت د ایجاب، عرف او د عقد د دواړو خواوو د قصد سره سم صورت مومی.

**۱۰۷۸ ماده:**

د مبیعی تسلیمول د اخیستونکی او مبیعی ترمنځ د موانعو د لیری کولو څخه عبارت دی، په داسی توګه چه اخیستونکی بی د حایل او مانع څخه د هغی په قبضولو قادر وی.

**۱۰۷۹ ماده:**

د موانعو لیری کول، حکمی قبض پیژندل شوی او د مبیعی د حال او نوعی په اختلاف د عرف د ایجاب سره سم، تغییر کوی.

**۱۰۸۰ ماده:**

که د بیعی ترمخه عین مبیعه د اخیستونکی په تصرف کښی وی، نوی قبضول ئی ضرورت نه لری، عام له دی چه د بیعی ترمخه د اخیستونکی تصرف د ضمان تصرف وی او که د امانت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۰۸۱ ماده:**

په مطلقي بيعي کښې د مبيعې تسليمول په هغـه ځـاى کـښې چـه د عقـد د منعقيدو په وخت کښې مبيعه په هغې کښې موجوده وي صورت مـومي، او د عقد ځاى د تسليميدو ځاى نه ګڼل کيږي، مګر په هغه صورت کـښې چه د دواړو خواوو په ټاکلي ځاى کښې د مبيعې په تسليمولو موافقه کړې وي.

**۱۰۸۲ ماده:**

که د مبيعې اندازه په عقد کښې ټاکل شوي وي، نو خرڅوونکى د عـرف د اقتضاء سره سم د مبيعې د نقصان مسئول دى، خو په دې شرط چه د هغې په غير موافقه نـه وي شـوې، سره ددې هم اخيـستونکى پـه مبيعـه کـښې د نقص د پلوه د عقد د فسخ کولو غوښتنه نـه شي کولى، مګـر داچـه ثابتـه کې چه نقص په دومره اندازه دى چه که اخيستونکى ورباندې علم لرلى نو بيعه ئې نه ترسره کوله.

**۱۰۸۳ ماده:**

که مبيعه پرهغه څه چه په عقـد کـښې پرې صـراحت شـوى زياتـه وي، نوکـه ثمن د هر واحد په مقابل کښې ټاکل شـوى وي او مبيعـه د تقـسيمولو وړنـه وي، نـو اخيـستونکى د ثمـن پـه پـوره کولـو مکلـف کيـږي، مګـر داچـه زياتوالى فـاحش وي، پـه دې صورت کـښې د عقـد د فـسخ کېـدو غوښـتنه کولى شي خو په دې شرط چه د هغې په خلاف موافقه نه وي شوې.

**۱۰۸۴ ماده:**

د اخيستونکى له خوا د ثمن د کموالي غوښتنه او د خرڅوونکى لـه خـوا د ثمـن د زيـاتوالي غوښـتنه، د مبيعـې د زيـاتوالي او کمـوالي پـه هکلـه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مبیعی د بالفعل تسلیمیدو د نېټې څخه د درې میاشتو وروسته نه اوریدله کیږي.

**۱۰۸۵ ماده:**

که مبیعه د تسلیمیدو ترمخه د داسې سببونو په اساس تلف شي چه د خرڅوونکي د ارادې بهر وي، نو عقد فسخ او ثمن اخیستونکي ته بیرته ورکول کیږي، مګر داچه اخیستونکي ته خبر ورکول شوی وي چه مبیعه تسلیم کې او ترهغې وروسته تلف شي.

**۱۰۸۶ ماده:**

که د تسلیمیدو ترمخه د مبیعې په قیمت کښې د عیب د پیدا کیدو په نسبت کموالی راشي نو اخیستونکي اختیار لري چه عقد فسخ کوي او یائې د ثمن د کموالي سره قبلوي.

**۱۰۸۷ ماده:**

(۱) که یو شي د اخیستلو په قصد د ثمن د ټاکلو وروسته قبض شي او د قبض کوونکي سره هلاک یا ضایع شي، قبض کوونکي مسؤل ګڼل کیږي، که ثمن نه وه ټاکل شوی د امانت حیثیت لري نو کوم هلاک یا ضایع کیدل چه بې د قبض کوونکي د قصد یا تقصیر څخه پیدا کیږي، قبض کوونکي ئې مسؤل نه ګڼل کیږي.

(۲) که قبض د اخیستلو په قصد صورت نه وي موندلې او بې د قبض کوونکي د قصد څخه هلاک شي امانت شمارل کیږي او قبض کوونکي ته کوم مسئولیت نه عایدیږي عام له دې چه ثمن یې ټاکل شوی وي یا نه وي ټاکل شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوه يمه فرعه – د تعرض او استحقاق ضمان

**۱۰۸۸ ماده:**

خرڅوونکی د مبيعی څخه د اخيستونکی د ګټې اخيستلو د تعرض نه کولو په هکله په کلي او جزئی صورت سره ضامن ګڼل کيږي، عام له دی چه تعرض پخپله د بايع د عمل څخه پيدا شوی وی يا د داسی درېيم شخص د عمل څخه پيدا شوی وی چه په مبيعی باندی د عقد په وخت کښی د داسی حق لرونکی وی چه د هغی په وسيله پراخيستونکی احتجاج کولی شی يا ذکر شوی حق د عقد څخه وروسته په داسی ډول ثابت کی چه د خرڅوونکی له خوا ورته ورکول شوی وی.

**۱۰۸۹ ماده:**

که مبيعه د بل چا له خوا په استحقاق ويوړه شی، په هغی صورت کښی چه استحقاق د خرڅوونکی ملکيت ته راجع وی، نو خرڅوونکی ئی ضامن ګڼل کيږي که څه هم ضمانت په عقد کښی نه وی شرط شوی.

**۱۰۹۰ ماده:**

د خرڅوونکی دا شرط ايښودل چه که مبيعه چا په استحقاق ويوړه زه يی ضامن نه يم، جواز نه لری، د داسی شرط ايښودل د بيعی د فاسديدو موجب ګرځی.

**۱۰۹۱ ماده:**

(۱) که استحقاق يوائی د اخيستونکی په اقرار يا نکول ثابت شوی وی، نو د خرڅوونکی څخه د ضمان غوښتنه جواز نه لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) که اخیستونکی د پورتني فقرې په درج شوی حالت کښې د ښه نیت خاوند وی، نو که ئې خرڅوونکی په مناسب وخت کښې د استحقاق د دعوی څخه خبر کړی وی او په دعوی کښې یې د مداخلې خبرتیا ورکړې وی او خرڅوونکی مداخله نه وی کړې، کولی شي چه د استحقاق د ضمان غوښتنه وکی.

(۳) که اخیستونکی د استحقاق په دعوی باندې خرڅوونکی نه وی خبر کړی او ورباندې قطعي حکم صادر شي د هغه د مراجعې حق ساقطیږي خو په دې شرط چه خرڅوونکی ثابته کی چه د هغه مداخله د استحقاق د دعوی په ردیدلو، منجر کیده.

**۱۰۹۲ ماده:**

که د استحقاق د دعوی د ثابتولو وروسته، مستحق شخص او اخیستونکی داسی موافقه وکی چه مبیعه دی د عوض په مقابل کښې د اخیستونکی سره وی، دا موافقه د مستحق څخه د اخیستلو معنی ورکوی، او اخیستونکی په خرڅوونکی رجوع کولی شي.

**۱۰۹۳ ماده:**

(۱) که مبیعه د اخیستونکی څخه په استحقاق ویوړه شي، نو که خرڅوونکی د عقد په وخت کښې د مبیعې د استحقاق څخه علم نه لرلو، اخیستونکی کولی شي چه د ټول ثمن د ردولو او د هغه حاصل د قیمت چه د هغې په ردولو د مستحق دپاره مکلف شوی، د ګټورو مصرفونو او د ضمان د دعوی د ټولو مصرفونو په غیر دهغې چه اخیستونکی کولی شو د هغې د مصرف څخه خرڅوونکی ته د دعوی د خبرتیا په اساس د هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه ځان وژغوري، غوښتنه وکي. په دې باره کښې د مبيعې د قيمت زياتوالي او کموالي تاثير نه لري.
(۲) که خرڅوونکی د عقد په وخت کښې د مبيعې په استحقاق علم ولري، په پورتنيو غوښتنو علاوه اخيستونکی کولی شي چه د مبيعې د قيمت زياته اندازه د ثمن او غير ضروري مصرفونو څخه چه په مبيعه ئې کړې دي د رسيدلي خسارې د تعويض او د هغه حاصل د کموالي سره چه د مبيعې د استحقاق له پلوه ورته عايد شوي دي، هم غوښتنه وکي.

**۱۰۹۴ ماده:**

(۱) که ځيني مبيعه په استحقاق ويوړه شي يا کوم داسې حق ورپوري تعلق نيولی وي چه اخيستونکی د عقد په وخت کښې ور څخه خبر نه وي، نوکولی شي چه عقد فسخ کړي.
(۲) که اخيستونکی د مبيعې پاتې برخه قبوله کي، کولی شي چه د استحقاق څخه د پيدا شوي خسارې د تعويض غوښتنه وکي.

**۱۰۹۵ ماده:**

(۱) د عقد دواړه خواوې کولی شي چه د خاصې موافقې په اساس د استحقاق ضمان زيات يا کم کي او يائې ساقط کي.
(۲) که د ارتفاق حق واضحه وي او يا خرڅوونکی هغه اخيستونکي ته ظاهره کړې وي، نو د ضمان د نشتوالي شرط پخپله پيدا کيږي.

**۱۰۹۶ ماده:**

(۱) خرڅوونکی د هغه استحقاق مسئول دی چه د هغه د فعل څخه پيدا شوی وي، که څه هم د ضمان د نشتوالي موافقه په دې باره کښې شوې وي. د دواړو خواوو موافقه چه ددې حکم په خلاف وي، اعتبار نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) که استحقاق د بل چا د فعل څخه پیدا شوی وی، نو خرڅوونکی یوائې د ثمن په ردولو مکلف کیږي.

**درییمه فرعه – د پټو عیبونو ضمان**

**۱۰۹۷ ماده:**

که مبیعه د تسلیمولو په وخت کښې د هغه صفتونو څخه خالی وی چه وجود ئی اخیستونکی ته اهمیت ولری یا په هغې کښې داسی عیب ولیدل شی چه د قیمت د ټیټوالی یا د هغې د ګټې د ټیټوالی د عقد د غوښتلی غایې په اساس یاد شی د ظاهری طبیعت یا د هغه غرض چه ورته تیاره شوی، موجب شی، خرڅوونکی په ضمان ملزمیږي، که څه هم خرڅوونکی د هغې په وجود علم ونه لری.

**۱۰۹۸ ماده:**

که اخیستونکی د بیعی د عقد په وخت کښې د مبیعی په عیبونو علم ولری یا داچه که اخیستونکی د یو عادی انسان په شان مبیعه پلټلی وی نو د هغې په عیبونو پوهیده، نو په دی صورت کښې خرڅوونکی د ذکر شوو عیبونو ضامن نه ګڼل کیږي، مګر داچه اخیستونکی ثابت کی چه خرڅوونکی مبیعه د عیبونو څخه خالی ښودلی او یا داچه د عیب د پټولو قصد ئی لرلو.

**۱۰۹۹ ماده:**

کوم شیان چه په یوه عقد خرڅ شوی وی او وروسته د هغې څخه د ځینو عیب جنی ظاهره شی، که یی د تقسیمولو څخه ضرر نه پیدا کیږي نو اخیستونکی کولی شی چه عیب جن مسترد کی او د خرڅوونکی څخه یی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ثمن غوښتنه وکی. اخیستونکی نه شی کولی چه ټول ذکر شوی شیان بی د خرڅوونکی د رضاء څخه مسترد کی. که ئی په تقسیمولو کښی ضرر موجود وی نو اخیستونکی کولی شی چه ټوله بیع په ټول ثمن واخلی او یایی رد کی.

**۱۱۰۰ ماده:**

(۱) که په مبیعه کښی پخوانی عیب ظاهر شی بیا د اخیستونکی سره په کښی نوی عیب پیدا شی، اخیستونکی نه شی کولی چه هغه د نوی عیب سره مسترده کی مګر د خرڅوونکی څخه یوائی د ثمن د کموالی غوښتنه کولی شی.
(۲) که د مبیعی څخه نوی عیب لری شی نو اخیستونکی کولی شی چه د پخوانی عیب په نسبت هغه رده کی.

**۱۱۰۱ ماده:**

که اخیستونکی په مبیعه باندی څه شی زیات کی نودا زیاتوالی د ردولو مانع ګرځی خو اخیستونکی کولی شی د مبیعی د عیب په سبب د خرڅوونکی څخه د قیمت د ټیټوالی غوښتنه وکی.

**۱۱۰۲ ماده:**

که عیب لرونکی مبیعه د اخیستونکی په لاس کښی هلاکه شی، نو داخیستونکی څخه یوائی دثمن دټیټوالی غوښتنه کولی شی.

**۱۱۰۳ ماده:**

که اخیستونکی وروسته له دی چه په مبیعه کښی په پخوانی عیب خبر شی په هغی کښی مالکانه تصرف وکی د هغه د عیب خیار ساقطیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۱۰۴ ماده:**

د عقد دواړه خواوی کولی شی چه په خاصه موافقه د ضمانت اندازه وټاکی، که خرڅوونکی د مبیعی عیب عمداً پټ کړی وی، ټول هغه شرطونه چه ضمانت ساقطوی  او یائی کموی، باطل ګڼل کیږی.

**۱۱۰۵ ماده:**

کوم عیب چه په عرف کښی د اهمیت وړنه وی، خرڅوونکی ئی ضامن نه ګڼل کیږی.

**۱۱۰۶ ماده:**

په هغی بیعی کښی چه د محکمی په حکم یا د دولتی ادارو په وسیله د مزایدی په توګه ترسره شوی وی د عیب ضمان، اعتبار نه لری.

**۱۱۰۷ ماده:**

(۱) د مبیعی د تسلیمیدو د نیټی څخه د شپږ میاشتو د تیریدو وروسته د عیب د ضمان دعوی د اوریدو وړنه ده، که څه هم د ذکر شوی مودی د تیریدو وروسته اخیستونکی ته د مبیعی عیب نه وی ظاهر شوی، خو په دی شرط چه خرڅوونکی زیاته موده نه وی قبوله کړی.

(۲) که اخیستونکی ثابته کی چه د عیب پټیدل د خرڅوونکی د غش څخه پیدا شوی نو ذکر شوی خرڅوونکی نه شی کولی چه د پورتنی مودی په تیریدو تمسک وکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریم مبحث - د اخیستونکی التزامونه

**۱۱۰۸ ماده:**

اخیستونکی د عقد د شرطونو سره سم موافقه شوی ثمن په ورکولو او د هغی د مصرفونو په اداء کولو مکلف دی.

**۱۱۰۹ ماده:**

(۱) که په عقد کښی د ثمن د اداء کولو ځای ټاکل شوی وی، نو ورکول یی په همغه ټاکلی ځای کښی او که نه وی ټاکل شوی په هغه ځای کښی صورت مومی چه مبیعه په کښی تسلیم ورکول کیږی.

(۲) که خرڅوونکی د مبیعی د تسلیمیدو په وخت کښی د ثمن مستحق ونه ګڼل شی نو ذکر شوی ثمن به د استحقاق په وخت کښی د اخیستونکی په اوسیدن ځای کښی ورکول کیږی، مګر دا چه موافقه یا عرف د هغی په خلاف وی.

**۱۱۱۰ ماده:**

که د مبیعی د ثمن ادا کول په یوه ټاکلی وخت یا په قسطونو تعیین شوی وی نو د ثمن اداء کول د ټاکلی وخت په رسیدلو یا د هر قسط د مودی په رسیدو لاژمیږی، که د یوه قسط په اداء کولو کښی وروسته والی راغی نو د نورو قسطونو د تعجیل موجب نه ګرځی مګر داچه په عقد کښی شرط شوی وی.

**۱۱۱۱ ماده:**

که خرڅوونکی د جنس د بیعی په نقدو صورت کښی، جنس عرضه کی نو اخیستونکی د جنس د تسلیمیدو ترمخه د مبیعی د ثمن په اداء کولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکلف دی. که بیعه جنس په جنس یا نقد په نقدو وه نو د مبیعی او د ثمن اداء کول یوځای صورت مومی.

## ۱۱۱۲ ماده:

(۱) خرڅوونکی د مبیعی د ثمن د قانونی ګټی مستحق نه ګڼل کیږی، مګر په هغه صورت کښی چه اخیستونکی ته ئی ترمخه د ثمن په اداء کولو خبرتیا ورکړی وی او یائی مبیعه ورته تسلیم کړی وی. په هر حال لازمه ده چه مبیعه د حاصل ورکولو یا د نورو عایداتو قابلیت ولری، مګر داچه موافقه یا عرف د هغی په خلاف وی.

(۲) د مبیعی ګټی او حاصلات د هغی د تکلیفونو سره د عقدسرته رسیدو د وخته د اخیستونکی پوری تعلق نیسی، مګر داچه موافقه یاعرف دهغی په خلاف وی.

## ۱۱۱۳ ماده:

(۱) که یو څوک په اخیستونکی باندی د بیعی د عقد څخه ترمخه د یوه حق په استناد یا د داسی حق په استناد چه د مبیعی په خصوص کښی د خرڅوونکی پوری تعلق ونیسی، اعتراض وکی یا د مبیعی د ملکیت د استملاک ویره موجوده وی، اخیستونکی کولی شی چه د تعرض د پریکړی یا د خطر د لیری کیدو تروخته په هغه صورت کښی چه د عقد شرطونه د هغی مانع نه وی د مبیعی ثمن د خپل ځان سره وساتی، سره ددی هم خرڅوونکی کولی شی د کفیل په ورکولو د مبیعی د ثمن د اداء کولو غوښتنه وکی.

(۲) که اخیستونکی په مبیعه کښی کوم عیب پیدا کی، د پورتنی فقری د درج شوی حکم څخه استفاده کولی شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۱۱۴ ماده:**

که ټول یا ځینی ثمن فی الحال د اداء کولو وړ وی، خرڅوونکی کولی شی د خپل استحقاق د حاصلولو تروخته پوری، مبیعه د ځان سره وساتی، که څه هم په دی باره کښی اخیستونکی ګروی یا تضمین ورکی، مګر داچه موافقه د هغی په خلاف شوی وی.

**۱۱۱۵ ماده:**

که خرڅوونکی د ثمن دقبضولو ترمخه مبیعه تسلیم کی نو د مبیعی د ساتلو حق د لاسه ورکوی، په دی صورت کښی د ثمن د حاصلولو دپاره د مبیعی د بیرته ردولو غوښتنه نه شی کولی.

**۱۱۱۶ ماده:**

که اخیستونکی د ثمن د اداء کولو ترمخه د خرڅوونکی د اجازی په غیر مبیعه قبض کی، خرڅوونکی کولی شی چه مبیعه بیرته واخلی، که مبیعه د ذکر شوی قبض کوونکی اخیستونکی سره هلاکه یا عیب جنه شوه نو ذکر شوی قبض صحیح ګڼل کیږی او د ثمن په اداء کولو مکلف کیږی.

**۱۱۱۷ ماده:**

که خرڅوونکی د مبیعی د ثمن تأجیل قبول کړی، نو د مبیعی د ساتلو حق نه لری، اخیستونکی د هغی په تسلیمولو مکلف وی او د تأجیل د مودی د رسیدو ترمخه د ثمن د غوښتلو حق هم نه لری، مګر داچه د ثمن د اداء کولو د تأميناتو کموالی د اخیستونکی له خوا ظاهره شی یا اخیستونکی د داسی افلاس په حالت کښی واقع شی چه د ثمن د ضایع کیدلو ویره ورڅخه متصوره وی، نو خرڅوونکی کولی شی چه مبیعه د ځان سره وساتی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۱۱۸ ماده:**

که اخیستونکی دمبیعی د قبضولو او د ثمن د اداء کولو ترمخه د افلاس په حالت کښې مړ شی، خرڅوونکی کولی شی چه مبیعه د ثمن د حاصلولو تروختـه پوری د ځان سره وساتی او یا د محکمی څخه د هغی د خرڅولو غوښتنه وکی، که د خرڅوونکی د حق څخه ثمن زیات شو نو د خرڅوونکی حق به ورکول کیږی او پاتی د نورو پور ورکوونکو پوری تعلق نیسی، او که د خرڅوونکی د حق څخه ثمن کم وه نو په پاتی حصه کښې د خرڅوونکی سره د نورو پور ورکوونکو په شان معامله کیږی.

**۱۱۱۹ ماده:**

که اخیستونکی د مبیعی د ثمن د اداء کولو څخه د اداء کولو په میعاد کښې ځان وژغوری یا نور التزامونه چه د بیعی د عقد په موجب په هغی مکلف دی اخلال کی، نو خرڅوونکی کولی شی چه د بیعی د تنفیذیدلو یا فسخ کیدلو غوښتنه وکی.

**۱۱۲۰ ماده:**

که د عقد دواړه خواوی موافقه وکی چه که ثمن په ټاکلی میعاد کښې اداء نه کړی شو بیعه به پخپله فسخ شوی ګڼل کیږی، نو محکمه کولی شی ترڅو چه د عقد د فسخ کیدو خبرتیا صورت نه وی موندلی د تأجیل موده اوږده کی.که په عقد کښې داسی تصریح شوی وی چه فسخ بی له خبرتیا واقع کیږی نو په دی صورت کښې محکمه نه شی کولی چه اخیستونکی ته مهلت ورکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۱۲۱ ماده:**

اخیستونکی مکلف دی چه مبیعه په هغه ځای کښې تسلیم شي چه د بیعې د عقد په وخت کښې په هغې ځای کښې موجوده وه، مګر داچه موافقه د هغې په خلاف شوی وی. باید چه د مبیعې نقلول بی د معطل تیا صورت ومومی مګر داچه نقلول یې څه موده ایجابوی او یایې نقلول په عقد کښې په ټاکلې زمانې یا ځای کښې ټاکل شوی وی.

**۱۱۲۲ ماده:**

که د مبیعې صادرول اخیستونکی ته لازم شوی وی، نو تسلیمیدل اخیستونکی ته د مبیعې د رسیدو وروسته ترسره کیږي، مګر داچه موافقه په بل ډول شوی وی.

**۱۱۲۳ ماده:**

د مبیعې د تسلیمیدو، د بیعې د عقد، د ثبت د محصول او نور هغه مصرفونه چه مبیعه یې ایجابوی د اخیستونکی په ذمه دی مګر داچه موافقه یا عرف د هغې په خلاف وی.

**دوه یم قسمت- مختلفې بیعې**
**لومړی مبحث - سلم**

**۱۱۲۴ ماده:**

سلم، عبارت دی د آجل ثمن د بیعې په عاجل ثمن.

**۱۱۲۵ ماده:**

سلم په هغه شیانو کښې صورت موندلی شي چه اندازه او صفت ئې ټاکل او تثبیت کیدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۱۲۶ ماده:**

د سلم د صحت د پاره شرط ده چه د عقد موضوع غله او د هغی امثال وی او د عقد له وخته د تسلیمیدو تروخته پوری موجوده وی.

**۱۱۲۷ ماده:**

په سلم کښی شرط ده چه جنس، نوع، صفت، اندازه او د مبیعی د تسلیم میعاد ، د ثمن قیمت او د مبیعی د تسلیمیدو ځای بیان شوی وی.

**۱۱۲۸ ماده:**

دسلم د صحت د دوام د پاره شرط ده چه ثمن د عقد د دواړو خواوو د جدائی ترمخه قبض شی.

**۱۱۲۹ ماده:**

د تسلیمیدو موده د عقد د دواړو خواوو د موافقی په اساس ټاکل کیږی، باید چه دا موده د یوی میاشتی څخه کمه نه وی.

**۱۱۳۰ ماده:**

د سلم حکم عبارت دی د عقد د دواړو خواوو د ملکیت د ثبوت څخه په دواړو بدلونو کښی، د عقد د پوره کیدو سره یو ځای.

**۱۱۳۱ ماده:**

سلم ورکوونکی نه شی کولی چه په ثمن کښی د هغی د قبضولو ترمخه او سلم اخیستونکی نه شی کولی په مبیعه کښی د هغی د تسلیمیدو ترمخه، تصرف وکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۱۳۲ ماده:**

د سلم موده د سلم ورکوونکی په مړینه باطلیږی نه د سلم اخیستونکی په مړینه، او مبیعه د سلم ورکوونکی له ترکی څخه اخیستل کیږي.

**دوه یم مبحث – صرف**

**۱۱۳۳ ماده:**

صرف عبارت دی د نقدو د بیعی څخه په نقدو.

**۱۱۳۴ ماده:**

د صرف د صحت دپاره شرط ده چه دواړه بدلونه د عقد د دواړو خواوو د جدایی ترمخه قبض شی او باید چه عقد د شرط د خیار او تأجیل څخه خالی وی.

**۱۱۳۵ ماده:**

د صرف حکم دا دی چه د عقد دواړه خواوی د بدل مالک کیږی.

**دریم مبحث – دوفاء بیعه**

**۱۱۳۶ ماده:**

د وفاء بیعه عبارت ده د مبیعی د بیرته ردولو د حق لرلو څخه خرڅوونکی ته او د ثمن اخیستونکی ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۱۳۷ ماده:**

دخرڅوونکی او اخیستونکی دبیرته ردولو حق د مودی پوری مشروط او مقید کیدای نه شی، هره نوعه موافقه چه د هغی په خلاف صورت ومومی، باطله ګڼل کیږی.

**۱۱۳۸ ماده:**

د وفا په بیعه کښی اخیستونکی کولی شی د مبیعی د ټولو یا یوی برخی ګټو څخه استفاده وکی مګر نه شی کولی چه مبیعه په بل چا خرڅه کی یا د هغی د رقبی ملکیت په بل یو سبب د سببونو څخه نقل کی.

**۱۱۳۹ ماده:**

خرڅوونکی هغه وخت کولی شی چه د وفأ په بیعی کښی مبیعه خرڅه کی چه اخیستونکی ورڅخه د ثمن د بیرته ردولو غوښتنه وکی او خرڅوونکی بی د مبیعی د خرڅولو څخه د ثمن په اداء کولو قادر نه وی.

**۱۱۴۰ ماده:**

(۱) د وفا په بیعی کښی، مبیعه د بیرته ردولو تروخته پوری د اخیستونکی ملکیت ګڼل کیږی او د ملکیت پوری مربوطی قاعدی په هغی کښی مراعات کیږی.

(۲) د وفاء په بیعی کښی اخیستونکی کولی شی ترهغی پوری د مبیعی څخه د ملکیت استفاده وکی ترڅو چه ورته د خرڅوونکی له خوا، حق رد کړی شی مګر داچه د هغه عمل غش ولری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۱۴۱ ماده:**

(۱) د مبيعی بيرته ردول په داسی رسمی خبرتيا صورت مومی چه د اخيستونکی له خوا صادريږی.

(۲) د خبرتيا د پوره کيدو وروسته د بيعی عقد فسخ کيږی، اخيستونکی په مبيعه د هغه تضميناتو څخه خالی بيرته ردوی چه په هغی يی وارد کړی دی.

(۳) دا خبرتيا په هغه اشخاصو تاثير نه کوی چه ترهغی وروسته يی يو حق په ښه نيت په مبيعه کښی کسب کړي وی، مګر داچه ذکر شوی خبرتيا ثبت شوی وی يا د بيعی د ثبت په حاشيه کښی ورته اشاره شوی وی.

**۱۱۴۲ ماده:**

(۱) که خرڅوونکی د بيرته ردولو د حق څخه استفاده وکی مکلف دی په استثنی د هغه مصرفونو چه د مبيعی د ساتنی دپاره شوي، ثمن، د عقد مصرفونه، د بيرته ردولو د حق د استعمال مصرفونه او نور ضروری مصرفونه چه د اخيستونکی له خوا شوی، ورکی، مګر داچه موافقه د هغی په خلاف وی.

(۲) اخيستونکی کولی شی يوه موده چه په هغی کښی خرڅوونکی ددی مادی د(۱) فقری پيسی حقيقتاً عرضه کی، وټاکی نو که خرڅوونکی د ذکر شوی مودی په اوږدو کښی دا پيسی ورنه کی، اخيستونکی کولی شی چه مبيعه د اداء کولو تروخته پوری د ځان سره وساتی.

**۱۱۴۳ ماده:**

که اخيستونکی په مبيعه باندی ګټور او ضروری مصرفونه کړی وی او د هغی په سبب د مبيعی قيمت لوړ شوی وی، د هغی د غوښتنی حق لری،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو په دی شرط چه ذکر شوی مصرفونه د خرڅوونکی په اجازی شوی وی او اسراف په کښی نه وی شوی.

**۱۱۴۴ ماده:**

که خرڅوونکی د هغه څه چه په ردولو یی مکلف دی اخیستونکی ته رد کی، نو په اخیستونکی لازمه ده مبیعه او کوم زیادت چه په هغی کښی د بیعی د وخته را په دی خوا شوی دی یا هغه څه چه ئی د ذکر شوو پیسو د ردولو د نېټې څخه وروسته قبض کړی دی، خرڅوونکی ته ورکی.

**۱۱۴۵ ماده:**

که مبیعه زراعتی ځمکه وه او خرڅوونکی د زراعتی کال په اوږدو کښی د هغی ردول وغوښتل، که اخیستونکی هغه پخپله کرلی وی، کولی شی چه ذکر شوی ځمکه د لو کولو تر وخته پوری د ځان سره وساتی د هغی مودی په مقابل کښی چه د فسخ کیدو او د لو کولو ترمنځ ده په کوم شی چه عرف حکم کوی هغه به ورکوی.

**۱۱۴۶ ماده:**

که د وفأ په بیعی کښی مبیعه مشترکه حصه وی، او شریکان د اخیستونکی څخه د ذکر شوی عین دتقسیمولودنه امکان دامله دبیعی غوښتنه وکی، نو اخیستونکی مکلف دی چه خرڅوونکی ته د هغه د حق د بیرته اخیستلو دپاره خبر ورکی، که خرڅوونکی د بیرته اخیستلو د حق څخه استفاده ونه کړه، او ټول ذکر شوی عین د مزایدی په اساس د اخیستونکی پوری تعلق ونیسی او ترهغی وروسته خرڅوونکی د هغه څه چه یی خرڅ کړی دی د هغی د بیرته رد ولو اراده وکی، نو اخیستونکی کولی شی چه خرڅوونکی د ټول عین په بیرته ردولو مجبور کی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۱۴۷ ماده:**

که د وفأ په بیعې کښې مبیعه تلف شي او قیمت یې د مطلوب پور سره مساوي وي نو پور ساقطیږي، او که قیمت یې د مطلوب پور څخه کم وو د هغې د قیمت په اندازه پور ساقطیږي، او اخیستونکی به پاتې حصه پور د خرڅوونکی څخه بیرته اخلي.

**۱۱۴۸ ماده:**

که د وفأ په بیعې کښې مبیعه د اخیستونکي سره تلف شي او قیمت ئې د پور د اندازې څخه زیات وي، دهغه دقیمت څخه دپور په اندازه ساقطیږي او اخیستونکی د پاتې زیاتې اندازې په ورکولو مکلف دی.

**۱۱۴۹ ماده:**

اخیستونکی دهغه اساسي تغیرونو چه په مبیعه کښې پخپله د هغه د عمل په اساس یا د بل مسئول شخص د عمل په اساس پیدا کیږي او خرڅوونکي ته ورڅخه ضرر ورسیږي، مسئول ګڼل کیږي.

**۱۱۵۰ ماده:**

که د وفأ په بیعه کښې د عقد د دواړو خواوو څخه کوم یو مړ شو نو د وفأ د بیعې په حکمونو کښې وارثان د هغه قایم مقام کیږي.

**۱۱۵۱ ماده:**

(۱) که د وفأ په بیعې کښې عقاري حیازې ګروي مستوره وي، نو عقد د بیعې په صفت او هم د ګروي په صفت، باطل دی.

(۲) د وفأ بیعه هغه وخت حیازي ګروي ګڼل کیږي چه په هغې کښې د ثمن ردول د ګټې سره شرط شوي وي یا مبیعه په هر صفت چه وي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خرڅوونکی په حیازت کښی پاتی شی. د مستتری ګروی ثابتول د اثبات په ټولو طریقو جواز لری.

### څلورم مبحث – د بل چا د ملکیت خرڅول

**۱۱۵۲ ماده:**

که څوک د بل چا ملکیت بی د هغه د اجازی څخه په بل چا خرڅ کی، بیع منعقد کیږی خو نفاذیی د مالک د اجازی پوری موقوف دی، که ئی د بیعی اجازه ورکړه، نافذه کیږی او که ئی اجازه ورنه کړه نو کولی شی چه د هغی د فسخ کیدو غوښتنه وکی.

**۱۱۵۳ ماده:**

که مالک د بیعی اجازه ورکی نو بیعه د اخیستونکی او خرڅوونکی په حق کی صحیح ده، همدارنګه د عقد څخه وروسته د مبیعی ملکیت خرڅوونکی ته نقل شی، په بیعه کی عقد صحیح ګڼل کیږی.

**۱۱۵۴ ماده:**

که د بیعی په فسخ کیدو حکم صادر شی او اخیستونکی د خرڅوونکی د ملکیت په نشتوالی علم ونه لری، کولی شی چه د خرڅوونکی څخه د خساری جبیره وغواړی که څه هم خرڅوونکی د ښه نیت خاوند وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځم مبحث – د نائب بيعه د خپل ځان دپاره

**۱۱۵۵ ماده:**

(۱) کوم پلار چه په خپل اولاد ولايت ولري، کولی شي چه خپل مال په اولاد يا د خپل اولاد مال د مثل په قيمت د خپل ځان دپاره واخلي.
(۲) نيکه د پلار حکم لري.

**۱۱۵۶ ماده:**

(۱) کوم وصي او قيم چه د محکمې له خوا ټاکل شوی وي نه شي کولی چه خپل مال په قاصر يا په حجر کړه شوي خرڅ کی يا د هغوی مال دخپل ځان دپاره واخلي.
(۲) ذکر شوی وصي او قيم کولی شي چه د قاضي په اجازه داسي کار ته اقدام وکی.

**۱۱۵۷ ماده:**

کوم وصي چه د پلار يا د نيکه له خوا ټاکل شوی وي، نه شي کولی چه خپل مال په قاصر خرڅ کی يا د هغه مال ځان ته واخلي، مګر داچه دا کار د قاصر په ګټه وي او د محکمې په اجازه ئې صورت موندلی وي.

**۱۱۵۸ ماده:**

(۱) کوم دلال او اهل خبری ته چه مالونه ورته د خرڅولو يا د قيمت د ټاکلو دپاره سپارل شوي، نه شي کولی چه هغه پخپل نامه يا پخپل مستعار نامه واخلي.
(۲) کوم شخص ته چه مال تعلق نيولای وي، نو د لازم اهميت لرلو سره د عقد اجازه يې ورکړې وي، عقد صحيح ګڼل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شپږم مبحث – د متنازع فیه حقوقو بیعه

### ۱۱۵۹ ماده:

که څوک د خپل متنازع فیه حق څخه د یوشی په مقابل کی بل چا تـه تیر شی، د نزاع بله خوا کولی شی چه داخیستونکی څخه(متنازع الیه) هغه بیرته واخلی، خو په دی شرط چه اخیستونکی ته د هغه ورکړی شوی ثمن د مصرفونو او قانونی ربحی سره د اداء کولو د وخته څخه بیرته ورکی.

### ۱۱۶۰ ماده:

د پورتنی مادی حکم په راتلونکو حالونو کښی نه شی تطبیقیدلی:

۱ – په هغه حالت کښی چه متنازع فیه حق د داسی مالونو جز وی چه د اټکل په توګه په یوه ثمن خرڅ شوی وی.

۲ – په هغه حالت کښی چه متنازع فیه حق د څو وارثانو یا مالکانو ترمنځ شریک وی او یو شریک خپله حصه پر بل خرڅه کړی وی.

۳ – په هغه حالت کښی چه پور وړی متنازع فیه حق د پور په بدل کښی پورورکوونکی ته پریښی وی.

۴ – په هغه حالت کښی چه متنازع فیه حق په ګرو شوی عقار کی وی او پرهغه چاچه عقار د هغه په حیازت کښی دی خرڅ شوی وی.

### ۱۱۶۱ ماده:

قاضیان، د څارنوالۍ غړی، د حکومت د قضایاوو غړی، د دفاع وکیلان او د محکمو مؤظفین نه شی کولی کوم متنازع فیه حق چه د هغی محکمی د واک په حوزه کښی وی چه هلته وظیفه اجراء کوی، ټول یا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې يوه برخه پخپل نامه يا پخپل مستعار نامه واخلي، او که ئې واخيستلو نو بيعه باطله ګڼل کيږي.

**۱۱۶۲ ماده:**

د دفاع وکيلان په هغه متنازع فيه حقوقو کښې چه د هغې دفاع په غاړه لري نه شي کولی چه دخپل مؤکل سره پخپل نامه يا په مستعار نامه کومه معامله ترسره کي او که ئې داکار وکه نوعقد باطل ګڼل کيږي.

**اووم مبحث – د متروکې بيعه**

**۱۱۶۳ ماده:**

که څوک متروکه بې د هغې د مشتملا تو د تفصيل څخه خرڅه کي، نو يوائې د خپل وراثت په ثابتولو مکلف دی، مګر داچه د هغې په خلاف موافقه شوی وی.

**۱۱۶۴ ماده:**

د متروکې خرڅول د نورو په حقوقو تاثير نه کوی مګر داچه اخيستونکی ټول هغه لازمی اجراآت چه په ترکه کښې د ټولو شاملو حقوقو د نقلولو دپاره ضروری وی، ترسره کړی وی. د عقد د دواړو خواوو د حق د نقلولو د پاره د قانون د حکمونو مراعات هرومرو دی.

**۱۱۶۵ ماده:**

که خرڅوونکی د متروکې ځينې پورونه ترلاسه کی يا د ترکې پورې مربوط ځينې شيان خرڅ کی، اخيستونکی ته د هغې په ردولو مکلف دی، مګر داچه د هغې نه ردول د بيعې په وخت کښې شرط شوی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۱۶۶ ماده:**
اخیستونکی مکلف دی چه کوم پورونه پر ترکی وو او د خرڅوونکی له خوا اداء شوی وی خرڅوونکی ته ورکی، او ټول هغه پورونه او حقوق چه پر ترکه وی د خرڅوونکی سره محاسبه کی، خو په دی شرط چه موافقه په بل ډول نه وی شوی.

**اتم مبحث – د مرګ د رنځ په وخت کښی بیعه**

**۱۱۶۷ ماده:**
که څوک د مرګ د رنځ په وخت کښی یو شی په وارث یا په بل چا د هغی د قیمت څخه په کم ثمن د مرګ په ورځ خرڅ کی، دا عقد په هغه صورت کښی په وارثانو تطبیقیږی چه د قیمت د توپیر اندازه دټولی ترکی ددریمی حصی څخه زیاته نه وی، مبیعه په ټولی ترکی کښی شامله او حسابیږی.

**۱۱۶۸ ماده:**
که د قیمت توپیر د ټولی ترکی دثلث د قیمت څخه زیات وی نو د وارثانو په حق کښی نه نافذیږی، مګر داچه و ارثان هغه قبوله کی یاداچه اخیستونکی دومره اندازه وارثانو ته رد کی چه د ترکی دوه ثلثه پوره کی.

**۱۱۶۹ ماده:**
د مرګ د رنځ د بیعی په عقد کښی هغه حکمونه مراعات کیږی چه د داسی رنځور په تبرع کی د مراعات وړ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۱۷۰ ماده:**

د دریېو پورتنیو مادو حکمونه د دریم شخص په ضرر چه د ښه نیت خاوند وی او د عوض په بدل کی ئی په مبیعی باندی عینی حق کسب کړی وی نه تطبیقیږی.

**نهم مبحث - مقایضه**

**۱۱۷۱ ماده:**

مقایضه عبارت ده د جنس د بیعي څخه په جنس.

**۱۱۷۲ ماده:**

که د مقایضی په عقد کښی یو جنس چه د بل جنس بدل وی د عقد د دواړو خواوو له نظره توپیر لرونکی قیمتونه ولری نو د توپیر داندازي تعویض په نقدو پیسو جواز لری.

**۱۱۷۳ ماده:**

(۱) د مقایضی په عقد کښی هر یو جنس چه یو د بل بدل دی د مبیعی حکم لری په هغی کښی د مبیعی شرطونه مراعات کیږی، که د تسلیمیدلو په باره کښی جګړه پیدا شوه د ذکر شوو جنسونو ورکړه راکړه په یوه وخت کښی صورت نیسی.

(۲) د مقایضی په عقد کښی د عقد دواړه خواوی نسبت هغه څه ته چه یی تسلیم کړی خرڅوونکی اونسبت هغه څه ته چه یی اخیستی دی اخیستونکی ګڼل کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۱۷۴ ماده:**

که د مقایضې په عقد کښې عقد کوونکی یو جنس تسلیم شي او بیا وروسته ورڅخه په استحقاق ویوړ شي او یائې د عیب له امله رد کې، نو کولی شي چه د هغې د بدل جنس د بیرته ردولو غوښتنه وکې یا ئې قیمت د استحقاق د وخت یا ئې د مقایضې د وخت چه د عیب څخه خالي وی د عقد د بلې خوا څخه وغواړي. که په دواړو حالونو کښې قانوني موجبه پیدا شي نو ذکر شوی شخص د خساری تعویض غوښتلی شي.

**۱۱۷۵ ماده:**

د مقایضې د عقد مصرفونه په نیمائی توګه د عقد په دواړو خواوو تحمیلیږي مګر داچه موافقه د هغې په خلاف شوی وی.

## دوه یم فصل
## هبه

### لومړی قسمت– د هبې رکنونه

**۱۱۷۶ ماده:**

هبه عبارت ده د مال د تملیکولو څخه بل چا ته بی د عوضه، او کله کله د عوض په مقابل کښې هم صورت نیسی.

**۱۱۷۷ ماده:**

که څوک د تبرع حق ولری او حجر کړی شوی نه وی کولی شي چه د صحت په حالت کښې خپل ټول ملکیت یا د هغې یوه برخه هرچاته چه یې زړه وغواړي، هبه کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۱۷۸ ماده:**

(۱) هبه بې د هغه چا د قبلولو یا قبضولو څخه چه مال ورته هبه شوی یا د هغه د نایب بې قبلولو یا قبضولو نه پوره کیږی.

(۲) که هبه د هبه کړه شوی د ولی یا د وصی له خوا صورت موندلي وی، هبه کوونکی به د هبی په قبلولو او قبض کولو کښی هم نیابت کوی.

**۱۱۷۹ ماده:**

هبه یو بل ته په ورکولو سره منعقدی شی.

**۱۱۸۰ ماده:**

د هبه شوی عین ملکیت هغه وخت ثابتیږی چه ذکر شوی عین پوره قبض شی، که هبه شوی شی عقار وی د هبی د منعقیدو د پاره په رسمی پاڼی کښی د عقد لیکل هرومرو دی.

**۱۱۸۱ ماده:**

که مال په داسی حالت کښی هبه شی چه د هبه کړه شوی په تصرف کښی وی، نو هبه قبض شوی پیژندل کیږی.

**۱۱۸۲ ماده:**

که پور د پور ورکوونکی له خوا پور وړی ته هبه شی یا له هغی څخه پور وړی ته ابراء وکی او پور وړی دا ابراء رد نه کی، نو د هبی عقد پوره کیږی او پور ساقطیږی. که هبه کړی شوی بې د پور وړی بل څوک وی، نو هبه د هبه کړه شوی د قبض کولو ترمخه یوائی د هبه کوونکی په اجازه نه پوره کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۱۸۳ ماده:**

د هبه شوی شی موجودیت د هبې د عقد په وخت کښې شرط دی، باید چه ټاکلی وی او د هبه کوونکی په ملکیت کښې وی.

**۱۱۸۴ ماده:**

که هبه کړی شوی شی شریک او تقسیمول یې ممکن وی، نو د هغې هبه کول په قبض کولو سره هم د ملکیت افاده نه کوی، مګر په هغه وخت کښې چه هبه کوونکی هغه تقسیم کی او هبه کړی شوی ته یې جلا شوی تسلیم کی.

**۱۱۸۵ ماده:**

که هبه کړی شوی شی شریک وی خو د تقسیمولو امکان یې نه وی، قبضول ئی د ملکیت افاده کوی، خو په دی شرط چه اندازه یې معلومه وی.

**۱۱۸۶ ماده:**

هبه د ټول ژوند د مودی په قید جواز لری، خو په میراث نه وړه کیږی. کومه هبه چه د ټاکلی مودی پوری مقیده وی، جواز نه لری.

**۱۱۸۷ ماده:**

کوم شی چه د معدوم په حکم کښې وی د هغې هبه جواز نه لری.

**۱۱۸۸ ماده:**

هبه د پور ورکوونکو په ضرر جواز نه لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۱۸۹ ماده:**

هبه د هبه کوونکی په مړينی هبه کړی شوی ته د عين د تسليميدو ترمخه، باطله ګڼل کيږی.

**۱۱۹۰ ماده:**

هبه د هبه کړی شوی په مرګ د هبه شوی شی د قبضولو ترمخه باطله ګڼل کيږی او وارثان يی په هغی کښی حق نه لری.

**۱۱۹۱ ماده:**

د مرګ په رنځ کښی د يو چا هبه، د وصيت حکم لری.

**دوه يم قسمت– د هبی حکمونه**

**لومړی مبحث – د هبه کوونکی التزامونه**

**۱۱۹۲ ماده:**

هغه څوک چه ورته مال هبه شوی دی که عين هبه شوی شی تسليم شوی نه وی، هبه کوونکی د هغی په تسليمولو مکلف دی. دتسليميدو په باره کښی د مبيعی پوری دتسليميدلو ټول مربوط حکمونه مراعات کيږی.

**۱۱۹۳ ماده:**

هبه کوونکی د هبه شوی شی د استحقاق وړلو څخه مسئول نه دی، مګر داچه د استحقاق سبب يی عمداً پټ کړی وی، يا دا چه هبه د عوض په مقابل کښی شوی وی. په لومړنی حالت کښی به قاضی هبه کړه شوی شخص ته عادلانه تعويض ټاکی، او په دوهم حالت کښی هبه کوونکی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه څه په اندازې چه د هبه کړه شوي شخص څخه ئې حاصل کړي مسئولیت لري، مګر داچه دا موافقه په بل ډول شوې وي.

**۱۱۹۴ ماده:**

که هبه شوی مال په استحقاق ویوړ شي هبه کړی شوی شخص په حقوقو او دعوو کښې د هبه کوونکي قایم مقام ګرځي.

**۱۱۹۵ ماده:**

(۱) هبه کوونکی د هبه شوي مال د عیب مسئول نه دی.
(۲) که هبه کوونکي عمداً عیب پټ کړی وي یائې د هغې د عیب د نشتوالي تضمین کړی وي، د عیب څخه د پیدا شوي ضرر مسئول دی. که هبه د عوض په بدل کښې وي نو د هبه کوونکي مسئولیت د هبې د عوض د اندازې څخه نه زیاتیږي.

**۱۱۹۶ ماده:**

هبه کوونکی یوائې د عمدي فعل او لوی خطا مسئول ګڼل کیږي.

**دوه یم مبحث – د هبه کړه شوي شخص التزامونه**

**۱۱۹۷ ماده:**

هبه کړه شوی شخص د هغه شي په اداء کولو مکلف دی چه هبه کوونکي د هبه شوي شي په عوض کښې شرط کړی وي، عام له دی چه د عوض اداً کول پخپله د هبه کوونکي یا د بل چا د پاره ټاکل شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۱۹۸ ماده:**

که د هبه شوي شي قیمت د شرط کړه شوي عوض د قیمت څخه کم وي، نو هبه کړه شوي یوائې د هغې اندازې عوض په اداء کولو مکلف دي چه د هبه شوي شي د قیمت معادل شي.

**۱۱۹۹ ماده:**

(۱) که هبه کوونکي د هبې په عوض د خپلو پورونو اداء کول شرط کښېښودي، نو هبه کړه شوي یوائې دهغې اندازې پورونو په اداء کولو مکلف دي چه د هبې ورکولو په وخت کښې موجود وو، مګر داچه موافقه په بل ډول شوي وي.
(۲) که هبه شوي شي په یوه عیني حق د داسې پور په تضمین مستغرق وي چه د هبه کوونکي یا د بل چا په ذمه وي، نو هبه کړه شوي ددې پور په اداء کولو مکلف دي، مګر داچه موافقه په بل ډول شوي وي.

**۱۲۰۰ ماده:**

د هبې مصرفونه په شمول د عقد او محصولونو د مصرفونو د هبه کړې شوي په غاړه دي، مګر داچه موافقه په بل ډول شوي وي.

**دریيم قسمت– د هبې څخه رجوع کول**

**۱۲۰۱ ماده:**

هبه کوونکي کولی شي چه د هبه کړې شوي په موافقه د هبې څخه رجوع وکي، هبه کوونکي به د محکمې څخه د رجوع کولو اجازه اخلي خو په دې شرط چه په معقول عذر مستند وي او د رجوع مانع نه وي پیدا شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۲۰۲ ماده:**

په راتلونکو حالونو کښې د هبې څخه رجوع کول معقول عذر ګڼل کیږي:
۱- په هغه حالت کښې چه هبه کړه شوی خپلې وجیبې د هبه کوونکی په مقابل کښې داسې اخلال کي چه دا اخلال کول د هغه له خوا لویه بې اعتنایي وګڼل شي.
۲ - په هغه حالت کښې چه هبه کوونکی د نفقې د پیدا کولو څخه لکه چه د ده اجتماعي حیثیت یې ایجابوی عاجز شي، یا د هغه چا د نفقې د ورکولو توان ونه لري چه د قانون په حکم ورباندې لازم ده.
۳- په هغه حالت کښې چه د هبې کولو وروسته د هبه کوونکی طفل وزیږیږي او درجوع تر وخته ژوندی وي، یا داچه هبه کوونکی داسې ولد ولري چه د هبې په وخت کښې پری د مړی ګمان کوي، او هغه ژوندی وي.

**۱۲۰۳ ماده:**

که هبه کوونکی عمداً او ناحقه د هبه کړه شوی له خوا په قتل ورسیږي، نو د هغه وارثان کولی شي چه هبه باطله کي.

**۱۲۰۴ ماده:**

د ټولې هبې څخه یا د هغې د یوې برخې څخه رجوع کول جواز لري که څه هم هبه کوونکی خپل حق ساقط کړی وي خو په دې شرط چه لاندې ذکر شوو مادو د موانعو څخه کومه یوه پیدا نه شي.

**۱۲۰۵ ماده:**

که د هبه شوی شي په عین کښې داسې زیاتوالی راشي چه د هغې سره یوځای وي او د هغې د قیمت د زیاتوالي موجب وګرځي، د رجوع کولو مانع کیږي، او که مانع لري شوه نو درجوع کولو حق ورسره عودت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۲۰۶ ماده:**

که د هبې د عقد د دواړه خواوو څخه کوم یو د هبې د قبضولو وروسته مړ شي نو په کښې د رجوع کولو حق ساقطیږي.

**۱۲۰۷ ماده:**

که هبه کړه شوې، شي کښې آخرني تصرف کړی وي، نو د هبه کوونکي رجوع کول جواز نه لري، که ذکر شوی تصرف د هبه شوي شي په یو جزء کې شوی وي نو په پاتې جزء کښې یې رجوع کول جواز لري.

**۱۲۰۸ ماده:**

که هبه د میړه او ښځې ترمنځ شوې وي، نو رجوع کول ورڅخه جواز نه لري، که څه هم د هبې وروسته د هغوی ترمنځ جدایي واقع شي.

**۱۲۰۹ ماده:**

که هبه د محرمو خپلوانو ترمنځ واقع شوې وي په هغې کښې رجوع کول جواز نه لري.

**۱۲۱۰ ماده:**

(۱) که عین هبه شوی شي تلف یا هلاک شي په هغې کښې د رجوع کولو حق ساقطیږي.

(۲) که تلفیدل یا هلاکیدل د ذکر شوي عین په یوې برخه کښې شوي وي نو په پاتې برخه کښې رجوع کول جواز لري.

**۱۲۱۱ ماده:**

که هبې د عوض په بدل کښې صورت موندلی وي په هغې کښې د رجوع کولو حق ساقطیږي، خو په دې شرط چه عوض د هبه شوي شي د یوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخي په مقابل کښې نه وي. که عوض په استحقاق ویوړل شي، هبه کوونکی رجوع کولی شي خو په دې شرط چه په هبه شوي شي کښې داسې زیاتوالی چه د رجوع مانع شي یا بل کوم مانع پیدا نه شي.

**۱۲۱۲ ماده:**

پلار نه شي کولی چه د خپل صغیر زوی د مال څخه د هغې هبې په عوض کښې چه ورته یې کړې څه شی واخلي.

**۱۲۱۳ ماده:**

که هبه د صدقې په صفت یا د خیر په منظور شوې وي په هغې کښې رجوع کول جواز نه لري.

**۱۲۱۴ ماده:**

په هبه کښې رجوع کول د دواړو خواوو په موافقه یا د محکمې په حکم صورت نیسي او د دې رجوع سره عقد باطلیږي. په دې صورت کښې هبه کړه شوي د هبه شوي شي د حاصل شوو ګټو د موافقې تروختـه پورې یا د دعوې د اقامه کیدو تر وخته پورې په ورکولو مکلف دی، هبه کړه شوي شخص کولی شي کوم ضروري مصرفونه چه یې کړي دي دهبه کوونکي څخه وغواړي، مګر ګټور مصرفونه په هغه حالت کښې غوښتلی شي چه دهغې په اثر د هبه شوي شي په قیمت کښې زیاتوالی راغلی وي.

**۱۲۱۵ ماده:**

(۱) که هبه کوونکی هبه شوی مال بې د هبه کړه شوي د رضا یا د محکمې د حکم څخه بیرته تر لاسه کي د هغې د تلفیدو څخه د هبه کړه شوي په مقابل کښې مسئول ګڼل کیږي عام له دې چه د هبه شوي مال تلفیدل د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هبه کوونکی د فعل څخه یا د استعمال په اثر یا په بل کوم باندنی علت پیدا شوی وی.

(۲) که محکمی د هبی په رجوع حکم صادر کړی وی، او موهوبه د تسلیمولو په اخطار وروسته دموهوب له په لاس کښنی تلف شی، موهوب له د موهبی د تلفیدو څخه مسئول دی. که څه هم د هغه د عمل څخه نه وی.

## دریيم فصل
## شرکت

### لومړی قسمت– عمومي حکمونه

### لومړی مبحث – تعریفونه

**۱۲۱۶- ماده:**

شرکت د داسی عقد څخه عبارت دی چه د هغی په موجب دوه یا د دوو څخه زیات اشخاص تعهد کوی چه د یومالی فعالیت په کار اچولو دپاره د یوی اندازی مال په ورکولو، یا د یوکار د سرته رسولو یا په اعتبار په داسی توګه سره شریک شی چه ګټه او خساره به یی ترمنځ د هغی موافقی په اساس چه د دوی ترمنځ شوی، ویشل کیږی.

**۱۲۱۷ ماده:**

شرکت عام له دی چه د مال په ورکولو یا د کار په ترسره کولو یا په اعتبار وی، په دوه ډوله دی:

د مفاوضی شرکت او د عنان شرک.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۲۱۸ ماده:**

د مفاوضې شرکت هغه دی چه شریکان په تصرف، پانګی، ګټی او خساری کښې سره مساوی وی.

**۱۲۱۹ ماده:**

د عنان شرکت هغه دی چه شریکان داسی موافقه وکی چه په تصرف، یا پانګی، یا ګټی یا خساری کښې به سره توپیر لری.

**۱۲۲۰ ماده:**

په اعتبار شرکت هغه دی چه په هغې کښې دوه یا زیات اشخاص د اعتبار په اساس د مال په اخیستلو دنسیه په صورت په داسی توګه موافقه وکی چه مال به خرڅوی او هریو به دیوی ټاکلی حصی څخه مسئول وی، په ګټه او خساره کښې به شریک وی.

**۱۲۲۱ ماده:**

(۱) شرکت د تشکیلیدو سره سم حکمی شخصیت ګڼل کیږی خو په دی شرط چه ثبت او خپور شوی وی. شرکت نه شی کولی چه د ثبتیدو او خپریدو ترمخه په نورو اشخاصو تمسک وکی مګر نور اشخاص په دی شخصیت بی له خپریدو تمسک کولی شی.
(۲) تجارتی شرکتونه د تجارت د قانون د حکمونو تابع دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه یم مبحث - د شرکت عمومی رکنونه**

**۱۲۲۲ ماده:**

د شرکت عقد باید چه لیکلی وی د هغی په غیر اعتبار نه لری. همدارنګه په عقد کښی وارد شوی تعدیل ترڅو چه د عقد شکل نه وی پوره شوی باطل ګڼل کیږی، شریکان نه شی کولی چه په دی باطلیدلو په بل چا تمسک وکی، همدارنګه دا باطلیدل د شریکانو ترمنځ د اعتبار وړنه دی مګر د هغی نیټې څخه چه شریک د باطلیدلو د حکم غوښتنه کړی وی.

**۱۲۲۳ ماده:**

د حصو توپیر جواز لری، حصه د مال ملکیت یا د هغی یواځی ګټه کیدای شی.

**۱۲۲۴ ماده:**

د شریک حصه د هغه د نفوذ یا مالی اعتماد پوری نه شی منحصریدای.

**۱۲۲۵ ماده:**

که د یوه شریک سهم نقدی پیسی وی او هغه ورنه کی د استحقاق د نیټې څخه د هغی د قانونی ګټهو په ورکولو بی له دی چه قضایی غوښتنه یا خبرتیا صورت موندلی وی، مکلف دی. د خپل سهم د وروسته والی له امله د پیدا شوی خساری په ورکولو هم مکلف کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۲۲۶ ماده:**

که د یوه شریک سهمیه د ملکیت حق یا د ګټې حق یا نور عینی حقوق وی د ضمان په باره کښې، د هلاک یا استحقاق یا د عیب د ظاهریدو په مواردو کښې د بیعې حکمونه تطبیقیږی.

**۱۲۲۷ ماده:**

که د یو شریک سهمیه یواځې د مال څخه ګټه اخیستل وی، په هغې کښې د اجارې حکمونه تطبیقیږی.

**۱۲۲۸ ماده:**

که د کوم شریک سهم کار کول وی د هغې خدمتونو په تر سره کولو چه په عقد کښې ئې د هغې تعهد کړی او د هغې څخه د حساب په ورکولو مکلف دی.

**۱۲۲۹ ماده:**

د کار کولو سهمیه د کار په کولو جبیره کیږی، په دی صورت کښې شریک یواځې د شرکت پوری د مربوطو کارونوپه کولو مسئول دی.

**۱۲۳۰ ماده:**

که د یوه شریک سهمیه پور وی نو تعهد ئې هغه وخت اداء کیږی چه پور په ټاکلی مودی کښې شرکت ته ورکول شوی وی، که یی ورنه کړو نو شریک د سهمیی د نه ورکولو په مسئولیت علاوه د مودی د تاخیر په نسبت د تعویض په ورکولو هم مکلف دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۲۳۱ ماده:**

شخص د ګټې په هغې طریقې مستحق کیږي چه په عقد کښې شرط شوی، عام له دی چه د کار کولو یا د مال په بدل کښې وي.

**۱۲۳۲ ماده:**

که د شرکت په عقد کښې په ګټې او تاوان کښې د هر شریک حصه نه وي معلومه شوی د هر شریک د ګټې برخه د هغوی د پانګو د سهمیو په تناسب ویشل کیږي.

**۱۲۳۳ ماده:**

که په عقد کښې یواځې د شریکانو د ګټې برخه ټاکل شوی وي نو د ټاکلی ګټې په اندازه د تاوان په وړلو کښې د اعتبار وړ ګڼل کیږي. همدارنګه که په عقد کښې د هر شریک تاوان ټاکل شوی ؤ د ګټې د ټاکلو په شکل د اعتبار وړ ګڼل کیږي.

**۱۲۳۴ ماده:**

که د شریکانو پانګه یو برابره وه، سره د هغې هم د ګټې په ویش کښې زیاتوالی جواز لري.

**۱۲۳۵ ماده:**

که د یوه شریک سهمیه په کار او عمل کښې منحصره وي نو د هغه دکار ځخه د شرکت د ګټې اخیستلو تابع دی. که شریک په کار کولو علاوه نقدي پیسې یا بل شی ورکی نو یوه حصه د کار کولو په بدل کښې او یوه حصه د هغه شي په بدل کښې چه په کار کولو یې علاوه ورکړی، مستحق کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۲۳۶ ماده:**

(۱) که داسې موافقه وشي چه يو شريک دې په ګټه يا تاوان کښې شريک نه وي د شرکت عقد باطل ګڼل کيږي.

(۲) کوم شريک چه بې د کار کولو په شرکت کښې سهم ونه لري د شريکانو په موافقه د تاوان د حصې څخه هغه وخت معافيدی شي چه د هغه دکار په بدل کښې اجوره نه وي ټاکل شوې.

**۱۲۳۷ ماده:**

د اعتبار په شرکت کښې ګټه او تاوان د هغه مال په تناسب ويشل کيږي، چه هر يوه شريک هغه د شرکت په حساب په نسيه اخيستی او ضامن شوی ئې دی. په دې باره کښې بل رنګه موافقه صورت نه شي موندلی.

**دريم مبحث - د شرکت اداره**

**۱۲۳۸ ماده:**

شريکان يو د بل په مقابل کښې د امين صفت لري، د شرکت مال د يوه شريک سره د امانت حکم لري، نو که مال د شريک د قصور يا تيرې په غير تلف شي، ذکر شوی شريک مسئول نه ګڼل کيږي، مګر د قصور او تيرې په حالت کښې مسئول ګڼل کيږي.

**۱۲۳۹ ماده:**

(۱) د شرکت عقد متضمن دی د اداري طرز العمل نه، د مديره هيأت نوم يا نومونو ته او د ذکر شوی هيأت د هر غړی د واک حدودو ته.

(۲) د پورتنيو مطلبونو درجول په وروستني موافقه کښې جواز لري خو په دې شرط چه د تعديل د قانوني شکل مراعات په کښې شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۲۴۰ ماده:**

(۱) که کوم یو شریک د شرکت د عقد د خاصي تصریح په اساس د شرکت په اداري مؤظف شي نو د شرکت اداري او هغه کارونو ته به دوام ورکوي چه د شرکت په هدفونو کښې شامل دي، خو په دي شرط چه د هغه کارونه او تصرفونه د غش څخه خالي وي، د داسې شریک عزلول د شرکت د دوام تر وخته بې د قانوني اجازي یا د شرکت د عقد د تعدیل څخه جواز نه لري.

(۲) که د ذکر شوي شریک انتخاب په مدیره هیأت کښې د وروسته موافقې په اساس صورت موندلی وي د نورو عادي وکالتونو په شان په هغې کښې رجوع کول جواز لري.

**۱۲۴۱ ماده:**

که څو متعدد اشخاص بې د وظیفي د ټاکلو او د واک د جلا والي څخه د شرکت د اداري په کارونو مقرر شي، نو هریو کولی شي چه په ځانګړې توګه اداري کارونه وکي مګر هریو مقرر شوي د کار دکولو ترمخه په هغې کښې د اعتراض حق لري، دا اعتراض د مقرر شوو غړو د رایو د اکثریت په اساس ردیدلی شي، که د دوی ترمنځ رای مساوي وي نو د ټولو شریکانو د رایو اکثریت ته رجوع کیږي.

**۱۲۴۲ ماده:**

که داسې موافقه شوي وي چه تصویبونه دي د مدیره هیأت د اکثرو رایو په موافقه صورت ومومي د هغې مخالفت جواز نه لري مګر په هغه صورت کښې چه مخالفت د داسې یو عاجل کار د سرته رسولو دپاره وي چه که

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د لاسه لاړ شي نو شرکت ته داسی لوی تاوان رسیږی چه جبیره کولی ئی نه شی.

**۱۲۴۳ ماده:**

که د تصویبونو صادریدل په اکثریت ټاکل شوی وی نو د هغی څخه مقصد د آراوو د عدد اکثریت دی، مګر داچه موافقه د هغی په خلاف شوی وی.

**۱۲۴۴ ماده:**

د مدیره هیأت په غیر نور شریکان په اداری چاروکښی د مداخلی حق نه لری، مګر کولی شی چه د شرکت د دفترونو او سندونو څخه پخپله معلومات حاصل کی، کومه موافقه چه د هغی په خلاف وی باطله ګڼل کیږی.

**څلورم مبحث – د شرکت اثرونه**

**۱۲۴۵ ماده:**

(۱) شریک باید د هر هغه فعالیت څخه چه د شرکت په ضرر وی یا د شرکت د تأسیس د هدفونو مخالف وی ځان وژغوری.
(۲) شریک مکلف دی چه دشرکت د ښیګڼو په تدبیر کښی داسی توجه وکی لکه چه ئی پخپلوشخصي ښیګڼو کښی کوی مګر داچه د اجوری په بدل کښی داداری کارونو دپاره مؤظف شوی وی، په دی صورت کښی نه شی کولی چه دیوه عادی شخص څخه کمه توجه وکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۲۴۶ ماده:**

(۱) که شریک مال یا پیسی د شرکت څخه واخلی یائی د حجز لاندی راوړی د هغی د ګټو په ورکولو داخیستلو یا دحجز د نېټې څخه بی د قضائی غوښتنی یا خبرتیا څخه مکلف دی، د ایجاب په صورت کښی د تکمیلی تعویض په ورکولو هم مکلف کیږی.

(۲) که شریک د شرکت سره د خپل یوی اندازی مال په ورکولو سره مرسته وکی یا په ښه نیت د شرکت د ښیګڼو دپاره ګټور مصرفونه وکی، نو کولی شی چه د ذکر شوو پیسو ګټې د ورکولو د نیټې څخه د شرکت څخه واخلی.

**۱۲۴۷ ماده:**

(۱) که د شرکت مالونه د هغی پورونه نه پوره کوی نو شریکان مکلف دی چه دخپلی حصی د تناسب په اندازی د شرکت په تاوان کښی د خپل شخصی مال څخه پور اداء کی، مګر داچه د شریکانو په موافقه کوم بل تناسب تثبیت شوی وی. د شریکانو دا موافقه چه د شرکت د پورونو مسئولیت نه لری، اعتبار نه لری.

(۲) د شرکت پور ورکوونکی کولی شی چه د هریوه شریک څخه په شرکت کښی د هغه د ګټی د حصی په اندازه د پور غوښتنه وکی.

**۱۲۴۸ ماده:**

(۱) شریکان د هغه څه په باره کښی چه د شرکت د پورونو څخه د دوی په ذمی لازم شوی دی دمتضامن په صفت نه پیژندل کیږی، مګر داچه د هغی په خلاف موافقه شوی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) په هغه صورت کښې چه یو شریک مفلس شي د هغه د پور حصه په نورو شریکانو باندې په تاوان کې د هریوه د حصې دتناسب په اندازې توزیع کیږي.

**۱۲۴۹ ماده:**

که په یوه شریک شخصي پورونه وي، د هغه پور ورکوونکې نه شي کولې ترڅو چه شرکت دوام لرې خپل حق د پوروړي د حصې څخه د شرکت د پانگې څخه و غواړي، مگر د پور ورړي د حصې د گټو څخه دارنگه غوښتنه کولې شي. د شرکت دتصفیې په صورت کښې د پوروړي د حصې د شرکت د پانگې څخه هم غوښتنه کولې شي خو په دې شرط چه د پور د اداء کولو موده پوره شوې وي، سره د دې هم د شرکت د تصفیې څخه ترمخه پور ورکوونکې حق لرې چه د شرکت څخه وغواړي د هغوی د پوروړي په حصې احتیاطي حجز قایم کې.

**پنځم مبحث - د شرکت انحلال**

**۱۲۵۰ ماده:**

شرکت په یوه لاندنې حالتونو کې منحل کیږي:

۱ - د ټاکلې مودې تیریدل.

۲ - د هغې کار ترسره کیدل چه شرکت د هغې دپاره تأسیس شوی.

۳ - د شرکت د ټولې پانگې یا د زیاتې اندازې تلفیدل په داسې توگه چه د هغې په دوام کښې گټه متصوره نه وي.

۴ - د یوه شریک مړینه یا پرهغه د حجر واقع کیدل یا د هغه د افلاس تثبیتیدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵** - که د شرکت د فعالیت موده نه وي تحدید شوی نو د شرکت څخه د یوه شریک وتل خو په دې شرط چه د خپلې ارادې څخه یې د شرکت څخه د وتلو په باره کښې درې میاشتې ترمخه نورو شریکانوته خبر ورکړی وي د هغې په غیر د هغه وتل په غش بنادی او یا په نامناسب وخت کښې ګڼل کیږي، مګر داچه موافقه په بل ډول شوي وي.
۶- په منحلیدلو باندې د شریکانو موافقه.
۷ - په منحلیدو باندې د محکمې حکم.

## ۱۲۵۱ ماده:

(۱) که شریکان داسې موافقه وکې که کوم یو شریک مړ شو نو شرکت دې د هغه د وارثانو سره که څه هم قاصر وي دوام پیدا کې نو دا موافقه جواز لري.
(۲) که شریکانو موافقه وکړه چه که کوم شریک مړ شو یا پرې حجر واقع شو یائي افلاس ثبت شو او یا د شرکت څخه ووتلو. شرکت دې دنورو شریکانو ترمنځ باقي پاتې وي، نو دا موافقه جواز لري. په دې صورت کښې ذکر شوی شریک او د هغه وارثان بې د خپل مال د حصې څخه چه په شرکت کښې یې لري چه د حادثې د ورځې د قیمت په تناسب سنجول کیږي بل کوم حق نه لري، دا اندازه مال ورته نقد ورکول کیږي، د نورو حقوقو څخه چه وروسته پیدا کیږي استفاده نه شي کولی مګر د هغې اجراآتو د نتیجو څخه ګټه اخیستې شي چه د هغه د وتلو د حادثې ترمخه شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۲۵۲ ماده:**

(۱) که د شرکت ټاکلی موده پای ته ورسیږي یا هغه کارونه چه شرکت د هغی دپاره تأسیس شوی ترسره شي خو سره د دی هم شریکان داسی نوعه کارونو ته اقدام وکی چه شرکت د هغی دپاره تأسیس شوی، نو عقد په عین شرطونو کال په کال دوام پیدا کوی.

(۲) د یوه شریک پور ورکوونکی کولی شی چه د پورتنی فقری په دوام اعتراض وکی او د شرکت مرتب آثار د هغی شریک په حصه کښی متوقف کی.

**۱۲۵۳ ماده:**

محکمه کولی شی چه د یوه شریک د غوښتنی په اساس د بل شریک د تعهداتو دنه اداء کولو له امله یا په بل کوم علت دښکاره کړه شوو دلیلونو د معقولیت په کتنه، د شرکت په منحلیدلو حکم صادر کی، هره نوعه موافقه چه د هغی په خلاف وشی اعتبار نه لری.

**۱۲۵۴ ماده:**

(۱) هر شریک کولی شی د محکمی څخه د هغه شریک د ایستلو غوښتنه وکی چه تصرفونه ئي د شرکت منحلیدوته منجر کیږی یا د هغی په تمدید د اعتراض کولو باعث ګرځی او ورسره دی شرکت پخپل حال پاتی شی.

(۲) همدارنګه که د شرکت د فعالیت موده محدوده وی هر شریک کولی شی چه د خپلو ایستلو غوښتنه په معقولو دلیلونو باندی متکی د محکمی څخه وغواړی، په دی صورت کښی شرکت منحل کیږی، مګر داچه نور شریکان د هغی په دوام موافقه وکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شپږم مبحث – د شرکت تصفيه او تقسيم

### ۱۲۵۵ ماده:

د شرکت د مالونو تصفيه اوتقسيم د هغه شرطونو سره سم صورت نيسي چه په عقد کښي ذکر شوی، او که په عقد کښي نه وه ذکر شوی د لاندنيو موادو حکمونه مراعات کيږي:

### ۱۲۵۶ ماده:

د مديره هيأت صلاحيت د شرکت د منحليدو سره يوځای دمينځه ځي، مګر د شرکت شخصيت د يوی لازمی مودی پوری د تصفيي او د تصفيي د پای ته رسولو دپاره دوام کوي.

### ۱۲۵۷ ماده:

(۱) تصفيه د ټولو شريکانو يا د يوه شخص يا څو اشخاصو په وسيلی چه د رايو په اکثريت ټاکل کيږي، صورت مومي.
(۲) که شريکان د رأيو په اکثريت شخص يا اشخاص ونه ټاکي، نو د يوه شريک په غوښتنه د محکمی له خوا ټاکل کيدای شي.
(۳) د شرکت د باطليدلو په حالت کښي محکمه به تصفيه کوونکی شخص يا اشخاص، د واک حدود او د تصفيي طرز العمل، د علاقي لرونکو اشخاصو د غوښتني په اساس ټاکي.
(۴) د تصفيه کوونکی د ټاکلو تروخته مديره هيأت نسبت نوروته د تصفيي د هيأت حکم لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۲۵۸ ماده:**

(۱) تصفیه کوونکی نه شي کولی چه په شرکت کښې نویو کارونو ته اقدام وکي، مګر دا چه ذکر شوی کارونه د پخوانیو کارونو د پوره والي د ضروریاتو څخه وي.

(۲) تصفیه کوونکی کولی شي چه د شرکت مالونه عام له دی چه عقار وي او که منقول د مزایدې په توګه یا یې بې له هغې خرڅ کي، مګر داچه د هغه واک د تاکل کیدو په وخت کښې مقید شوی وي.

**۱۲۵۹ ماده:**

(۱) د شرکت مالونه د معجلو پورونو د ورکولو او د مؤجلو پورونو او د متنازع فیه پورونو د وضع کیدو وروسته او د هغې مصرفونو او قرضونو د اداء کولو وروسته چه د یوه شریک له خوا د شرکت د ښیګڼو دپاره د سره شوی دی، د ټولو شریکانو ترمنځ تقسیمیږي.

(۲) هر شریک ته د هغه د سهم د قیمت معادل چه د شرکت په پانګه کښې یې لري د عقد سره سم تخصیص ورکول کیږي، که په عقد کښې د سهم قیمت نه وي توضیح شوی، نو قیمت د تسلیمیدو له وخته معادله کیږي مګر داچه د شریک سهم د کار په سرته رسولو منحصر وي یا د شرکت د ګټې د پاره د یو شي په ورکولو پوری یا یوائې د ګټې اخیستلو دپاره منحصر وي.

(۳) که د مال څخه یوشی پاتی شي د هر یوه د ربحې په تناسب د شریکانو ترمنځ تقسیمیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۴) په هغه صورت کښې چه د شرکت پاتې مال ددې مادې د لومړۍ فقرې د پيسو د وضع کيدو وروسته د شريکانو حصې پوره نه کې نو تاوان به د شريکانو د موافقې په اساس د تاوان په ويشلو کښې سنجول کيږي.

**۱۲۶۰ ماده:**

د شرکتونو د مالونو د تقسيم په باره کي د شريک مال د تقسيمو لوپوري مربوط حکمونه تطبيقيږي.

## دوه يم قسمت- مختلف شرکتونه

### لومړی مبحث - د مضاربت شرکت

**۱۲۶۱ ماده:**

مضاربت د دوه اشخاصو ترمنځ د داسې شرکت څخه عبارت دی چه يو د سرمايې په ورکولو او بل چه د مضارب په نامه يادېږي د کار په کولو په هغې کښې سهم لرې.

**۱۲۶۲ ماده:**

د پانګې په خاوند کښې د وکيل نيولو اهليت او په مضارب کښې د وکالت اهليت په مضاربت کښې شرط دی.

**۱۲۶۳ ماده:**

پانګه بايد چه نقدې پيسې او معلومې وې او مضارب ته تسليم کړې شي، کوم پور چه د چا په غاړه وی پانګه کيدای نشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۲۶۴ ماده:**

باید چه د دواړو خواوو د ګټې اندازه د یو شریک جزء په صورت وټاکل شي. که ګټه نه وه ټاکل شوې نو په نیمائی توګه ویشل کیږي.

**۱۲۶۵ ماده:**

د مضاربت شرکت د حکمي شخصیت لرونکی کیدای نه شي.

**۱۲۶۶ ماده:**

مضاربت به یا مطلق وي او یا به مقید وي.

**۱۲۶۷ ماده:**

(۱) مطلق مضاربت هغه دی چه د زماني، ځای او معاملي پورې مقید نه وي، او اخیستونکی او خرڅوونکی په کښې نه وي ټاکل شوي.
(۲) مقید مضاربت هغه دی چه د پورتنی فقرې په یو قید مقید شوی وي.

**۱۲۶۸ ماده:**

مضارب د امین او پانګه ورسره د امانت حیثیت لري، مګر د پانګې په تصرفونو کښې د پانګې دخاوند وکیل ګڼل کیږي او په ګټه کښې شریک دی.

**۱۲۶۹ ماده:**

(۱) په مطلق مضاربت کښې د مضارب خرڅول، اخیستل او وکیل نیول جواز لري، مضارب کولی شي لکه چه په تجارت کښې عرف وي په نقدو پیسو یا په نسیه معامله وکي.
(۲) د حوالې قبلول، د مضاربت د مال په ودیعت ایښودل، ګرو اخیستل یا په ګروی ورکول ئې د مضارب له خوا ، همدارنګه په اجارې ورکول، او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



معاملې په منظور د مضاربت د مال نقلول هرځای ته چه وي د مضارب له خوا جواز لري، مضارب نه شي کولی چه يو مال په فاحش غبن واخلي او که يې د اکار وکه نو اخيستل شوی مال د مضارب په حساب محاسبه کيږي.

**۱۲۷۰ ماده:**

په مطلق مضاربت کښې مضارب نه شي کولی د مضاربت مال د خپل مال سره خلط يا يې بل چاته په مضاربت ورکې، مګر داچه ترمخه ورته اجازه ورکول شوې وي. همدارنګه مضارب نه شي کولی چه بې د پانګې د خاوند د صريحې د اجازې څخه د پانګې د اندازې څخه زيات قرض واخلي.

**۱۲۷۱ ماده:**

په مقيد مضاربت کښې مضارب مکلف دی د هغې شرطونو مراعات وکې چه د پانګې خاوند وضع کړې دي. که ئې ورڅخه مخالفت وکړو نو غصبوونکی ګڼل کيږي، د تلف شوي مال مسئول او د ګټې او د تعويض په ورکولو مکلف دی.

**۱۲۷۲ ماده:**

که مضاربت باطل شو نو ګټه د پانګې خاوند پورې تعلق نيسي او مضارب د مثل د اجورې مستحق دی، خو په دې شرط چه د مثل اجوره د ټاکل شوې اجورې څخه زياته نه شي. که ګټه موجوده نه وه نو مضارب د اجورې حق نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۲۷۳ ماده:**

که مضارب په جایزو حالونو کښې د مضاربت مال د خپل مال سره خلط کې، نو ګټه د هریو د پانګې د حصې په تناسب ویشله کیږي، د مضارب د مال ګټه پخپله د مضارب پورې تعلق نیسي، او د مضاربت د پانګې ګټه د هغې شرطونو سره سم چه په عقد کښې پرې موافقه شوې د پانګې د خاوند او د مضارب ترمنځ ویشله کیږي.

**۱۲۷۴ ماده:**

که مضارب د پانګې د خاوند په اجازې د پانګې د اندازې څخه زیاته اندازه ما ل په نسیه واخلي نو دا کار د هغوی ترمنځ د اعتبار شرکت ګڼل کیږي.

**۱۲۷۵ ماده:**

باید چه مضارب او د پانګې خاوند دواړه په ګټه کښې شریک وي. که داسې شرط ایښودل شوي وي چه ټوله ګټه دې د مضارب وي دا عقد قرض ګڼل کیږي او که داسې شرط ایښودل شوي وي چه ټوله ګټه دې د پانګې د خاوند وي نو مضارب د معامله لرونکې په حیث د مثل اجورې په بدل کښې پیژندل کیږي.

**۱۲۷۶ ماده:**

تاوان یوائې د پانګې د خاوند په غاړه دي، مګر داچه مضارب په هغې کښې د ګډون ضمانت کړي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۲۷۷ ماده:**

که د مضاربت یوڅه اندازه مال تلف شي نو د خالصي ګټې څخه جبیره کیږي. که تلف شوی اندازه د ګټې څخه زیاته وه نومضارب یې مسئول نه دی.

**۱۲۷۸ ماده:**

د مضارب د تلو راتلو مصرفونه چه ئي د مضاربت د کارونو د اجراء کولو دپاره کوي، په مناسبې اندازې د مضاربت د مال څخه وضع کیږي.

**۱۲۷۹ ماده:**

(۱) مضاربت په عقد کښې د ټاکلې مودې په پای ته رسیدو یا د عقد د دواړو خواوو څخه د یوه په مړینه او یا د مضارب د اهلیت په د منځه تللو آخرته رسیږي.

(۲) که مضارب د مضاربت د تصفیې ترمخه مړ شي نو د پانګې د خاوند حقوق د هغه د متروکې څخه اداء کیږي.

**۱۲۸۰ ماده:**

د پانګې خاوند مکلف دی په هغه حالت کښې چه د مضارب د عزلیدلو اراده وکي د موضوع څخه خبرتیا ورکي، نو تر هغې وروسته مضارب نه شي کولی چه د مضاربت په مال کښې تصرف وکي، مګر داچه د هغې څخه دا منظور وي چه جنسونه په نقدو پیسو مبادله کي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوه یم مبحث – په کار کښې شرکت

**۱۲۸۱ ماده:**

په کار کښې شرکت دا دی چه دوه یا د هغې څخه زیات اشخاص د یو کار کول یا د یو تعهد د بل چا دپاره په داسې توګه قبول کې چه اجوره دی د هغوی ترمنځ مساوي یا په توپیر سره ویشل کیږي.

**۱۲۸۲ ماده:**

د شریکانو څخه هریو د کار په قبلولو کښې یو د بل وکیل ګڼل کیږي، د کار خاوند کولی شي چه د کار کول د هریوه شریک څخه وغواړي. هرشریک کولی شي چه د اجوري پاتې برخه د کار د خاوند څخه وغواړي. که د کار خاوند اجوره یوه شریک ته ورکې نو بري الذمه ګڼل کیږي.

**۱۲۸۳ ماده:**

یو شریک په یواځې توګه د کار په کولو نه مکلف کیږي، هغه کولی شي چه د نظر لاندې کار یو بل شریک ته د شریکانو په غیر بل چاته وسپاري مګر داچه د کار خاوند د کار کول د یو ټاکلي شریک په وسیله شرط کړي وي.

**۱۲۸۴ ماده:**

د شریکانو ترمنځ ګټه په داسې توګه ویشل کیږي چه په هغې موافقه شوې وي. د کار په کولو او اجوري کښې د مساوات او توپیر شرط ایښودل جواز لري.

**۱۲۸۵ ماده:**

شریک چه څرنګه د کار تضمین وکړو د ګټې مستحق ګڼل کیږي که څه هم په عمل کښې یې کوم کار نه وي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۲۸۶ ماده:**

که د کار موضوع د یوه شریک د عمل په اثر تلف یا عیب جنه شي د کار خاوند کولی شي هر شریک چه ئی زړه وغواړي په تعویض ورکولو ئی مجبوره کی. تاوان د هر شریک د تضمین په اندازی د هغوی ترمنځ ویشل کیږي.

**۱۲۸۷ ماده:**

څو تنه د شریکانو څخه کولی شي چه د کار په شرکت کښي، د ځای برابرول او ځیني نور د کار د وسیلو برابرول او د کار کول په غاړه واخلي.

## څلورم فصل
## قرض

**۱۲۸۸ ماده:**

قرض د داسي عقد څخه عبارت دی چه د هغي په موجب د عقد د دواړو خواوو څخه یو د نقدو پیسو یا د یوه عین ملکیت چه مثلي وی بلي خوا ته نقل کي چه بل طرف د هغي مثل په نوعي، اندازي، او صفت کښي دټاکلي مودي وروسته قرض ورکوونکي ته رد کي.

**۱۲۸۹ ماده:**

(۱) قرض اخیستونکی د قبضولو وروسته د شي مالک کیږي، د هغي مثل ئی په ذمه ثابتیږي نه عین که څه هم موجودوی. قرض ورکوونکی نه شي کولی چه اخیستونکی د ټاکلي مودي د رسیدو ترمخه د مثل په ردولو مکلف کي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) که شی د عقد څخه وروسته او د قبضولو ترمخه تلف شی، قرض اخیستونکی ضامن نه ګڼل کیږی.

**۱۲۹۰ ماده:**

(۱) کوم شی چه په قرض اخیستل شوی که په کښی پټ عیب ظاهر شی او قرض اخیستونکی د هغی د رد ولو اراده ونه کی نو یوائی د شی د قیمت په رد ولو د عیب په حالت کښی مکلف کیږی.

(۲) که قرض ورکوونکی عیب په قصد سره پټ کړی وی، قرض اخیستونکی کولی شی چه د عیب د اصلاح کولو غوښتنه وکی او یایی په سالم شی د بدلولو تقاضا وکی.

**۱۲۹۱ ماده:**

که شی په استحقاق ویوړ شی په هغی کښی د بیعی حکمونه او که نه نو د عاریت حکمونه مراعات کیږی.

**۱۲۹۲ ماده:**

قرض اخیستونکی د کمیت او کیفیت له لحاظه د شی د مثل په ردولو او په هغه وخت او ځای کښی چه پری موافقه شوی، مکلف دی. که ترمخه د ردولو وخت او ځای نه وی ټاکل شوی، قرض اخیستونکی کولی شی هروخت چه یی زړه وغواړی هغه د عقد په ځای کښی بیرته ورکی.

**۱۲۹۳ ماده:**

که قرض په پیمانی کیدونکو، یا وزن کیدونکو شیانو، یا په مسکوکاتو او یا په بانکنوټ صورت موندلی وی، قرض اخیستونکی د هغی په مثل مکلف دی که څه هم نرخ کښته یا پورته شوی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۲۹۴ ماده:**

که د هغه شي مثل چه په قرض اخیستل شوی دی د استهلاک څخه وروسته په بازار کښي نایابه شي، نوقرض ورکوونکی کولی شي چه په بازار کښي د هغي د مثل د پیدا کیدو تروختنه پوري انتظار وکي او د قبض کولو د ورځي قیمت وغواړي.

**۱۲۹۵ ماده:**

په قرض کښي ګټه جواز نه لري، مګر داچه قانون بل رنګه تصریح کړي وي.

**۱۲۹۶ ماده:**

که حجر کړی شوی یو شي په قرض واخلي او استهلاک یي کي په هغي اندازي چه ورڅخه استفاده شوي ضامن ګڼل کیږي، که ذکر شوی مال پخپله تلف شي نو قرض اخیستونکی ئی ضامن نه دی، او که مال په عیب جن شکل پاتي وي نو قرض ورکوونکی هغه بیرته اخیستی شي.

## پنځم فصل
## صلحه

### لومړی قسمت- عمومي حکمونه

**۱۲۹۷ ماده:**

صلحه یو عقد دی چه جګړه لری کوی او د دواړو خواوو د رضائیت په اساس خصومت پری کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۲۹۸ ماده:**
(۱) د صلحې په عقد کښې شرط ده چه د کوم حق څخه چه صلحه پیدا کیږي پخپله د صلحې کوونکي حق وي او ثابت وي او د داسې ځای پورې مربوط وي چه د هغې په منظور صلحه صورت مومي او د هغې څخه د تعویض اخیستل جواز ولري.
(۲) د صلحې په مقابل کښې د بدل اخیستل جواز نه لري.

**۱۲۹۹ ماده:**
(۱) د صلحې بدل مملوکه مال، قیمت لرونکې چه تسلیمول یې ممکن وي او یا گټه، تاکل کیدای شي.
(۲) د صلحې بدل په هغه صورت کښې چه د قبضولو اوتسلیمیدو ایجاب وکي، نو باید چه معلوم وي.

**۱۳۰۰ ماده:**
د صلحې عقد کوونکی باید چه د تصرف داهلیت لرونکی په هغې حقوقو کښې وي چه صلحه ورته شاملیږي.

**۱۳۰۱ ماده:**
په تجارت باندې مأذون صغیر کولی شي چه د خپل پوروړي سره په هغه پور کښې چه وربانډې قضائي حکم صادر شوی نه وي او د هغې د ثابتولو دپاره شاهد هم موجود نه وي یا په هغې پور کښې چه په مفلس پوروړي ثابت وي، صلحه وکي. همدارنگه هغه کولای شي چه د تاکلې مودې په مینځ کښې د پور د تأجیل په هکله له پور وړي سره صلح وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۳۰۲ ماده:**

(۱) د قاصر ولي او وصی نه شي کولی د هغه پور په باره کښې چه قاصر ئي په بل چا لري او پور ورې په هغې معترف وي، یا د محکمې په حکم ثابت وي یا د هغې د ثابتولو دپاره شاهد موجود وي د پور ورې سره صلحه وکی، مگر په هغه صورت کښې چه ذکر شوي پور د ولي یا د وصی د عقد په اثر پیدا شوي وي، چه په دي صورت کښې ولي یا وصی د پور په اندازي د قاصر په مقابل کښې ضامن گڼل کیږي. که صلحه د بل مال په بدل کښې شوي وي په هغه صورت کښې چه د مال قیمت د پور معادل یا یو څه اندازي ترهغې کم وي جواز لري. مگر که په کښې فاحش غبن وو جواز نه لري.

(۲) که ولي یا وصی د ټول پور د نه ثابتولو څخه ویره لرله، په داسې ډول چه شاهد موجود نه وي او منکر پوره ورې قسم خوړلو ته حاضر شي د محکمې د اجازې وروسته د پور په یوې برخې صلحه کولی شي.

**۱۳۰۳ ماده:**

که په ممیز صغیر باندې د پور دعوی اقامه شي او مدعی دخپلې دعوی د ثابتولو دپاره شاهد ولري، نو وصی او ولي د محکمې په اجازې کولی شي چه په یوشي باندې صلحه وکی او پاتي نور پور ورکی. که مدعی شاهد ونه لري ولي یا وصی صلحه نه شي کولی.

**۱۳۰۴ ماده:**

په جگړې کولو وکیل صلحه نه شي کولی. که څوک په جگړې کولو په یوې دعوی کښې وکیل شوي وي او د خپل مؤکل د اجازې په غیر صلحه وکی، د هغه دا صلحه صحیح نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۳۰۵ ماده:**

که څوک د یوه ټاکلی عین مدعي وی او مدعی علیه پری اقرار وکی. نو که مدعی د یوی ګټی په بدل کښی د یوی ټاکلی مودی دپاره صلحه وکی، دا صلحه صحیح ده او د اجاری حکم لری. که په ټاکلی مودی کښی د ننه د صلحی د موضوع شی د مینځه لاړ، نو صلحه باطلیږی.

**۱۳۰۶ ماده:**

که څوک د یوه ټاکلی عین مدعی وی او مدعی علیه پری اقرار وکی د هغی ځخه د یو ټاکلی مال په بدل کښی صلحه صحیح ده او دا صلحه د بیعی حکم لری.

**۱۳۰۷ ماده:**

که څوک د بل چا په لاس کښی عین باندی عام له دی چه معلوم وی یا مجهول دعوی وکی او بل طرف د مدعی په لاس کښی عین باندی دعوی وکی، صلحه په هغه څه چه د یو او بل په لاس کښی دی صحیح ده او دا صلحه د مقایضی حکم لری. د داسی نوعی صلحي صحت په دواړو عوضونو د علم په صحت پوری موقوف نه دی.

**۱۳۰۸ ماده:**

که مدعی د دعوی کړی شوی شی په یوی برخه د مدعی علیه سره صلحه وکی دا نوعه صلحه د یوی برخی د حق د اخیستلو او د بلی برخی د ساقطیدلو معنی لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۳۰۹ ماده:**

که صلحه په هبې، بیعې یا بل عقد محتوی وي د همغې عقد حکمونه چه دهغې په باره کښې صلحه شوې د صحت او په هغې باندې د مرتبو آثارو له حیثه، مراعات کیږي.

**۱۳۱۰ ماده:**

صلحه د شخصي حالونو او عمومي نظام پورې په مربوطو مسألو کښې جواز نه لري، مګر صلحه د هغې مالي حقوقو څخه چه په شخصي حالونو مرتب شوي یا د جرم د ارتکاب څخه پیدا شوي وي جواز لري.

**۱۳۱۱ ماده:**

صلحه بې له دې چه په لیکلې توګه وي یا په رسمي محضر کښې ثبت شوې وي، نه شي ثابتیدلې.

**دوه یم قسمت- د صلحې آثار**

**۱۳۱۲ ماده:**

صلحه چه کومو منازعاتو ته شامله وي هغه پرې کوي، او د دواړو خواوو څخه هیڅ یو حق نه لري چه ورڅخه رجوع وکي.

**۱۳۱۳ ماده:**

که صلحه په غوښتل شوې صورت تر سره شي دعوی متوقف کیږي او د صلحې بدل د مدعي په ملکیت کښې داخلیږي، او مدعی علیه د هغې د بیرته اخیستلو حق نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۳۱۴ ماده:**

(۱) که د صلحی بدل مثلی شیان او د دعوی کړی شوی شی د جنس څخه وی او مدعی ته د تسلیمیدو ترمخه ټول یا یوه برخه یی تلف شی او یا په استحقاق ویوړ شی نو صلحه پخپل حال پاتی کیږی او مدعی علیه په مثل د هغه څه چه تلف شوی، مکلف کیږی عام له دی چه صلحه د مدعی علیه د اقرار څخه وی یا د هغه د انکار څخه او یا یی د سکوت څخه وی.

(۲) که د صلحی بدل غیر مثلی شیان وی او د تسلیمیدو ترمخه ټول یائی یوه برخه تلف یا په استحقاق ویوړ شی، که صلحه د اقرار څخه شوی وی نو مدعی د دعوی کړی شوی شی په ټول یا یوی برخی په ورکولو مکلف دی او که صلحه د مدعی علیه د انکار یا سکوت څخه شوی وی نو جګړی ته به رجوع کوی.

**۱۳۱۵ ماده:**

صلحه نسبت هغی حقوقو ته چه ورته شامله ده د کشفوونکی اثر لرونکی ده او ایجادوونکی نده، او دا اثر یوائی د نزاع د موضوع په حقوقو کښی منحصر دی.

**۱۳۱۶ ماده:**

د صلحی عبارتونه باید چه په محدود صورت تفسیر شی او موضوع شاملی نزاع ته منسوب وی.

**۱۳۱۷ ماده:**

که صلحه د معاوضی د حکمونو تابع وی نو دواړه خواوی ورڅخه اقاله کولی شی په هغی صورت کښی دعوی کړی شوی شی د مدعی پوری او د صلحی بدل د مدعی علیه پوری تعلق نیسی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۳۱۸ ماده:**

که صلحه د ځینو حقوقو د ساقطیدو متضمنه وه، نواقاله په کښې جواز نه لري.

## دریم قسمت د صلحې باطلیدل

**۱۳۱۹ ماده:**

د قانون د فهم د غلطی په سبب پر صلحه اعتراض کول جواز نه لري.

**۱۳۲۰ ماده:**

صلحه په راتلونکو حالونو کښې باطله ګڼل کیږي:

۱- صلحه په اقالې، د صلحې د بدل په ردولو، دعیب او د لیدلو په خیار، د دواړو د بدلونو څخه د یوه په استحقاق وړلو سره باطلیږي.

۲ - په هغه حالت کښې چه په کومو پاڼو کښې صلحه په هغې بنأ شوی، تزویر ثابت شي.

۳ - په هغه حالت کښې چه صلحې ته شاملې موضوع کښې ترمخه د محکمې قطعی حکم صادر شوی وی، او دواړه خواوی او یا د هغوی څخه یوه خوا د ذکر شوی حکم په صادریدلو علم و نه لري.

**۱۳۲۱ ماده:**

صلحه تجزیه نه قبلوی، د صلحې د اجزاوو څخه د یوه جزء باطلیدل د ټولې صلحې د باطلیدلو سبب کیږي مګر داچه د عقد د متن یا د حالونو څخه دارنګه ظاهره شي چه د عقد دواړو خواوو د عقد د اجزاوو په استقلال یو د بل څخه، موافقه کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوه یم باب
# د ګټې اخیستلو عقدونه

## لومړی فصل
## اجاره

### لومړی قسمت - عمومي حکمونه

### لومړی مبحث - د اجارې رکنونه

**۱۳۲۲ ماده:**

د اجاری عقد عبارت دی د هغه عین د ګټې د تملیکولو څخه چه په اجاره ورکول کیږی، د عین د ګټو تملیکول د اجاری ورکوونکی په وسیله، اجاری اخیستونکی ته په داسی عوض صورت مومی چه دبدل قابلیت ولری.

**۱۳۲۳ ماده:**

د اجاری عقد د منقولو او نا منقولو اعیانو په ګټو او همدارنګه په جایز کار منعقدی شی.

**۱۳۲۴ ماده:**

د اجاری په عقد کښی د عقد د صحت په عمومی شرطونو علاوه د هغه عین ټاکل چه په اجاری ورکول کیږی، او د هغی څخه د ګټی اخیستلو ذکر په داسی توګه چه منازعی ته ونه رسیږی، د ګټی اخیستلو د مودی بیان او د اجوری اندازه شرط ده، د هغی په غیر د اجاری عقد فاسد ګڼل کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۳۲۵ ماده:**

که څوک يوائې د مال د اداري واک ولري، نونشي کولی چه د اجاري موده د دري کلونو څخه زياته وټاکی، که د اجاري موده د دري کلونو څخه زياته ټاکل شوی وه، دري کلونو ته راکميږي، مګر داچه قانون بل رنګه حکم کړی وي.

**۱۳۲۶ ماده:**

د فضولي د اجاري عقد د مالک د اجازي پوري موقوف دی، که مالک قاصر يا حجر کړی شوی وو نو د اجاري د عقد منعقيدل د ولی يا وصی يا قيم د اجازي پوري موقوف دی.

**۱۳۲۷ ماده:**

د دی قانون (۱۳۲۶) مادی د درج شوی عقد اجازه هغه وخت صحيح ګڼله کيږي چه د عقد دواړه خواوي او په کوم شي چه عقد شوی موجود وی او د اجاري بدل د نقدو پيسو په غير بل شی وی.

**۱۳۲۸ ماده:**

(۱) هغه عين چه په اجاري ورکول کيږي د هغی په باره کښي د شرط، د ليدلو او د عيب د خيارونو پوري مربوط حکمونه مراعات کيږي.
(۲) د اجاري د بدل په باره کښي د جدايي خيار، د صفقي عقد، د ثمن صفت، د غبن، د تغرير وصف، د خيانت او د ټاکلو پوري مربوط حکمونه مراعات کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۳۲۹ ماده:**
که هر یوه اجاری ورکوونکی او اجاری اخیستونکی ته خیار شرط شوی وه نو که هریو د شرط په مودی کښې د ننه داجاری عقد فسخ که، فسخ کیږی، او که هریو د عقد اجازه ورکړه د هغه دخیار حق ساقطیږی، او د بل خیار، د مودی د تیریدو تر وخته پوری پخپل حال پاتی کیږی.

**۱۳۳۰ ماده:**
د خیار موده د عقد له وخته او د اجاری موده د خیار د ساقطیدو له وخته پیل کیږی، مگر داچه موافقه په بل ډول شوی وی.

**۱۳۳۱ ماده:**
د شریکی حصی اجاره، شریک ته او هم بل چا ته جواز لری.

**۱۳۳۲ ماده:**
که عین د عقد څخه وروسته شریک شی عقد نه فاسده وی.

**دوه یم مبحث – هغه عین چه په اجارې ورکول کیږی**

**۱۳۳۳ ماده:**
(۱) د هغه عین اجاره چه ورڅخه گټه اخیستل بی د عین د مینځه تللو څخه ممکنه نه وی، جواز نه لری.
(۲) په کار کولو اجاره هغه وخت جواز لری چه کار روا وی او اجیر د قانون له حیثه د هغی په کولو مکلف نه وی.
(۳) د هغی شی اجاره چه گټه اخیستل ورڅخه په حقیقی یا حکمی توگه ناممکن وی، باطله ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۳۳۴ ماده:**

که عین د هغه چا له خوا چه د هغی د ګټی مستحق دی په اجاری ورکول شو، نو که د ګټی اخیستلو د حق موده تیره شوه او د عین مالک اجازه ورنه کړه، اجاره پای ته رسیږی. خو په دی شرط چه د تخلیه کولو د خبرتیا ټاکلی موده او د کرهڼی د ځمکی د حاصلاتو د نقلولو دپاره لازمه موده مراعات شی.

**۱۳۳۵ ماده:**

اجاره اخیستونکی د ټاکلی مودی په اوږدو کښی د لیدلو د خیار حق لری، اما اجاره ورکوونکی که د اجاری ورکولو ترمخه عین نه وولیدلی نو د لیدلو د خیار حق نه لری.

**۱۳۳۶ ماده:**

که څوک داسی عین په اجاری واخلی چه ترمخه ئي لیدلی وی نو د خیار حق ئی ساقطیږی، مګر داچه ذکر شوی عین د پخوانی حالت څخه تغییر کړی وی.

**۱۳۳۷ ماده:**

د اجاری اخیستونکی د لیدلو د خیار حق په راتلونکو حالونو کښی ساقطیږی:

۱ - د عقد په وخت کښی د اجاری اخیستونکی په دی اقرار چه کوم شی په اجاری ورکول کیږی مالیدلی دی.

۲ - د عقد په وخت کښی داسی صفت چه د لیدلو قایم مقام کیدای شی، او چه د عین ثابتول په ذکر شوی صفت کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ - په هغی حالت کښی چه د اجاری اخیستونکی څخه داسی قول یا فعل صادر شی چه خیار باطلوی.
۴ - د یو کافی وخت تیریدل چه په هغي کښی اجاره اخیستونکی د عین په لیدلو قدرت پیدا کولو(که څه هم هغه ئی نه وی لیدلی).
۵ - د اجاری اخیستونکی د مړینی په حالت کښی.

**دریيم مبحث - اجوره**

**۱۳۳۸ ماده:**

(۱) اجوره نقدی پیسی، مال، ګټه یا جایز تعهد ټاکل کیدای شی.
(۲) که په مسمی شوی اجوري کې فاحش غبن شوی وو نو په مثلی اجوری تعدیلیږی. د مثلی اجرت ټاکل د واک لرونکو مراجعو له خوا او یا د محکمی په حکم صورت مومی.

**۱۳۳۹ ماده:**

د اجوری نوی والی د هغه عین د استعمال سره سم چه په اجاری ورکول کیږی جواز لری.

**۱۳۴۰ ماده:**

اجوره د ګټی په حاصلیدلو او یا په هغی قادریدلو لازمیږی.

**۱۳۴۱ ماده:**

د اجوری تعجیل او تأجیل او په ټاکلو وختونو کښی دننه د قسطونو په صورت د هغی ورکول جواز لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۳۴۲ ماده:**

که د اجورې په ورکولو کښې تعجيل شرط شوی وو نواجاره اخيستونکی مکلف دی چه هغه د عقد په وخت کښې ورکې او اجاره کوونکی کولی شي چه د اجورې د تسليميدو تر وخته پورې د عين د تسليميدو څخه ځان وژغوري.

**۱۳۴۳ ماده:**

که د اجورې تأجيل شرط شوی وو، نو که عقد د اعيانو په ګټهو شوی وو، اجاره ورکوونکی مکلف دی چه عين اجاره اخيستونکی ته تسليم کې، په دې صورت کښې اجوره د مودې د رسيدو ترمخه نه لازميږي.

**۱۳۴۴ ماده:**

بې له دې چه د اجورې د کميت او کيفيت په باره کښې د اجارې ورکوونکی له خوا موافقه شوې وي، که په اجارې اخيستونکی هغه عين چه په اجارې ورکول کيږي قبض کښې او ګټه ور څخه واخلې نو وربانده مثلی اجوره لازميږي.

**څلورم مبحث – موده**

**۱۳۴۵ ماده:**

د اجارې موده د هغې نېټې څخه چه په عقد کښې ټاکل شوې پيل کيږي، او که نه وه ټاکل شوې نو د عقد د نېټې څخه اعتبار لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۳۴۶ ماده:**

که په عقد کښې د اجارې موده نه وي تصريح شوې نو اجارې ته د اجورې د ورکولو د ټاکلې مودې دپاره د جارې عرف سره سم د اجارې په عين مورد کښې اعتبار ورکول کيږي، ددې مودې په پای ته رسيدو سره اجاره آخرته رسيږي، خو په دې شرط چه د ټاکلې مودې د اجورې د ورکولو د آخر نيمائی ترمخه د تخليې په باره کښې خبرتيا صورت موندلې وي.

## دوه يم قسمت- داجارې آثار

**۱۳۴۷ ماده:**

اجاره ورکوونکی وروسته له دې چه هغه ته ټاکلې اجوره چه تعجيل ئې شرط ايښودل شوی قبض کی، نو مکلف دی هغه عين چه په اجاره ورکول کيږي د هغې د نورو ملحقاتو سره اجارې ورکوونکي ته د پخواني موافقې سره سم په داسې توګه چه د هغې څخه د ګټې حاصلولو قابليت د اجارې د مورد د عين د طبيعت سره سم ممکن وي، تسليم کی.

**۱۳۴۸ ماده:**

(۱) که هغه عين چه په اجاره ورکول کيږي په داسې حالت کښې تسليم کړی شي چه د اجارې د عقد له نظره د ګټې اخيستلو قابليت ونه لري او يا د هغې څخه د ګټې اخيستل د لوی نقصان سره يوځای وي، نو اجاره اخيستونکی کولی شي چه د عقد د فسخ کيدو يا په ګټې اخيستلو کښې د نقص په اندازې د اجورې د کموالي غوښتنه وکی.

(۲) اجاره اخيستونکی په دواړو پورتنيوحالونو کښې کولی شي چه د اقتضاء سره سم د تعويض غوښتنه وکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۳۴۹ ماده:**

که هغه عین چه په اجاری ورکول کیږی په داسی حالت کښې وی چه دهغی له پلوه داجاری اخیستونکي صحت یا د هغه اشخاصو صحت چه د هغه سره یوځای ژوند کوی یا د هغه د مستخدمینو او کارګرانو صحت د لوی خطر سره مخامخ شی نو اجاره اخیستونکی کولی شی چه د عقد د فسخ کولو غوښتنه وکی، که څه هم ترمخه د دی حق څخه تیر شوی وی.

**۱۳۵۰ ماده:**

هغه عین چه په اجاری ورکول کیږی د هغی د تسلیمیدو د التزام په باره کښې هغه حکمونه مراعات کیږی.چه د عین مبیعې د تسلیمیدود التزام په باره کښي مراعات کیږي.

**۱۳۵۱ ماده:**

اجاره ورکوونکی په عین اجاره ورکول شوی شی د هغی نقصانونو په اصلاح کولو او ترمیمولو مکلف دی چه د هغه څخه د مقصودی ګټی اخیستلو داخلال باعث کیږی.

**۱۳۵۲ ماده:**

(۱) که اجاره ورکوونکی د دی قانون د (۱۳۵۱) مادی د درج شوی اصلاح کولو او ترمیمولو څخه ځان وژغوری نو اجاره اخیستونکی کولی شی چه اجاره فسخ کی یا پخپله د محکمی د اجازی وروسته د هغی اصلاح کولو او ترمیمولو ته اقدام وکی او بیا د مصرف د اندازی په تناسب اجاری ورکوونکی ته رجوع وکی او یا یی د اجوری څخه وضع کی.

(۲) اجاره اخیستونکی کولی شی د اجاری په عین مورد کښې بې د محکمی د اجازی څخه عاجل او بسیط ترمیمونه وکی او دا په هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



صورت کښې چه په اجاره ورکوونکي د خبرتیا وروسته په مناسب وخت کښې هغه نه وي ترسره کړي. اجاره اخیستونکي به د اصلاح کولو او ترمیمولو مصرفونه د مصرف د سندونو سره سم د اجوري څخه وضع کوي.

**۱۳۵۳ ماده:**

هغه عین چه په اجاره ورکول کیږي د هغې د محصول او مالیي تکلیفونه د اجاري ورکوونکي په غاړه دي. اوبه او بریښنا اونور هغه څه چه د شخص د استعمال پوري مربوط وي د اجاري اخیستونکي په غاړه دي، مګر داچه د هغې په خلاف موافقه شوي وي.

**۱۳۵۴ ماده:**

(۱) که عین اجاره شوی شی د اجاري د مودي په اوږدو کښې پوره د مینځه لاړشي، اجاره د خپله ځانه فسخ کیږي.
(۲) په هغه صورت کښې چه د عین یو جزء د مینځه تللي وي یا عین په داسي حالت کښې قرار ونیسي چه د اجاري د عقد څخه د قصد کړه شوي ګټي د اخیستلو قابلیت ونه لري یا ګټي اخیستلو ته داسي لوی نقصان ورسیږي چه په هغې کښې اجاره اخیستونکي قصور ونه لري، نو که اجاره ورکوونکي په مناسب وخت کښې لومړني حالت ته د هغې اعاده کولو ته اقدام ونه کي، اجاره اخیستونکي کولي شي د حالونو سره سم د اجوري د کموالي یا د اجاري د فسخ کیدو غوښتنه وکي. بې له دي چي په اصلاح کولو او ترمیمولو کي د هغه د اقدام حق ددي قانون د (۱۳۵۲) مادي د درج شوي حکم سره سم اخلال کي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳) ددې مادې په دواړو پورتنیو حالتونو کښې که اجاره ورکوونکي د عین د مینځه تللو یا نقصان کښې قصور و نه لرې نو اجاره اخیستونکې نه شي کولی د تعویض غوښتنه وکي.

**۱۳۵۵ ماده:**

اجاره اخیستونکی نه شي کولی چه اجاره ورکوونکي د هغې عاجلو ترمیمونو د اجراء کولو څخه منعې کې چه د عین د ساتنې دپاره ضروري وي، که د داسې کارونو اجراء کول د ګټې داخیستلو د اخلال باعث شي نو اجاره اخیستونکې کولی شي چه د اجارې د فسخ کیدو یا د اجورې د کموالي غوښتنه وکي. په هغه صورت کښې چه اجاره اخیستونکي د ذکر شوو کارونو تر پایه پورې په عین اجاره شوې کښې پاتې شي نو د هغه حق د اجورې د کموالي او د فسخ کیدو په غوښتنه کښې ساقطیږي.

**۱۳۵۶ ماده:**

اجاره ورکوونکی نه شي کولی چه داجارې په مودې کښې داجارې اخیستونکي د هغې شي څخه په ګټو اخیستلو تعرض وکي چه په اجارې ورکول شوی دی او یا په هغې کښې داسې تغییر راوړي چه د عین څخه د ګټې اخیستلو د اخلال باعث شي چه اجاره د هغې په اساس عقد شوې ده.

**۱۳۵۷ ماده:**

اجاره ورکوونکی نه یوائې د هغې اعمالو ضامن ګڼل کیږي چه د هغه له خوا یا د هغه د مربوطینو له خوا کیږي بلکه د هر هغه تعرض څخه چه د قانوني سببونو په اساس بل اجاره اخیستونکي یا بل کوم شخص چه په اجاره شوې عین باندې ئې د هغه څخه حق کسب کړي هم ضامن ګڼل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۳۵۸ ماده:**

که بل څوک د داسی حق دعوی وکی چه د اجاری اخیستونکی د حقوقو سره متعارض واقع شی نو اجاره اخیستونکي مکلف دي چه اجاره ورکوونکي ته د دعوی د مقابلی په غرض خبرتیا ورکی. که د دعوی په نتیجی کښی اجاره اخیستونکی د عین د ګټی اخیستلو څخه محروم شی، نو کولی شی چه اجاره فسخه کی او داقتضاء سره سم د تعویض غوښتنه هم وکی.

**۱۳۵۹ ماده:**

(۱) که هغه عین چه په اجاره ورکول شوی دی غصب شی او اجاره اخیستونکی د دی توان ونه لری چه د غصبوونکی لاس د هغی څخه پورته کی، نو کولی شی چه عقد فسخ او د تعویض غوښتنه وکی.
(۲) که اجاره اخیستونکی دغصبوونکی د لاس په پورته کیدو کښی سره د دی چه امکان ئی هم وی قصوروکی او اجاری ورکوونکی ته د غصب د واقع کیدو څخه خبرتیا ورنه کی، نو اجوره نه ساقطیږی خو کولی شی چه د غصبوونکی څخه د تعویض غوښتنه وکی.

**۱۳۶۰ ماده:**

اجاره ورکوونکی دهغه عیبونو چه دعین اجاره شوی شی څخه دګټی داخیستلو مانع ګرځی یا ګټی اخیستلو ته کلی نقص پیدا کی، ضامن ګڼل کیږی. اجاره ورکوونکی د هغی عیبونو چه ترمخه ئی د هغی څخه اجاره اخیستونکی ته خبرتیا ورکړی، یا پخپله اجاره اخیستونکی د عقد په وخت کښی په هغی علم لرلو یائی په آسانتیا سره کولی شو چه په هغی

(c) ketabton.com: The Digital Library



علم راوړی، نو ضامن نه ګڼل کیږی، مګر داچه اجاره ورکوونکی عین اجاره شوی شی د عیب څخه خالی اعلام کړی وی.

**۱۳۶۱ ماده:**

که د اجاره شوی شی په عین داسی عیب موجود شی چه د ضمان ایجابوونکی وی نو اجاره اخیستونکی کولی شی چه د عقد د فسخ کیدو یا د اجوری د کموالی د تعویض سره غوښتنه وکی خو په دی شرط چه د هغی څخه ورته ضرر رسیدلی وی او که اجاره ورکوونکی ثابته کی چه د عیب د وجود څخه ئی علم نه لرلو نو مسئول نه ګڼل کیږی.

**۱۳۶۲ ماده:**

(۱) که څو اشخاص یو عین په اجاری واخلی نو هغه چاته ترجیح ورکول کیږی چه عین ئی بی له غش څخه تر ټولو اول تصرف کړی وی. په هغه صورت کښی چه د اجاره کوونکو څخه یوه د اجاره شوی عقار د تصرف څخه ترمخه، د بل اجاره اخیستونکی له خوا یا داجاری دعقد دنوی والی ترمخه، عقد په ښه نیت ثبت کړی وی پر نورو د وړاندی والی حق لری.
(۲) که د یوه اجاره کوونکی د ترجیح سبب پیدا نه شو نو هغوی کولی شی چه د تعویض غوښتنه وکی.

**۱۳۶۳ ماده:**

که د یوی دولتی اداری د قانونی عمل په اساس د اجاره شوی عین ګټه اخیستلو ته لوی نقصان ورسیدلو نو اجاره اخیستونکی کولی شی چه دعقد د فسخ کیدو یا داجوری د کموالی غوښتنه وکی. که د دولتی اداری عمل د داسی سببونو څخه پیدا شوی وی چه اجاره ورکوونکی په هغی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې مسئولیت ولري، نو د اجاره اخیستونکی له خوا د تعویض غوښتنه هم جواز لري، مګر داچه د هغی په خلاف موافقه شوی وی.

**۱۳۶۴ ماده:**

که اجاره ورکوونکی په غش سره دضمان سبب پټ کړی وی نو هره نوعه موافقه چه د تعرض یا عیب څخه د اجاره ورکوونکی د ضمانت د معافیت یا محدودیت متضمنه وی اعتبار نه لري.

**۱۳۶۵ ماده:**

د هغی ګټې د استحقاق څخه تیری چه د عقد په اساس ثابت شوی جواز نه لري.

**۱۳۶۶ ماده:**

اجاره اخیستونکی داجاره شوی شی دعین څخه په داسی توګه ګټه اخیستی شی چه پری موافقه شوی وی. که ترمخه موافقه نه وی شوی نو جاری عرف اعتبار لري.

**۱۳۶۷ ماده:**

اجاره اخیستونکی نه شی کولی چه د اجاره شوی شی په عین کښې داسی تغییر راوړی چه ورڅخه ضرر پیدا شی، که د التزام د حدودو څخه تیری وشو نو اجاره اخیستونکی په لومړنی حالت د عین په اعاده کولو او د اقتضاء په حالت کښې د هغی په تعویض مکلفیدای شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۳۶۸ ماده:**

د اوبو رسولو، ګاز، بریښنا، تیلفون، راډیو او داسې نور آلو نصبول د اجاره اخیستونکی له خوا چه دهغی څخه د اجاره شوی شی عین ته ضرر ونه رسیږی جواز لری.

**۱۳۶۹ ماده:**

اجاره اخیستونکی په جزئی ترمیمونو چه عرف ئی ایجابوی مکلف دی، مګر دا چه موافقه دهغی په خلاف شوی وی.

**۱۳۷۰ ماده:**

کوم اصلاحات چه اجاره اخیستونکی د اجاره ورکوونکی په اجازه د اجاره شوی شی په عین کښی د خرابیدو څخه د هغی د ښه والی او ساتنی دپاره کړی دی د هغی مصرفونه د اجاره ورکوونکی څخه غوښتلی شی که څه هم رجوع کول نه وی شرط شوی. که اصلاح کول د اجاره اخیستونکی د ګټو د تأمین د پاره وی، نو د رجوع کولو حق نه لری، مګر دا چه رجوع کول شرط شوی وی.

**۱۳۷۱ ماده:**

د اجاره شوی شی عین داجاره اخیستونکی سره امانت ګڼل کیږی د هغی په پاملرنه مکلف دی او د هغی تلفیدو او نقصان څخه چه د عادی استعمال څخه نه وی پیدا شوی، مسئول دی.

**۱۳۷۲ ماده:**

اجاره اخیستونکی مکلف دی چه هرهغه څه چه د اجاره ورکوونکی د مداخلی ایجاب کوی هغه ته خبرتیا ورکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۳۷۳ ماده:**

(۱) اجاره اخیستونکی مکلف دی تاکلی اجوره په هغی موده کښې چه پری موافقه شوی اداء کی. که ترمخه موافقه نه وی شوی نو د اداء کولو د مودی دپاره د ځای عرف اعتبار لری.

(۲) د اجوری ورکول د اجاری اخیستونکی په استوګنځی صورت مومی مګر دا چه عرف یا د دواړو خواوو موافقه بل رنګه حکم وکی.

**۱۳۷۴ ماده:**

د اجوری دیوه قسط اداء کول د نورو پخوانیو قسطونو د اداء کولو قرینه ده ترڅو چه د هغی په خلاف دلیل ظاهر شی.

**۱۳۷۵ ماده:**

اجاره اخیستونکی مکلف دی چه د اجاری د مودی په پای کښې د اجاره شوی شی عین بیرته ورکی، که هغه ذکر شوی عین بی موجبه پخپل تصرف کښې وساتی د هغی اندازی د تعویض په ورکولو چه په هغی کښې د ذکر شوی عین د اجاری قیمت مراعات شی او د تاوان د جبیری په ورکولو، اجاره ورکوونکی ته ملزمیږی. که داساتنه د اضطرار په اساس یا د داسی سبب په اساس وی چه اجاره اخیستونکی په هغی کښې مداخله ونه لری نو د مثلی اجرت په ورکولو اجاره ورکوونکی ته مکلف دی.

**۱۳۷۶ ماده:**

(۱) اجاره اخیستونکی مکلف دی اجاره شوی عین په هغه توګه بیرته ورکی چه تسلیم شوی وو، هغه تلفیدل یا نقصان چه اجاره اخیستونکی په هغی کښې دخیل نه وی د دی حکم څخه مستثنی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) که د اجاره شوی عین تسلیمیدل بی د هغی د صفتونو د شرحی څخه صورت موندلی وی نو داسی فرض کیږی چه ذکر شوی عین د ښه صفتونو په حالت کښی تسلیم شوی دی. مګر داچه دهغی په خلاف دلیل موجود شی.

**۱۳۷۷ ماده:**

اجاره شوی عین د اجاری دمودی په پای کښی د پخوا په شان د اجاره اخیستونکی سره د امانت په حیث پاتی کیږی. که اجاره اخیستونکی سره د غوښتنی هغه د ځان سره وساتی د هغی د تلفیدو ضامن ګڼل کیږی.

**۱۳۷۸ ماده:**

(۱) که اجاره اخیستونکی د اجاره شوی شی په عین کښی بنأ جوړه کړي یا ونی وکری یا نور داسی زینتی کارونه وکی چه د عقار دقیمت په لوړیدو کښی مؤثر وی، اجاره ورکوونکی مکلف دی داجاری په پای کښی کم ترکمه هغه څه چه مصرف شوی یا د قیمت د توپیر اندازه، اجاره اخیستونکی ته ورکی، مګر دا چه د هغی په خلاف موافقه شوی وی.
(۲) که ذکر شوی تزئینات بی د اجاره ورکوونکی دعلم څخه یا د هغه د اعتراض سره شوی وو نو اجاره ورکوونکی کولی شی چه د هغی لیری کول د هغه ضرر د تعویض سره چه د دی تزئیناتو د لیری کولو د پلوه عقار ته رسیږی د اجاره اخیستونکی څخه وغواړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریيم قسمت- د اجارې او د باطنی اجارې څخه تېریدل

### ۱۳۷۹ ماده:

اجاره اخیستونکی د اجاری یا باطنی اجاری څخه په ټولو هغو شیانو کښی چه په اجاره ئی اخیستی یادهغی په ځینو کښی، د تیریدلو حق لری، مگر داچه د هغی په خلاف موافقه شوی وی.

### ۱۳۸۰ ماده:

د باطنی اجاری څخه داجاری اخیستونکی منعه کول، د اجاری څخه دتیریدلو دمنع کیدو مستلزم او دهغی عکس وی، مگر دا چه اجاره د داسی عقاری اجاری پوری خاصه وی چه په هغی کښی صنعتی یا تجارتی دستگاه بنأشی او اجاره اخیستونکی د ضرورت په حکم د ذکر شوی دستگاه خرڅولو ته اقدام وکی، په دی صورت کښی محکمه کولی شی سره د دی چه د اجاری مانع شرط موجود دی، د اجاری په دوام حکم وکی، خو په دی شرط چه اخیستونکی کافی تضمین ورکی او د هغی څخه اجاره ورکوونکی ته محقق ضرر عاید نه وی.

### ۱۳۸۱ ماده:

د اجاری څخه د تیریدلو په حالت کښی دهغه چا دپاره چه تیریدلو صورت موندل دهغه او داجاره ورکوونکی د علاقی ترمنځ د اجاری د عقد څخه د پیدا شوو حقوقو او واجباتو له پلوه، د اجاری اخیستونکی قایم مقام گرځی، خو سره د دی هم اجاره اخیستونکی د واجباتو په اداء کولو کښی د هغه چا دپاره چه تیر شوی دی، د هغه ضامن گڼل کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۳۸۲ ماده:**

باطني اجاره اخيستونکی مکلف دي د اصلي اجاره اخيستونکي په مقابل کي، ټول هغه ثابت التزامونه چه ئی لری داجاره ورکوونکی د خبرتيا په وخت کښي په مستقيم ډول هغه ته اداء کی، او نه شي کولی چه د اجاره ورکوونکی په مقابل کښي په هغي اجوری باندی چه په پيشکی توگه ئی اصلي اجاره اخيستونکی ته ورکړی دی تمسک وکی، مگر دا چه دا کار د خبرتيا ترمخه د عرف او د هغي موافقي سره سم چه د باطني اجاری د وخته ئی نښه ثابته وی، صورت موندلی وی.

**۱۳۸۳ ماده:**

لومړني اجاره اخيستونکي په راتلونکو حالونو کښي د اجاره ورکوونکي په مقابل کښي بری الذمه گڼل کيږی:

۱ – په هغه حالت کښي چه د اجاری يا د باطني اجاری په تيريدلو سره اجاره ورکوونکي صريحه قبولي وکی.

۲ – په هغه حالت کښي چه چاته تيريدل شوی وی يا د باطني اجاره اخيستونکي څخه د اجوری حاصلول، بی له دی چه د لومړني اجاره اخيستونکي په مقابل کښي د هغه د حقوقو د ساتني اظهاروشي.

## څلورم قسمت
## د اجارې پای

**۱۳۸۴ ماده:**

اجاره په عقد کښي دتصريح شوی مودی په آخر کښي بی د تخليه کولو د خبرتيا څخه پای ته رسيږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۳۸۵ ماده:**

(۱) که اجاره اخیستونکی د اجاری د عقد د پای ته رسیدو وروسته د اجاره شوی شی د عین څخه ګټې اخیستلو ته دوام ورکی، او اجاره ورکوونکی سره ددی چه په هغی علم لری، ورباندی اعتراض و نه کی، نو اجاره د نامعلومی مودی د پاره په همغی لومړنیو شرطونو، نوی شوی ګڼل کیږی او د دی قانون د(۱۳۴۴) مادی درج شوی حکم ورباندی تطبیقیږی.

(۲) د اجاری د ضمنی نوی والی په صورت کښې د پخوانی اجاری پوری مربوط عینی تأمینات عیناً انتقال کوی، خو شخصي یا عینی ضمانت بې د ضامن د رضا څخه نه انتقالیږی.

**۱۳۸۶ ماده:**

که د دواړو خواوو څخه د یوی خوا له پلوه بلی خوا ته دتخلیه کولو خبرتیا صادره شوی وی خو سره د دی هم اجاره اخیستونکی د اجاری د مودی د پای ته رسیدو وروسته د اجاره شوی عین څخه ګټې اخیستلو ته دوام ورکی، د اکار د اجاری د نوی والی معنی نه لری، مګر داچه د هغی په خلاف کوم دلیل اقامه شی. په داسی حالت کښې اجاره اخیستونکی چه د اجاره شوی عین څخه د اجاری د پای ته رسیدو وروسته هر څومره موده ګټه اخیستی وی د هغی مودی په تخلیه کولو او د مثلی اجوری په ورکولو مکلف دی.

**۱۳۸۷ ماده:**

اجاره د اجاره ورکوونکی یا اجاره اخیستونکی په مړینه پای ته نه رسیږی، سره د دی هم د اجاره اخیستونکی وارثان د هغه د مړینی وروسته کولی شی، ثابته کی، چه د هغوی عایدات د مورث د مړینی له امله د اجاری د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوام تحمل نه لري يا اجاره دهغوی د احتياج دحدودو څخه بهر شوی ده نو په دي صورت کښې کولی شي چه د اجاري د عقد د پای ته رسيدو غوښتنه وکی. خو په دي شرط چه د اجاري اخيستونکی د مړينی د نيټی څخه د شپږو مياشتو په اوږدو کښې د فسخ کيدو غوښتنه شوی وی او همدارنګه د تخليه کولو په باره کښې د خبرتيا د ټاکلی مودی مراعات هم شوی وی.

**۱۳۸۸ ماده:**

که اجاره يواځی د اجاره اخيستونکی دکسب د اجراء کولو په سبب يا د هغه پوری د ځينو مربوطو نورو خاصو اعتبارونو په سبب، عقد شوی وی نو د هغه د مړينی وروسته داجاری ورکوونکی له خوا او د اجاری اخيستونکی د وارثانو له خوا ، د عقد د فسخ کيدو غوښتنه جواز لري.

**۱۳۸۹ ماده:**

د اجاره اخيستونکی غريبی او افلاس د هغه د اجوری د تعجيل، موجب کيږی نه چه لاموده يی نه ده پور شوی. خو سره د دی هم که په يوی مناسبی مودی کښی يی داسی تأمينات ورنه کړل چه د هغه د راتلونکی اجوری د اداً کولو ضمانت وکړی شی، نو اجاره ورکوونکی کولی شی چه د اجاری د فسخ کيدو غوښتنه وکی. همدارنګه اجاره اخيستونکی کولی شي په هغه صورت کښی چه ورته داجاری يا باطنی اجاری څخه دتيريدلو اجازه نه وی ورکړه شوی، د عادلانه تعويض په ورکولو سره د عقد د فسخ کيدو غوښتنه وکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۳۹۰ ماده:**

(۱) که د اجاره شوی عین ملکیت بل چا ته انتقا ل وکی نو که د ملکیت د انتقا ل د عقد ترمخه د اجاری نېټه ثابته نه وی، د ذکر شوی شخص په باره کښې نافذه نه ګڼل کیږی.

(۲) که چاته د دی مادی د(۱) فقری سره سم ملکیت انتقال کړی وی، سره ددی چه داجاری عقد د هغه په باره کښې نافذ نه دی، خو کولی شی چه په ذکر شوی عقد تمسک وکی.

**۱۳۹۱ ماده:**

(۱) چاته چه د اجاره شوی شی د عین ملکیت انتقال کړی وی او اجاره د هغه په باره کښې نافذه نه ګڼل کیږی، نو نه شی کولی چه اجاره اخیستونکی په تخلیه کولو مکلف کړی، مګر هغه دا کار کولی شی چه ددی قانون (۱۳۴۶) مادی د حکم سره سم خبرتیا ورکول شوی وی.

(۲) که نوی مالک د اجاری د عقد د پای ته رسیدو تر مخه اجاره اخیستونکي ته په تخلیه کولو خبرتیا ورکی نو اجاره اخیستونکی ته د تعویض په ورکولو مکلف دی، مګر دا چه د هغی په خلاف موافقه شوی وی. اجاره اخیستونکی په تخلیه کولو نه مکلف کیږی مګر په هغه وخت کښې چه د اجاره ورکوونکی څخه یا د هغه په نیابت د هغه چا څخه چه ملکیت ورته انتقا ل کړی، تعویض واخلی.

**۱۳۹۲ ماده:**

چاته چه د اجاره شوی شی دعین ملکیت انتقال کړی وی نو که اجاره اخیستونکی ته په هغه وخت کښې چه اجاره ورکوونکی ته پیشکی اجوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکوی ثابته کی چه ملکیت هغه ته انتقال کړی، نو اجاره اخیستونکی نه شی کولی چه د ذکر شوی اجوری په ورکولو تمسک وکی، که نوی مالک د اجاره شوی عین د ملکیت د ثابتولو څخه عاجز شو نو کولی شی چه اجاره ورکوونکی ته رجوع وکی.

**۱۳۹۳ ماده:**

(۱) اجاره ورکوونکی نه شی کولی چه د اجاری دمودی د پوره کېدو ترمخه داجاری د فسخ کېدو غوښتنه وکی، که څه هم خپله اراده دخپل شخصی اوسیدنی یا استعمال دپاره اعلام کی، مگر دا چه دهغی په خلاف موافقه شوی وی.

(۲) که داسی موافقه شوی وی چه که اجاره ورکوونکی داجاره شوی شی عین ته شخصی احتیاج پیدا که، اجاره به فسخ کیږی نو اجاره ورکوونکی مکلف دی د دی قانون د(۱۳۴۶) مادی حکمونه د اجاری اخیستونکی د خبرتیا په باره کښی مراعات کی مگر دا چه د هغی په خلاف موافقه شوی وی.

**۱۳۹۴ ماده:**

که څوک یو دکان په اجاره واخلی بیا تر هغی وروسته دهغه په اخیستلو او خرڅولو کښی کساد پیدا شی، نه شی کولی چه د اجاری عقدفسخ کی او یا د اجوری د ورکولو څخه ځان وژغوری.

**۱۳۹۵ ماده:**

که اجاره اخیستونکی په مستقیمه توگه د اجاره شوی شی د عین څخه گټه وانه خلی یا ونه شی کړی چه د هغی څخه پوره گټه ترلاسه کی نو دا کار د هغه د خطا یا بل داسی علت ته چه پخپله د هغه پوری مربوط دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



راجع کیږی، نو د اجاری په عقد او په ټولو هغو التزاماتو چه د هغی څخه پیدا شوی مکلف دی. خو په دی شرط چه د اجاره شوی شی عین د اجاری ورکوونکی له خوا په داسی حالت کښی د اجاری اخیستونکی په تصرف کښی ورکول شوی وی چه د موافقه شوی ګټی اخیستلو قابلیت ولری.

**۱۳۹۶ ماده:**

(۱) د عقد د دواړو خواوو څخه هریو کولی شی د هغی اجاری د عقد د فسخ کېدو غوښتنه وکی چه موده یی محدوده وی او د اجاری موده پای ته نه وی رسیدلی. او دا حکم په هغه وخت کښی د تطبیق وړ دی چه غیر مترقبه حالتونه د عقد تنفیذ د اول څخه یا د هغی په جریان کښی نا ممکن کی، د دی قانون د (۱۳۴۶) مادی د درج شوی خبرتیا د مهلت مراعات د فسخ کوونکی له خوا د عادلانه تعویض سره هرو مرو دی.
(۲) که اجاره ورکوونکی دفسخ کیدو غوښتنه کړی وی اجاره اخیستونکی داجاره شوی شی دعین په ردولو مجبورولی نه شی، مګر دا چه اجاره اخیستونکی ته یی لازمی تعویض ورکړی وی یا دا چه د دی منظور د پاره ئی د هغه سره کافی تأمین ایښی وی.

**۱۳۹۷ ماده:**

که اجاره اخیستونکی د مؤظفینو یا مستخدمینو یا د داسی اشخاصو د جملی څخه وی چه د هغه کار د استوګنځی تغییر ایجابوی نو د دی قانون د(۱۳۴۶) مادی د درج شوی حکم په نظر کښی نیولو سره، کولی شی چه دخپل داوسیدلو د ځای د اجاری چه موده یی محدوده وی د فسخ کېدو غوښتنه وکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځم قسمت- د اجارې ځینې نوعې

### لومړی مبحث- د زراعتي ځمکې اجاره

**۱۳۹۸ ماده:**

د کرهڼې د پاره دځمکې اجاره سره د هغې شي دبیا نولو چه په هغې کښې باید وکرل شي یا د اجارې اخیستونکی ته د شي د کرلو د انتخاب په باره کښې اختیار ورکول، صحت لري.

**۱۳۹۹ ماده:**

(۱) کومه ځمکه چه د بل چا په کښت مشغوله وي او د حاصل د ټولولو وخت یې نه وي رسیدلی او ناحقه هم نه وي کرل شوی نو اجاره ئې د ځمکې د فارغیدو تر وخته پورې نه نافذیږي مگر داچه په ځمکه کښې موجوده کرهڼه د اجارې اخیستونکي ملکیت وي.

(۲) که کرهڼه د راټولولو دپاره تیاره وي نو د ځمکې اجاره ورکول د کرهڼې د خاوند څخه غیر بل چا ته هم جواز لري، نو اجارې اخیستونکی ته په مناسب وخت کښې د ځمکې په تخلیه کولو او تسلیمولو مکلف کیږي.

**۱۴۰۰ ماده:**

که په ځمکه باندې موجوده کښت ناحقه کرل شوی وي نو د حاصل د راټولولو د مودې نه رارسیدل د بل چا سره د اجارې دعقد د صحت نه مانع کیږي او کرونکی په تخلیه کولو مکلف دی.

**۱۴۰۱ ماده:**

که ځمکه د اجارې اخیستونکي څخه په غیر د بل چا په کښت مشغوله وي، اجاره ئې صحیح ده خو د حاصل د راټولولو د مودې او په یوه معین

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت کښې اجارې اخیستونکي ته د تسلیمیدو دپاره دځمکې دتیارولو پورې موکوله ده.

**۱۴۰۲ ماده:**

د ځمکې اجاره اخیستونکې دویالې او د لارې د حق څخه ګټه اخیستې شي که څه هم په عقد کښې نه وي ذکر شوي، نور حقوق دموافقې او دځای د عرف تابع دي.

**۱۴۰۳ ماده:**

کومه ځمکه چه د یوه کال د پاره په اجارې ورکول شوي وي او دکښت د نوعې اختیار اجارې اخیستونکي ته ورکول شوي وي نو اجاره اخیستونکی کولی شي چه په هغې کښې دوه فصلونه وکرې.

**۱۴۰۴ ماده:**

که اجاره شوې ځمکه د اوبو د پورته کیدو په سبب د اوبو لاندې شي یائې اوبه قطع شي او په هغې کښې د کرلو امکان نه وي، نو اجوره نه لازمیږي او اجاره اخیستونکی د عقد د فسخ کولو حق لري، خو په دې شرط چه د دې پلوه هغه ته قصور متوجه نه وي.

**۱۴۰۵ ماده:**

که د اجاره شوې ځمکې کښت د آسمانې آفت په اثر د مینځه ولاړ شي د آفت څخه ترمخه د اجورې حصه د اجارې اخیستونکي په ذمې لازمیږي او د آفت څخه د وروستي مودې د حصې اجوره د هغه د ذمې څخه ساقطیږي، مګر دا چه اجاره اخیستونکی په کرهڼه داسې توان ولرې چه د آفت څخه ترمخه په شان وي او یا ترهغې کم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۴۰۶ ماده:**

(۱) که حاصلات د لوکولو وروسته د مینځه ولاړ شي اجاره اخیستونکی کولی شي چه داجوری د ساقطیدو یا کموالي غوښتنه وکی،خو په دی شرط چه موافقه په داسی صورت نه وی شوی چه اجاره ورکوونکی د محصول د یو جزء حق لرونکی وی، په دی صورت کښی که حاصلات د اجاری اخیستونکی دخطا په وسیله او یا وروسته له دی چه د تسلیمولو خبرتیا ورکړه شي، د مینځه لاړ شي نو اجاره ورکوونکی د خپلی حصی په اندازه متحمل کیږی.

(۲) که دعقد دمنعقیدو په وخت کښی د ضرر دواقع کیدو پیشبینی موجوده او محققه وی نو اجاره اخیستونکی نه شي کولی چه د اجوری د ساقطیدو غوښتنه وکی.

**۱۴۰۷ ماده:**

که د اجاری موده پوره شوی وی خو په ځمکه باندی حاصلات د داسی سبب په اساس چه داجاری اخیستونکی د ارادی بهروی نه وی رسیدلی نو ځمکه د مثلی اجوری په بدل کښی د حاصلاتو درسیدو تروخته پوری داجاری اخیستونکی په تصرف کښی پاتی کیږی.

**۱۴۰۸ ماده:**

اجاره اخیستونکی مکلف دی چه د کرهڼی د ځمکی څخه داسی ګټه واخلی چه خلک پری پوهیږی او په داسی توګه دی پکښی کار وکی چه د ګټی اخیستلو د پاره تیاره پاتی شي. اجاره اخیستونکی نه شي کولی چه د اجاری ورکوونکی د اجازی په غیر د ځمکی څخه په داسی توګه ګټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخلی چه په ځمکه کښې دومره تغییر راوړی چه منفی اثر ئی د اجاری د پای ته رسیدو وروسته دوام وکی.

**۱۴۰۹ ماده:**

اجاره اخیستونکی مکلف دی چه په ځمکه کښې داسی اصلاحات وکی چه د اجاره شوی ځمکی څخه یی عادی ګټه اخیستل ایجابوی.

**۱۴۱۰ ماده:**

اجاره اخیستونکی مکلف دی کومه ځمکه چه یی په اجاری اخیستی ده په داسی مودی کښې تخلیه کې چه کوم سړی تر هغه وروسته په ځمکه کښې تصرف کوی، وکولی شی چه ځمکه کرهنې او کښت ته تیاره کی، خو په دی شرط چه له دی پلوه هغه ته ضرر ونه رسیږی.

**دوهم مبحث - دهقانی**

**۱۴۱۱ ماده:**

دهقانی د ځمکی د کرلو عقد دی د مالک او د دهقان ترمنځ په داسی توګه چه دځمکی حاصل به په هغو حصو ویشل کیږی چه د عقد په وخت کښې ورباندی موافقه شوی ده.

**۱۴۱۲ ماده:**

د دهقانی دعقد د صحت شرطونه په لاندی ډول دی:

۱- د کښت د پاره د ځمکی تیاری.

۲- دتخم، سری د آفتونو په ضد دواګانو اود کښت د نورو ضروری مصرفونو د برابرولو د پاره د مکلف شخص معلومول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- د کښت د وسیلو د برابرولو د پاره د مکلف شخص معلومول.
۴- دهقان ته د کښت ځخه د خالی ځمکی تسلیمول که څه هم تخم د ځمکی دمالک وی.

**۱۴۱۳ ماده:**

د جاری عرف سره سم د دهقانی د مودی ټاکل د عقد د صحت د شرطونو څخه دی، که موده نه وه ټاکل شوی نو عقد صحیح دی او دیوه فصل دپاره اعتبار لری، مګر دا چه په خاص قانون کښی بل رنګه حکم شوی وی.

**۱۴۱۴ ماده:**

د تخم د جنس په صریحه یا ضمنی توګه او د هغه شخص د حصی ټاکل چه تخم د هغه له خوا، نه دی د عقد د صحت شرط ګڼل کیږی، که د تخم جنس نه وه ټاکل شوی نو که د ځمکی دمالک له خوا وی د دهقانی عقد صحیح او که د دهقان له خواوی نو عقد صحیح نه دی. مګر دا چه د تخم د جنس د ټاکلو اختیار دهقان ته ورکول شوی وی.

**۱۴۱۵ ماده:**

کوم حیوانات او آلات چه په کرهڼه کښی استعمالیږی که د عقد په وخت کښی، پرځمکه موجود وی او د ځمکی د خاوند ملکیت وی، د دهقانی عقد ورته شاملیږی، په دی شرط چه د هغی په خلاف موافقه نه وی شوی.

**۱۴۱۶ ماده:**

(۱) دهقان مکلف دی چه په کرهڼه او دکښت په ساتنه کی داسی توجه وکی لکه چه دخپل مال په باره کښی یی کوی. دهقان دګټی اخیستلو دمودی په اوږدو کښی د ځمکی د تلفیدو مسئول دی، مګر داچه ثابته کړی چه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغی د ساتنی او صیانت په باره کښې یې دیو عادی شخص په اندازې کوښښ کړی دی.
(۲) د هقان د تلف شوو حیواناتو د تعویض او د هغی آلاتو د استهلاکیدو چه هغه پکښې مقصر نه وی، مکلف نه دی.

**۱۴۱۷ ماده:**

دهقان نه شی کولی بې دمالک داجازی څخه ځمکه بل چاته په اجاری ورکی یا د هغی د اجاری څخه بل چاته تیر شی. که یې ددی حکم څخه مخالفت وکي، مالک کولی شی چه عقد فسخ کی او یا د دهقان څخه د تعویض غوښتنه وکی.

**۱۴۱۸ ماده:**

دهقان حق نه لری چه مربوطه ځمکه بې د مالک د اجازی بل چاته په دهقانی ورکی.

**۱۴۱۹ ماده:**

دهقان د ځمکی پوری د مربوطو عمارتونو او د اوبولو د وسیلو په ساتنه مکلف دی او کوم ترمیمونه چه د دهقان خانی د ساتنی د پاره ضروری دی د دهقان په غاړه دی مګر د عمومی نهرونو او د نوو ویالو ویستنه د مالک په غاړه دی.

**۱۴۲۰ ماده:**

دهقان نه شی کولی په قرار داد کښې داخلی دځمکی د مخ ونی وکاړی او یا ئی قطع کی خو کولی شی چه د مالک په اجازی وچی ونی قطع او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



عـوض یـی بـل نیـالګی وکـری. د قطـع کولـو او کرلـو کـار پـه دهقـان او د نیالګی قیمت د مالک په غاړه دی.

**۱۴۲۱ ماده:**

د مالیی ورکول د مالک په غاړه دی.

**۱۴۲۲ ماده:**

بی له هغی چه په دی قانون کښی درج شوی، مالک حق نه لری چه د دهقان څخه د بلی ګټی لکه نقدی یا غیر نقدی ګټه یا په مستقیمه یا نامستقیمه توګه د هغه څخه د خدمتونو تقاضا وکی.

**۱۴۲۳ ماده:**

د قـرارداد دواړه خـواوی کـولی شـی چـه یـو د بـل پـه موافقـه د دهقـانی قرارداد ، داجاری په عقد تبدیل کی.

**۱۴۲۴ ماده:**

که دهقان د خپلی ځمکی خاوند شو نو که وغواړی پخپله هغه وکری، کولی شی چه د دهقانی قرار داد فسخ کی.

**۱۴۲۵ ماده:**

کـه د دهقـانی د قـرارداد د پـای تـه رسـیدو څخـه دری میاشـتی ترمخـه، قرارداد نوی نه شی نو قرار داد تر یوه بل کال پوری اوږدیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۴۲۶ ماده:**

د دهقـان او د ځمکـی د مالـک تـرمنځ حاصـلات د دوارو خـواوو د مـوافقی سره سم یا په هغه تناسب چه عرف ټاکلی ویشل کیږی، که پخوانی موافقه او عرف موجود نه وه نو حاصلات نیمائی کیږی.

**۱۴۲۷ ماده:**

که د غیر مترقبه حادثو په اثر ټول حاصلات یا یوه برخه یی د مینځه ولاړل دواړه خواوی به په مساوی توګه د تاوان متحمل کیږی او یو په بل رجوع نه شی کولی.

**۱۴۲۸ ماده:**

کـه د عقـد مـوده د فـصل د پخیـدو ترمخـه تیـره شـوه، نـو کـښت تـر پخلنـی پوری په ځمکه کښی پاتی کیږی، په دی مودی کښی لازمی مصرفونه لکه اوبه کول، لو، درمند میده کول او بادول د هر یوه د حصی په اندازی د دواړو په ذمی دی.

**۱۴۲۹ ماده:**

(۱) که د ځمکی مالک د فصل د پخیدو ترمخه مړ شی نو دهقان به د فصل تر پخیدو پوری خپل کار ته دوام ورکوی د مړی وارثان نه شی کولی چه هغه منع کی.

(۲) که دهقان د فـصل د پخیـدو ترمخـه مـړ شی دهغـه وارثـان کـه ئـی تـوان لرلو یا د هغـوی قـانونی وکیـل بـه د فـصل ترپخیـدو پـوری د قـایم مقـام پـه صفت کار ته دوام ورکوی، که څه هم د ځمکی مالک رضائیت ونه لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۴۳۰ ماده:**

که د دهقانی عقد فسخ یا باطل شی نو حاصلات د تخم د مالک پوری تعلق نیسی د هغه مقابله خوا د مثلی اجوری مستحق کیږی مګر داچه موافقه بل ډول شوی وی.

**۱۴۳۱ ماده:**

که په خاص قانون کښی د دهقان او د ځمکی د مالک ترمنځ حقوقی رابطی بل رنګه تنظیم شوی وی نو د خاص قانون حکمونو ته امتیاز ورکول کیږی.

**دریم مبحث - باغوانی**

**۱۴۳۲ ماده:**

(۱) د باغوانی عقد عبارت دی بل چاته د ونو او تاکونو ورکولو څخه د پالنی دپاره د هغی د یوی ټاکلی حصی د ثمر په بدل کښی.
(۲) ونه د هغه نبات څخه عبارت ده چه په ځمکه کښی یو کال یا ترهغی زیاته ثابته او باقی پاتی شی.

**۱۴۳۳ ماده:**

په باغوانی کښی د دهقانی عقد د صحت خاص شرطونه مراعات کیږی.

**۱۴۳۴ ماده:**

د باغوانی عقد د هغی مودی دپاره چه په عرف کښی پری عمل کیږی، صحت لری. که عقد کښی موده نه وی قید شوی، د هغی کال د لومړنی ثمر په حاصل حملیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۴۳۵ ماده:**

که د باغواني دپاره دومره موده وټاکل شي چه د ثمر د ظاهریدو څخه کمه وي، عقد صحیح نه دی.

**۱۴۳۶ ماده:**

که د باغواني دپاره دومره موده وټاکل شي چه په هغې کښې د ثمر د ظاهریدلو او نه ظاهریدلو احتمال موجود وي نو عقد موقوف ګڼل کیږي، که ثمر په ټاکلی وخت کښې په داسې توګه ظاهر شي چه د هغې مشابه په معاملو کښې د علاقې وړ ګرځي نو باغواني صحیح ده، او د پخوانی موافقې سره سم ویشل کیږي، که ثمر په ټاکلی وخت کښې ظاهر نه شي نو عقد فاسد دی او باغوان د خپل کار د مثلي اجوری مستحق ګڼل کیږي. که ثمر بیخی ظاهر نه شي هېڅ یوه خوا یو په بل حق نه لري.

**۱۴۳۷ ماده:**

د ثمر د ظاهریدو ترمخه لاژمې کارونه لکه اوبه کول، پیوند، القاح او ساتنه پر باغوان دي، او کوم کارونه چه د ثمر د ظاهریدو وروسته لاژمې ګڼل کیږي لکه د میوی ټولول او داسې نور د عقد په دواړو خواوو لازم دي، مګر داچه موافقه په بل ډول شوي وي.

**۱۴۳۸ ماده:**

(۱) باغوان نه شي کولای بې د مالک د اجازې ونې بل چاته په اجاره ورکي، که ئې ددې حکم مخالفت وکه نو ثمر د مالک پوری تعلق نیسي او دوه یم باغوان د لومړني باغوان څخه د مثلي اجوری مستحق کیږي او لومړني باغوان د اجوری حق نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) باغوان نه شي کولای بې د مالک د اجازې د خپلې پالنې لاندې ونې قطع کې او یا په باغ کښې نیالګې وکرې.
(۳) د باغ د ځمکې کرهڼه بې د مالک د اجازې جواز نه لرې، که ئې په کرهڼه موافقه وشوه د دهقانې د عقد پورې مربوط حکمونه یا د زراعتې ځمکو داجارې دعقد پورې مربوط حکمونه مراعات کیږې.

**۱۴۳۹ ماده:**

که ونه په داسې حالت کښې په استحقاق ویوړه شې چه ثمرئې ظاهر شوې وې نو د ونې مالک کار کوونکې ته د مثلې اجورې په ورکولو سره مکلف دې. که ونه دثمر د ظاهریدلو ترمخه په استحقاق ویوړه شې نو باغوان د هیڅ شې مستحق نه ګڼل کیږې.

**۱۴۴۰ ماده:**

که کار کوونکې د کار د اجراء کولو څخه عاجز شې یا د ثمر دظاهریدو څخه اطمینان ونه لرې نو د باغوانې د عقد فسخ کول جواز لرې.

**۱۴۴۱ ماده:**

که د باغوانې موده تیره شې نو عقد پای ته رسیږې. که په ونه کښې ثمر وې چه د ګټې اخیستلو قابلیت ونه لرې، باغوان اختیار لرې چه بې د اجورې څخه خپل کارته دوام ورکوې ترڅو چه ثمر پوخ شې او یا کار پریږدې. همدارنګه د ونې مالک اختیار لرې چه نه رسیدلې ثمر عیناً د موافقه شوو شرطونو سره سم وویشي او یا باغوان ته د هغې څخه د هغه د استحقاق د حصې قیمت ورکوې اویا د ثمر د رسیدو پورې لازمې مصرفونه په غاړه اخلې او بیا وروسته خپل مصرف د رسیدلې ثمر څخه د باغوان د حصې څخه غواړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۴۴۲ ماده:**

(۱) که د ونی خاوند په داسی وخت کښې مړ شي چه ثمرتازه ظاهر شوی وي، نو باغوان به د پخوا په شان خپل کارته دوام ورکوي. که څه هم دمالک وارثان راضي نه وي.

(۲) که باغوان د کار د پرېښودلو اراده وکي په کار کولو نه مجبوره کیږي او د ځمکې د مالک وارثان د دی قانون د(۱۴۴۱) مادی درج شوو دری ګونو خیارونو څخه استفاده کولی شي.

**۱۴۴۳ ماده:**

که د ځمکی مالک او باغوان دواړه په داسی حالت کښې مړه شي چه ثمرتازه ظاهره شوی وي نو د باغوان وارثان اختیار لري چه د ثمر د پخېدو تر وخته پوری خپل کارته دوام ورکوي او یایي پریږدي. په دی حالت کښې د ځمکې دمالک وارثان ددی قانون د(۱۴۴۱) مادی د درج شوو دری ګونو خیارونو څخه استفاده کولی شي.

**۱۴۴۴ ماده:**

که ددی قانون حکمونه د خاص قانون سره توپیر ولري نو د خاص قانون حکمونه تطبیقیږي.

**څلورم مبحث – د وقف اجاره**

**۱۴۴۵ ماده:**

د وقف ناظر د وقف د اجاری ولایت لري خو چا ته چه مال وقف کړه شوی دی دا ولایت نه لري مګر داچه د وقف کوونکی له خوا متولي وي یا د هغه چا له خوا چه د اجاری ولایت ولري لکه قاضي یا اجازه ورکړ شوی ناظر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۴۴۶ ماده:**

د اجوری د قبضولو ولایت خاص ناظر ته دی نه هغه چاته چه مال ورته وقف کړه شوی دی، مګر داچه ناظر ورته د اجوری د قبضولو اجازه ورکړی وی.

**۱۴۴۷ ماده:**

کوم شرط چه د وقف کوونکی له خوا د وقف د اجاری په باره کښی وضع شوی مراعات کیږی، متولی نه شی کولی هغی مودی ته تغییر ورکی چه وقف کوونکی د وقف د اجاری دپاره ټاکلی ده.

**۱۴۴۸ ماده:**

که د وقف کوونکی له خوا د اجاری موده نه وی ټاکل شی نو په کور او دکان کښی د اجاری موده یو کال او په ځمکه کښی دری کلونه ټاکل کیږی. مګر داچه په کور او دکان کښی د مودی د زیاتوالی او په ځمکه کښی د مودی د کموالی ښیګڼه ولیدله شی.

**۱۴۴۹ ماده:**

(۱) د ضروری حالتونو په غیر د وقف کړه شوی کور یا ځمکی اجاره د اوږدی مودی دپاره یا په پرله پسی عقدونو جواز نه لری.

(۲) که ناظر د ضرورت په حکم د وقف کړه شوی مال آبادولو ته مجبور شی نو کولی شی چه د محکمی په اجازی ددی قانون د(۱۴۴۸) مادی تصریح شوو حدودو څخه د اجاری دپاره زیاته موده وټاکی خو په دی شرط چه د انسان د عادی عمر د مودی څخه زیاته نه وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۴۵۰ ماده:**

ناظر نه شي کولی چه وقف د خپل ځان دپاره په اجاری واخلی، که څه هم په مثلی اجوری وی.

**۱۴۵۱ ماده:**

اجاره د مثلی اجوری څخه په کمه جواز نه لری مگر په کم توپیر سره که څه هم اجاره ورکوونکی یواځینی شخص وی چه په وقف کښی د تصرف کولو ولایت ولری.

**۱۴۵۲ ماده:**

(۱) د وقف په اجاری کښی معیار د هغی وخت مثلی اجوره ده چه اجاره پکښی عقد شوی ده، وروستنی تغییرونه پکښی تأثیر نه لری.
(۲) که وقف د ناظر له خوا په فاحش غبن په اجاری ورکول شوی وی نو اجاره اخیستونکی مکلف دی چه مثلی اجوره پوره کی د هغی په غیر اجاره فسخ کیږی.

**۱۴۵۳ ماده:**

(۱) که وقف کړه شوی بناء جوړولو ته ضرورت ولری او اجاره اخیستونکی د ناظر په اجازی د خپل مال څخه هغی ته اقدام وکی، نو که د عمارت زیاتی گټی وقف ته عایدی وی، اجاره اخیستونکی کولی شی د ذکر شوو مصرفونو اداء کول د وقف د حاصل څخه د ناظر څخه وغواړی، که څه هم ترمخه د اجاری اخیستونکی رجوع نه وی شرط شوی.
(۲) که د عمارت زیاتی گټی اجاره اخیستونکی ته عایدی وی بی د پخوانی شرط د وجود څخه په ناظر رجوع نه شی کولی که اجاره اخیستونکی یا مستحق شخص بی د ناظر د اجازی څخه د وقف د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخروبې په موادو د بنا جوړولو ته اقدام وکې او بنأ په داسې توګه جوړه شي که ورانه شي نوبې د تخریب شوو موادو څخه د هغې څخه بل قیمت نه پاتې کیږي، نو بنأ د وقف جزء ګڼل کیږي او اجاري اخیستونکي د رجوع حق نه لري.

**۱۴۵۴ ماده:**

که اجاره اخیستونکي د وقف علاموته تغییر ورکې په داسې توګه چه د هغه ټول یا یوه برخه ئې خرابه کې بیائې په بل شکل نوي آباده کې، که وارد شوي تغییر د وقف په ګټه وه نو بنأ پخپل حال پاتې کیږي، اجاره اخیستونکي متبرع ګڼل کیږي او د مثلي اجوري مستحق کیږي که وارد شوي تغییر د وقف په ګټه نه وه نو د بنأ په خرابولو او لومړنی شکل ته ګرځولو باندې امر کیږي.

**۱۴۵۵ ماده:**

د اجاري د عقد حکمونه د وقف په اجاري تطبیقیږي مګر داچه د دې مبحث د درج شوو حکمونو متناقض وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوه یم فصل
## عاریت

### لومړی قسمت- عمومي حکمونه

**۱۴۵۶ ماده:**
عاریت عبارت دی د عاریت ورکوونکی د ګټو د تسلیمولو د تعهد څخه عاریت اخیستونکی ته بی له عوضه د یوی ټاکلی مودی یا د یوه ټاکلی غرض دپاره په دی شرط چه د استعمالولو وروسته به ئی بیرته ورکوی.

**۱۴۵۷ ماده:**
د عاریت د صحت شرط دا دی چه په عاریت ورکړی شوی شی د ګټې اخیستلو قابلیت دهغی د عین د بقاء سره ولري.

**۱۴۵۸ ماده:**
په عاریت ورکړه شوی شی عین دعاریت ورکوونکی دملکیت څخه نه وځي.

### دوه یم قسمت- د عاریت ورکوونکی التزامونه

**۱۴۵۹ ماده:**
عاریت ورکوونکی مکلف دی چه په عاریت ورکړ شوی عین په همغه د عقد د وخت په حالت عاریت اخیستونکی ته تسلیم او هغه د عاریت دمودي په اوږدوکي د عاریت اخیستونکی په اختیار کښی کیږدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۴۶۰ ماده:**

عاریت ورکوونکی مکلف دی چه کوم مصرفونه عاریت اخیستونکی په عاریت ورکړ شوی شی د هلاکیدو او ضایع کیدو د خلاصون دپاره کړی، اداء کي.

**۱۴۶۱ ماده:**

(۱) عاریت ورکوونکی د عاریت ورکړ شوی شی د استحقاق ورلو ضامن نه دی، مګر داچه د استحقاق سبب ئی عمداً پټ کړی وی او یائی د خاصی موافقی په اساس تضمین قبول کړی وی.
(۲) عاریت ورکوونکی د پټو عیبونو ضامن نه دی مګر داچه عیب ئی عمداً پټ کړی وی او یائی د شی سلامتیا تضمین کړی وی.

**دریيم قسمت- د عاریت اخیستونکي التزامونه**

**۱۴۶۲ ماده:**

عاریت اخیستونکی مکلف دی چه په عاریت ورکړ شوي شي په ساتنه او صیانت کښې داسې توجه وکي لکه چه خپل مال ته ئې کوي.

**۱۴۶۳ ماده:**

که عاریت ورکوونکی د عاریت ورکړ شوي شي د استعمال نوعه، وخت یا ځای مقید کي، نو عاریت اخیستونکی نه شي کولی چه هغه د ټاکلي وخت او ځای څخه غیر استعمال کي، همدارنګه د هغې نوعې استعمال څخه چه پري اجازه ورکول شوي مخالفت کولی نه شي، او د هغې اندازې څخه چه اجازه ورکول شوی زیات تیرې کولی نه شي، بلکه د هغې اندازې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مماثل په اندازې چه په استعمال مقید شوې یا د هغې ځخه په کمې اندازې اقدام کولې شي.

**۱۴۶۴ ماده:**

که د عاریت د عین ځخه ګټه اخیستل د وخت، ځای اوداستعمال د نوعې پورې مقیده نه وي، عاریت اخیستونکی کولی شي چه د هغې ځخه په هر وخت، هرځای او په هره نوعه چه ئې زړه وغواړي په عادي توګه ګټه واخلي،که د عاریت اخیستونکي دتیری په سبب دعاریت شوي شي عین د مینځه ولاړ شي ضامن ئې ګڼل کیږي.

**۱۴۶۵ ماده:**

(۱) که عاریت ورکوونکی په مطلق صورت عاریت اخیستونکی ته د ګټې اخیستلو اجازه ورکي او ګټه اخیستونکی شخص و نه ټاکي، نو عاریت اخیستونکی کولی شي چه پخپله د عاریت ورکړ شوي شي ځخه ګټه واخلي او یایې بل چاته په عاریت ورکي، عام له دې چه د استعمال کوونکی تغییر د عاریت په عین کښې مؤثر وي او که نه وي. دا حکم په هغه صورت کې دی چه عاریت اخیستونکی پخپله په عاریت ورکړ شوي عین استعمال نه کي او هغه د داسې شیانو ځخه وي چه د استعمال کوونکی تغییر وربانديې تاثیر کوي، د هغې په غیر بل چاته د عین په عاریت ورکول جواز نه لري.

(۲) که د عاریت ورکوونکی له خوا ګټه اخیستونکی شخص ټاکل شوی وي نو عاریت اخیستونکی د ذکر شوي شخص د قید په مراعات مکلف دی، که عاریت اخیستونکی مخالفت وکړو د عاریت د عین د مینځه تللو ضامن دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۴۶۶ ماده:**

که عاریت ورکوونکی د عاریت ورکړ شوي شي د ورکولو څخه عاریت اخیستونکی بل چاته منع کړی وي، او عاریت اخیستونکی هغه بل چاته په عاریت ورکي د هغې د مینځه تللو ضامن ګڼل کیږي.

**۱۴۶۷ ماده:**

عاریت اخیستونکی په ټولو هغو حالونو کښې چه د عین د عاریت ورکولو څخه بل چاته منع شوی وي، نه شي کولی چه د عاریت شوي شي عین بل چاته په عاریت ورکي. که عاریت اخیستونکی هغه د بل چا سره په ودیعت کښیښودلو او د عاریت عین د همدې شخص سره هلاک شو، عاریت اخیستونکي ئې ضامن دی.

**۱۴۶۸ ماده:**

په ټولو هغو حالونو کښې چه عاریت اخیستونکی واک لري چه د عاریت عین بل چاته په عاریت ورکي، کولی شي چه ذکر شوی عین بل چاته په ودیعت ورکي. په دي صورت کښې که عین بې د ودیعت اخیستونکی د تیري څخه هلاک شي، عاریت اخیستونکی ضامن نه ګڼل کیږي.

**۱۴۶۹ ماده:**

عاریت اخیستونکی نه شی کولی د عاریت عین په اجاری یا ګروی ورکی مګر په هغه صورت کښی چه هغه ئی د عاریت ورکوونکي په اجازی د ګروی دپاره په عاریت اخیستی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۴۷۰ ماده:**

(۱) کـه عاریت اخیـستونکی د عاریت عـین بـی د عاریـت ورکـوونکی د اجازې په اجارې ورکې او ذکر شوی عین د اجارې اخیستونکی سره هلاک شـی، عاریـت ورکـوونکی کـولی شـی چـه د هغـی ضـمان د عاریـت اخیـستونکی یـا اجـارې اخیـستونکی څخـه وغـواړی. کـه ئـی د عاریـت اخیستونکی څخه ضمان وغوښتلو، نو نه شی کولی چه بل چا تـه رجـوع وکی. که ئی د اجارې اخیستونکی څخه د ضمان غوښتنه وکړه، اجاره اخیستونکی کولی شی چه عاریت اخیستونکی ته رجوع وکی. خو په دی شـرط چـه داجـارې دعقـد پـه وخت کښـی خبر نـه وی چـه عـین د هغـه سـره عـاریت دی.

(۲) که عین بی د عاریت ورکوونکی د اجازې په ګروی ورکـول شی او د ګروی اخیـستونکی سـره هلاک شـی نـو کـه ضـمان د عاریـت اخیـستونکی څخـه وغوښـتل شـو نـو ګـروی د ګـروی ورکـوونکی او ګـروی اخیـستونکی ترمنځ پاي ته رسیدلي ګڼل کیږي.

**۱۴۷۱ ماده:**

عـاریت اخیستونکی د عاریت په مال کښی چه بی د تیری څخه هلاک شـی ضـامن نـه دی. پـه عاریـت کـښی د ضـمان شـرط باطـل دی. کـه عاریـت اخیستونکی د عاریت د عین په ساتنه کښی قصور یا اهمال وکی، ضـامن دی.

**۱۴۷۲ ماده:**

که د عاریت عین عادی استعمال په نتیجه کښی یا د عرف سره سم داسی عیب جن شی چه د هغی د قیمت د کښته کیدو موجب شی، عاریت

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخیستونکی ددی قیمت د کموالی ضامن نه دی او که ئی په غیر عادی توګه استعمال که ضامن ګڼل کیږی.

**۱۴۷۳ ماده:**

که عاریت اخیستونکی په یو قسم د اقسامو د عاریت د عین د تلفیدو د مخنیوی توان ولری او مخنیوی ئی ونه کی، د ضمان په ورکولو مکلف کیږی. همدارنګه که د غصبوونکی د لاس په لیری کولو کښی قصور وکی، ضامن ګڼل کیږی.

**۱۴۷۴ ماده:**

مالی تکلیفونه، د عادی ساتنی مصرفونه او د عاریت د عین، بیرته ورکول د عاریت اخیستونکی په غاړه دی.

**۱۴۷۵ ماده:**

(۱) عاریت اخیستونکی مکلف دی چه د عاریت په پای کښی د عاریت عین په همغه پخوانی حالت رد کی. دا حکم د عاریت د عین د هلاک یا نقصان مسئولیت نه اخلالوی.

(۲) د عین بیرته ورکول په هغه ځای کښی صورت مومی چه عاریت اخیستونکی هلته تسلیم شوی، مګر داچه د هغی په خلاف موافقه شوی وی.

**۱۴۷۶ ماده:**

که عاریت اخیستونکی د عاریت د مودی د تیریدو وروسته عین دځان سره وساتی او یا ئی په موافقه شوی ځای کښی تسلیم نه کی نو که هلاک شو د هغی ضامن دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځلوم قسمت- د عاریت پای

### ۱۴۷۷ ماده:

(۱) عاریت د موافقه شوی مودی په تیریدو پای ته رسیږی. که موده نه وی ټاکل شوی نو د هغه منظور د پوره کیدو سره پای ته رسیږی چه د هغی دپاره عین په عاریت اخیستل شوی. په هغه صورت کښی چه د عاریت موده نه وی ټاکل شوی، عاریت ورکوونکی کولی شی هر وخت چه ئی زړه وغواړی د عاریت د پای غوښتنه کولی شی.

(۲) عاریت اخیستونکی کولی شی چه د عاریت د مودی د پای ته رسیدو ترمخه عین بیرته ورکی، خو که د عین بیرته ورکول د عاریت ورکوونکی په ضرر وو نو د هغی په قبلولو کښی مجبوریدلی نه شي.

### ۱۴۷۸ ماده:

عاریت ورکوونکی کولی شی چه په راتلونکو حالونو کښی بی له قیده د عاریت دپای غوښتنه وکی:

۱- په هغه حالت کښی چه غیر مترقبه احتیاج د عاریت عین ته پیدا کی.

۲- په هغه حالت کښی چه عاریت اخیستونکی عین بد استعمال کی او یائی په ساتنه کښی قصور وکی.

۳- پـه هغـه حالـت کـښی چـه عاریـت اخیـستونکی د عاریـت د عقـد د منعقیدو وروسته یا تر هغی ترمخه مفلس شی خو په دی شرط چه عاریت ورکوونکی د عقد په وخت کښی د هغه د افلاس څخه خبر نه وی بیا وروسته خبر شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۴۷۹ ماده:**

دعاریت عقددعاریت اخیستونکی په مړینه پای ته رسیږی او د هغه وارثانو ته نه نقلیږی.

**۱۴۸۰ ماده:**

که عاریت اخیستونکی مړ شی او د عاریت عین په متروکی کښی موجود نه وی نو په ترکه کښی د واجب الاداء پور په حیث پیژندل کیږی.

## دریيم باب
## د کار عقدونه

### لومړی فصل
### قرارداد ، د یو شي د جوړولو غوښتنه او د عمومي مرفقونو تعهدات

#### لومړی قسمت- قرارداد

#### لومړی مبحث - عمومی حکمونه

**۱۴۸۱ ماده:**

قرارداد داسی عقد دی چه د هغی په موجب د دواړو خواوو شخه یو د یو شی په جوړولو یا د یو کار په کولو په مؤقتی یا غیر مؤقتی صورت د بلی خوا دپاره د اجوری په بدل کښی تعهد کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۴۸۲ ماده:**

د کار د کولو یا د داسی شیانو د جوړولو قرار داد چه د قانون یا عمومی نظام مخالف وی جواز نه لری.

**۱۴۸۳ ماده:**

(۱) تعهد کوونکی کولی شی چه یوائی دکار کولو تعهد وکی او کوم مواد چه د کار په اجراء کولو کښی په کار اچول کیږی او یا ورڅخه گټه اخیستل کیږی د کار د خاوند په غاړه کښیږدی.
(۲) که تعهد کوونکی د کار د کولو او د موادو د برابرولو تعهد وکی، جواز لری.

**دوه یم مبحث - د قرارداد کوونکی التزامونه**

**۱۴۸۴ ماده:**

که قرارداد کوونکی د کار د ټولو یا ځینو موادو په برابرولو تعهد وکی، د هغی د کیفیت څخه مسئول او د کار د خاوند په مقابل کښی د هغی څخه ضامن دی.

**۱۴۸۵ ماده:**

(۱) که مواد دکار دخاوند له خوا برابر شو نو تعهد کوونکی مکلف دی چه د موادو په استعمال کښی دقت وکی او فنی اصول په کار واچوی.
(۲) که د تعهد کوونکی د اهمال په نسبت یا د هغه د فنی کفایت د نقصان له امله ځینی مواد د گټی اخیستلو قابلیت د لاسه ورکی نو مکلف دی چه د هغی قیمت د کار خاوند ته ورکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۴۸۶ ماده:**

تعهد کوونکی مکلف دی هغه اضافی سامان چه د کار اجرا کول ئی ایجابوی پخپل مصرف برابر کی، مگر داچه د کسب گرو عرف یا د دواړو خواوو موافقه په بل ډول وی.

**۱۴۸۷ ماده:**

د تعهد کوونکی له خوا د موافقه شوی اجوری زیاتوالی او دکار خاوند له خوا د هغی کموالی، د قرار داد د عقد څخه وروسته جواز نه لری، مگر داچه قانون یا موافقه د هغی په خلاف وی.

**۱۴۸۸ ماده:**

که ظاهره شی چه تعهد کوونکی په ناقص صورت یا د عقد په خلاف کار ترسره کوی، نو د کار خاوند کولی شی چه هغه ته خبرتیا ورکی چه په یوی ټاکلی مودی کښی د خپل طرزالعمل څخه صرف نظر وکی، که تعهد کوونکی دټاکلي مودي په اوږدو کې د خپل طرز العمل څخه صرف نظر ونه کړو نو د کار خاوند کولی شی چه عقد فسخ کی او یا د لومړنی کار پوره کول د لومړنی متعهد په حساب بل چاته وسپاری.

**۱۴۸۹ ماده:**

تعهد کوونکی نه شی کولی دکار د پوره کیدو او د کار خاوند د هغی د تسلیمیدو ترمخه د موافقه شوی اجوری غوښتنه وکی مگر دکار خاوند کولی شی چه داجوری یوه برخه په پیشکی توگه ادا کی یا دارنگه موافقه وکی چه اجوره به دکار د ترسره کولو په تناسب ورکوم خو په دی شرط چه تعهد کوونکی دپاتی برخی په پوره کولومجبور کړی شی د هغی په غیر به د کار خاوند د تعهد کوونکی په مصرف هغه پوره کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۴۹۰ ماده:**

ساختمانی انجنیر او قرارداد کوونکی ترلسو کلونو پوری د عمارتونو د نړیدلو، ماتیدلو، د هغی د ټول یا یو جزء کښیناستلو څخه یا د نورو ثابتو ملحقاتو چه اعمار کړی ئی دی، په متضامن صورت مسئول ګڼل کیږی. که څه هم نړیدل، ماتیدل یا کښیناستل پخپله د ځمکی د عیب په سبب وی یا داچه پخپله د کار خاوند د عیب جن عمارت په جوړولو اجازه ورکړی وی. مګر داچه د عقد دواړی خواوی اصلاً غواړی چه عمارت دی ترلسو کلونو پوری دوام ونه کی.

**۱۴۹۱ ماده:**

(۱) کوم عیبونه چه د بنأ پوخوالی مقاومت او سلامتیا تهدیدوی ددی قانون د(۱۴۹۰) مادی د درج شوی ضمان تابع دی.

(۲) د دی قانون د(۱۴۹۰) مادی د درج شوو لسو کلونو موده د کار د تسلیم ورکولو د نیټی څخه پیل کیږی.

(۳) ددی مادی حکم د هغه تعهد کوونکی په باره کښی چه په دوهم تعهد کوونکی (باطنی تعهد کوونکی) د رجوع کولو حق لری، نه تطبیقیږی.

**۱۴۹۲ ماده:**

دپلان او د نقشی د طرحی مهندس چه د کار په اجرا کولو نظارت ونه لری نو یوائی د پلان او نقشی دعیب مسئول دی.

**۱۴۹۳ ماده:**

هرشرط چه د ساختمانی مهندس انجنیر او قرار داد کوونکی د ضمان مانع وی، باطل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۴۹۴ ماده:**

د ضمان دعوی ددی قانون د (۱۴۹۰، ۱۴۹۱، ۱۴۹۲) مادو په حالونو کښی د نړېدو، ماتېدو کښیناستو یا د عیب د کشف کېدو د یوه کال د مودی د تیریدو وروسته ساقطیږی.

**دریم مبحث - د کار د خاوند وجیبی**

**۱۴۹۵ ماده:**

که د نړېدلو، ماتیدلو او د عمارت د ټول یا یوه جزء د کښیناستلو څخه پیدا شوی تعویض د ساختمانی بیمی له خوا ورکول شوی وی، نو د عمارت خاوند نه شی کولی چه د هغی غوښتنه دساختماني انجنیر، مهندس او قرارداد کوونکی څخه وکي.

**۱۴۹۶ ماده:**

د کار خاوند مکلف دی د کار د پوره کیدو سره یوځای، د جاری عرف سره سم هغه تسلیم شی، د هغی په غیر تعهد کوونکی کولی شی د یوی ټاکلی مودی په اوږدو کښی د هغی په تسلیمیدلو ورته خبرتیا ورکی. که د کار خاوند د ذکر شوی مودی په تیریدو سره هغه تسلیم نه شی، نو تسلیم شوی ګڼل کیږی.

**۱۴۹۷ ماده:**

د کار خاوند مکلف دی چه کومه اجوره یی شرط کړی هغه د تسلیمیدو په وخت کښی ورکی، مګر داچه عرف یا موافقی د هغی په خلاف حکم کړی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۴۹۸ ماده:**

(۱) که د کار د اجرا کولو په وخت کښې د موافقې د حدودو څخه تیری ولیدل شي، تعهد کوونکی مکلف دی د زیاتو تکلیفونو د اندازې څخه د کار خاوند ته خبرتیا ورکی، د هغې په غیر نه شي کولی چه کوم زیات مصرفونه ئې د موافقه شوې اندازې د قیمت څخه کړی د هغې غوښتنه وکی.

(۲) په هغه صورت کښې چه د موافقه شوې اندازې څخه زیاتوالی ډیر لوی وو نو د کار خاوند کولی شي چه عقد فسخ کی او تعهد کوونکی ته د هغه چه د عقد سره سم ئې پوره کړی قیمت ورکی.

**۱۴۹۹ ماده:**

(۱) که عقد په بالمقطع اجورې تمام شوی وی، تعهد کوونکی نه شي کولی چه د اجورې د زیاتوالی غوښتنه وکی که څه د تعهد کوونکی د کار په پلان کښې تعدیل راغلی وی. مګر داچه تعدیل د کار د خاوند د تصمیم په اثر صورت موندلی وی.

(۲) تعهد کوونکی نه شي کولی چه د نرخ او اجورې د لوړیدو په موجب، د اجورې د زیاتوالی غوښتنه وکی، مګر په هغه صورت کښې چه داسې استثنائی او عمومی حوادث پیداشي چه د عقد په وخت کښې ئې پیشبینی نه شوای کیدای او د هغې په اثر هغه معیار چه د قرارداد مالی سنجول وربانـدی ټینګ ولاړ دی بـل رنګـه شـي. پـه دی صـورت کښې محکمه کولی شي چه د اجورې په زیاتوالی یا د عقد په فسخ کیدو حکم وکی. مګر داچه دواړو خواوو بل رنګه موافقه کړی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۵۰۰ ماده:**

که اجوره نه وه ټاکل شوې د پوره شوي کار مصرفونه د پوهانو په وسیلې ټاکل کیږي.

**۱۵۰۱ ماده:**

که د نقشې مهندس د اندازونیول پوره کړل یا د تعمیر اداره د هغې د خاوند په امر د ټاکلې اجورې په بدل کښې په غاړه واخلي د ذکر شوې اجورې مستحق ګڼل کیږي.

**۱۵۰۲ ماده:**

که د کار خاوند د مهندس اجوره نه وي ټاکلې د مثلې اجورې مستحق کیږي او د هغې مودې سره سم چه د هغه کار په کښې شوي او د عرف سره ټاکل کیږي.

**څلوم مبحث – دوهم تعهد کوونکی**

**۱۵۰۳ ماده:**

(۱) که د کار طبیعت یا د عقد صراحت مانع نه شي نو تعهد کوونکی کولې شي چه بل څوک د ټول یاځینې کار د اجرأ کولو دپاره مکلف کي، په هر صورت تعهد کوونکی د کار دخاوند په مقابل کښې د دوه یم تعهد کوونکي د کار مسئول دی.

(۲) دوه یم تعهد کوونکی د لومړني تعهد کوونکي په مقابل کښې مسئول ګڼل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځم مبحث - د قرار داد پای ته رسیدل

**۱۵۰۴ ماده:**

د قرارداد عقد د تعهد شوی کار په سرته رسیدو، د دواړو خواوو د موافقی سره سم د هغی په تسلیمولو او د قانون په حکمونو پای ته رسیږی.

**۱۵۰۵ ماده:**

د کار خاوند کولی شی هر وخت چه ئی زړه وغواړی د کار اجرأ کول متوقف کی او عقد ته خاتمه ورکی، خو په دی شرط چه د تعهد کوونکی مصرفونه، د سرته رسیدلی کار اجوره او کومه گټه چه د کار په سرته رسیدو ترسره کېده جبیره کی. محکمه کولی شی د شرطونو د ایجاب په صورت کښی، تعویض کم کي.

**۱۵۰۶ ماده:**

که د تعهدشوی کار ترسره کول محال شی د قرارداد عقد پای ته رسیږی.

**۱۵۰۷ ماده:**

(۱) که شی پخوا له دی چه د کار خاوند ته تسلیم کړی شی د غیرمترقبه سببونو په اساس هلاک شی، نو تعهد کوونکی نه شی کولی چه د کار د اجوری او مصرفونو غوښتنه وکی، مګر داچه د کار خاوند ته ئی ترمخه لیکلی خبرتیا ورکړی وی. د موادو د هلاکیدو تاوان د موادو په برابروونکی دی.

(۲) که د شی هلاک یا نقصان د کار د خاوند د خطا په اثر وی یا د هغی موادو د عیب په اثروی چه د کار خاوند هغه برابر کړی دی، نوتعهد کوونکی د اجوری او د ایجاب وخت کښی د تعویض هم مستحق کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۵۰۸ ماده:**

که د قرار داد په عقد کښې د تعهد کوونکی شخصي اعتماد د اعتبار ځای وی، نو عقد د تعهد کوونکی په مړینی پای ته رسیږی، د هغی په غیر عقد پخپل حا ل پاتی کیږی، مگر داچه د تعهد کوونکی په وارثانو کښې د کار د ښه اجرا آتو په باره کښې کافی تضمینات موجود نه وی.

**۱۵۰۹ ماده:**

(۱) که د مقاولی عقد د تعهد کوونکی په مړینی پای ته ورسیږی د کار خاوند د انجام شوی کار د قیمت په اداء کولو او د هغی مصرفونو چه دناپوره برخی د اجراء کولو د پاره یی صورت مونډلی مکلف کیږی، دا مکلفیت د هغی گټی په اندازی دی چه د ذکر شوی کار او مصرفونو څخه د کار خاوند ته رسیدلی دی، ددی په مقابل کښې دکار خاوند کولی شی چه برابر شوی مواد دیو عادلانه تعویض په بدل کښې وغواړی.

(۲) ددی مادی د پورتني فقری حکم د هغه تعهد کوونکی په باره کښې هم تطبیقیږی چه د کار کولو ته یی اقدام کړی خو د ارادی څخه دباندی سببونو په اساس د هغی د پوره کیدو څخه عاجز شوی وی.

**دوه یم قسمت- د یوشي د جوړ ولو غوښتنه**

**۱۵۱۰ ماده:**

د یو شی د جوړولو د غوښتنی قرارداد د یو مشخص قیمت په بدل کښې د ټاکلی شی جوړول دی په داسی توگه چه قرارداد شی په عین واردوی نه د جوړوونکی په کار.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۵۱۱ ماده:**

د یو شی د جوړولو د غوښتنې په قرارداد کښې د مطلوب شی د جنس، نوعې، اندازې او د صفت بیان شرط دی.

**۱۵۱۲ ماده:**

د یو شی د جوړولو د غوښتنې په قرار داد کښې د نظر لاندې شی د قیمت ادأ کول په معجل صورت هرو مرو نه دی.

**۱۵۱۳ ماده:**

(۱) که د یو شی د جوړولو د غوښتنې قرار داد منعقد شوی وی نو قرارداد کوونکی نه شی کولی چه د خپلو تعهدونو څخه منصرف شی، مگر داچه د دواړو خواوو ترمنځ بل رنگه موافقه شوی وی.
(۲) که جوړوونکی خپل تعهد د قرار داد د شرطونو سره سم تر سره کړی نه وی نو د شی د جوړولو غوښتونکی د جوړ شوی شی په قبلولو مکلف نه دی، کولی شی چه د جوړوونکی څخه د رسیدلی تاوان د تعویض غوښتنه وکی.
(۳) که د شی د جوړولو غوښتونکی د خپل غوښتل شوی شی د قبلولو او تسلیمیدلو څخه بی سببه او بی د معقولو د لیلونو ځان وژغوری، نو د هغې په تسلیمیدو مکلف کیږی، د هغې په غیر جوړوونکی کولی شی چه د شی د جوړولو د غوښتونکی څخه د هغې تاوان د تعویض غوښتنه وکی چه د تسلیمیدو د تأخیر په سبب یا د تعهد د نه په ځای کولو په سبب ورته رسیدلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۵۱۴ ماده:**

(۱) جوړوونکی مکلف دی چه د جوړولو غوښتل شوی شی په داسی توګه جوړکی چه د تضمین شوی صفت لرونکی وی او د هغی څخه غوښتل شوی ګټه واخیستل شی. همدارنګه باید چه ذکر شوی شی د داسی عیب څخه خالی وی چه د شی قیمت ټیټه وی.

(۲) که د جوړولو غوښتل شوی شی موافقه شوی صفتونه او شرطونه ونه لری نو د شی د جوړولو غوښتونکی کولی شی چه د عیب د لیری کېدو غوښتنه وکي.

(۳) که جوړوونکی د عیب په لیری کیدلو کښی تأخیر وکي، د شی د جوړولو غوښتونکی کولی شی چه عیب لیری کی او مصرفونه د جوړوونکی څخه وغواړی.

**۱۵۱۵ ماده:**

د شی د جوړولو غوښتونکی به ددی قانون د(۱۵۱۴) مادی د درج شوی عیب د لیری کولو دپاره مناسبه موده ټاکی او دا خبره به توضیح کوی چه که په ټاکلی مودي کي موجود عیب لیرې نه شي نو شی به بیرته ورکوي. د ټاکلي مهلت د تیریدو وروسته د شی د جوړولو غوښتونکی کولی شی چه د قرارداد څخه رجوع وکی او یا د عیب په تناسب د قیمت د ټیټوالی غوښتنه وکي.

**۱۵۱۶ ماده:**

که د شی د جوړولو غوښتونکی، د غوښتل شوی جوړ شوی شی په عیب پوه شی او سره د هغی هم تسلیم شی، نو په جوړوونکی د رجوع حق نه لری مګر داچه د عیب خیارئی دځان دپاره شرط کړی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۵۱۷ ماده:**

(۱) د جوړولو د غوښتل شوی شی قیمت د تسلیمیدلو په وخت کښی د اداء کولو وړوی، مګر داچه موافقه په بل ډول شوی وی.
(۲) که د جوړونو غوښتل شوی شی جزء په جزء د تسلیمیدو وړ وی نو قیمت ئی د هر جزء د تسلیمیدو په مقابل کښی د اداً کولو وړ دی.

**۱۵۱۸ ماده:**

(۱) که جوړ شوی شی پخواله دی چه د جوړولو غوښتونکی ته تسلیم کړی شی، تلف شی نو جوړوونکی ئی ضامن ګڼل کیږی.
(۲) که ذکر شوی شی په داسی وخت کښی تلف شی چه ټاکلی موده پای ته رسیدلی وی او جوړوونکی د شی د جوړولو غوښتونکی ته خبرتیا ورکړی وی چه جوړ شوی شی تسلیم شی، او هغه بی موجبه په تسلیمیدو کښی وروسته والی راوړی، نو جوړوونکی مسئول نه ګڼل کیږی مګر داچه تلف کول د جوړوونکی یا د هغه د اجیرانو د قصور په سبب صورت موندلی وی.

**۱۵۱۹ ماده:**

که جوړ وونکی د شی جوړولو دغوښتونکی د غوښتنی په اساس، جوړ شوی شی د خپل د جوړولو د ځای څخه بل ځای ته لیږی نو په دی حالت کښی د خرڅولو پوری مربوط حکمونه مراعات کیږی.

**۱۵۲۰ ماده:**

جوړوونکی حق لری چه د خپلی اجوری د اخیستلو دپاره چه د قرارداد له لحاظه د هغی مستحق دی، کوم شی چه ئی جوړ کړی او په تصرف کښی ئی لری، حبس کی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۵۲۱ ماده:**

(۱) د شي د جوړولو غوښتونکی او د هغه وارثان کولی شي چه عقد فسخ کی، که څه هم جوړوونکی د جوړولو د غوښتل شوی شي په جوړولو پیل کړی وی، خو په دی شرط چه جوړوونکی ته د شوی کار اجوره، د مصرف شوو موادو د قیمت او د تیار شوو موادو تاوان ورکی، مگر داچه موافقه بل رنگه شوی وی.

(۲) محکمه کولی شي د ایجاباتو، حالونو او کیفیتونو سره سم د تعویض اندازه کمه کی.

**۱۵۲۲ ماده:**

(۱) د شي د جوړولو غوښتونکی کولی شي په را تلونکو حالونو کښی جوړوونکی ته د خبرتیا وروسته قرارداد فسخ او د ضرر رسیدلو په صورت کښی د تعویض غوښتنه وکی:

۱- په هغه حالت کښی چه جوړوونکی بی د معقول عذر څخه د معقولی مودي په اوږدو کښی د خپل تعهد په اجراء کولو پیل ونه کی.

۲- په هغه حالت کښی چه جوړوونکی د ټاکلی مودی په اوږدو کښی د شي د جوړولو د غوښتونکی، د غوښتل شوی شي په تسلیمولو کښی وروسته والی راوړی.

(۲) که وروسته والی او د جوړوونکی له خوا د تعهد نه اجراء کول د خطا یا د داسی کار څخه پیدا شوی وی چه د شي د جوړولو د غوښتونکی پوری مربوط وی او د جوړوونکی د صریحی او لیکلی غوښتنی سره د هغی په اداء کولوته ئی اقدام نه وی کړی، نو جوړوونکی کولی شي چه عقد فسخ او د رسیدلی تاوان د تعویض غوښتنه وکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۵۲۳ ماده:**

که د تعهد اداء کول د پیل کیدو وروسته په داسی سبب چه د قرارداد کوونکو د ارادو دباندی وی قطع شی، جوړوونکی نه شی کولی چه د ثمن د قبضولو غوښتنه وکی، مگر د هغه کار په تناسب چه د تعهد د قطع کیدو ترمخه ئی برابر کړی وی.

**۱۵۲۴ ماده:**

کوم کار کوونکی او اجیران چه د قرار داد په عقد کښی استخدامیږی د شی د جوړولو د غوښتونکی په مقابل کښی یا د هغه چا چه جوړول شوی شی د هغه په گټه تیار شوی د مستقیمی دعوی حق د هغی پیسو په حدودو کښی لری چه د شی د جوړولو غوښتونکی جوړوونکی ته د هغی په اداء کولو مکلف وی. ذکر شوی اشخاص د محکمی د حکم د صادریدلو وروسته په ذکر شوو پیسو د امتیاز حق پیدا کوی، دوه یم قرار داد کوونکی د لومړنیو قرار داد کوونکو له خوا او نور اشخاص چه اولنی مواد د جوړوونکی دپاره برابر وی، د شی د جوړولو په غوښتونکی د مستقیمی دعوی حق نه لری.

**دریم قسمت- د عمومی مرفقونو تعهدات**

**۱۵۲۵ ماده:**

د عمومی مرفقونو تعهدات داسی عقد دی چه ورڅخه غرض د عمومی مرفقونو اداره چه گټور صفت ولری د حکومت او فرد ترمنځ یا د حکومت او شرکت ترمنځ منعقدیږی او د هغی په موجب د یوی ټاکلی مودی دپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عمومي مرفقونو څخه ګټه اخیستل د تعهد کوونکي په اختیار کښې ورکول کیږي.

**۱۵۲۶ ماده:**

د عمومي مرفقونو تعهد کوونکی د هغه عقد په موجب چه د معامله لرونکو سره ئې تړي، تعهد کوي چه د مقابلي خوا دپاره به معمول لازمي خدمتونه د هغې اجورې په بدل کښې چه د عقد د تصریح شوو شرطونو سره سم وي او د هغه شرطونو موافق وي چه د کار طبیعت او د مربوطو قوانینو حکمونه ئې ایجابه وي هغه به ترسره کوي.

**۱۵۲۷ ماده:**

(۱) د عمومي مرفقونو تعهد کوونکی مکلف دی د خپلو معامله لرونکي ترمنځ د اجورې د ورکولو او د خدمتونو ترسره کولو په باره کښې پوره مساوات تأمین کي. د هغې عقدونو په باره کښې چه تعهد کوونکي ئې د معاملي لرونکو سره منعقدوي کوم نرخ چه د حکومت له خوا ټاکل کیږي، مراعات یې لازم دی او د عقد دواړه خواوې د هغې په خلاف موافقه نه شي کولی. که حکومت د دې نرخ تعدیل لازم وګڼلو او منظور ئې کړو نوی نرخ د منظوریدو د نېټې څخه یې له دې چه په ماقبل تاثیر وکي، اجرا کیږي.

(۲) کوم معامله لرونکي چه د ټاکلي نرخ څخه زیات ورکړې وي، کولی شي چه د هغې د بیرته اخیستلو غوښتنه وکي. که تعهد کوونکي د ټاکلي نرخ څخه کم اخیستي وي کولی شي چه د هغې د پوره کیدو غوښتنه وکي، د دې حکم په خلاف هره نوعه بله موافقه باطله ګڼل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۵۲۸ ماده:**

(۱) د خلکو د ورو او راوړو تعهد کوونکی مکلف دی د سورلیو د سلامتیا دپاره لازمی احتیاط ونیسی، تعهد کوونکی د هغه ضرر مسئول دی چه د سوریدو او کښته کیدو په وخت کښی خلکوته رسیږی، مګر داچه ثابته کي ضرر دبهرنی سبب څخه پیدا شوی او یی د هغه د ارادی څخه وو.

(۲) که د تعهد کوونکی له خوا د ځینو غیر قانونی آلو د استعمال په نسبت ضرر ورسیدلو دا ضرر د بهرنی سبب څخه پیدا شوی نه ګڼل کیږی.

## دوه یم فصل
## د کار عقد

### لومړی قسمت- عمومي حکمونه

**۱۵۲۹ ماده:**

د کار عقد د هغه عقد څخه عبارت دی چه د هغی په موجب د عقد یوه خوا د بلی خوا سره داسی تعهد کوی چه خدمت به د هغه د لارښوونی لاندی د یوی ټاکلی اجوری په بدل کښی ترسره کوي.

**۱۵۳۰ ماده:**

(۱) ددی فصل درج شوی حکمونه د کرهنی د کار ګرانو او د کورونو د مستخدمینو په باره کښی نه تطبیقیږی. د هغوی پوری مربوط امور د خاصو قوانینو او د هغی پوری مربوط عرف تابع دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) ددې فصل درج شوې حکمونه د دولت د نورو کارګرانو او اجیرانو په باره کښې ترکوم ځایه چه د کار او کارګر او اجیرانو د قوانینو سره مغایرت ونه لرې تطبیقیږی.
(۳) قانوني رخصتي، مریضي، سفریه او کرایه، د اجوری کمه اندازه، د ګټې په فیصدې کښې ګډون، عایدات او تولیدات، د استخدام شرطونه، دتنظیم پوري مربوط حکمونه دکار تصنیف او تقسیم، مؤیدی، تقاعد او نور اجتماعی تأمینات، حقوق، امتیازونه او د کار د خاوند او کارګر مکلفیتونه چه په دې قانون کښې ئې پیش بیني نه ده شوې، د خاص قانون د حکمونو تابع دی.

### دوه یم قسمت– د عقد رکنونه

### ۱۵۳۱ ماده:

د کار په عقد کښې خاص شکل شرطونه دی، مګر داچه قانون د هغې په خلاف تصریح کړې وی.

### ۱۵۳۲ ماده:

د کار عقد د یوه ټاکلي خدمت دپاره یا د ټاکلي مودې یا نا ټاکلي مودې دپاره جواز لری.

### ۱۵۳۳ ماده:

که موده په عقد کښې نه وی ټاکل شوې د عقد دواړه خواوې کولی شی هر وخت چه ئې زړه وغواړی عقد فسخ کی، خو په دې شرط چه کم ترکمه ئې دوه میاشتې ترمخه بلې خواته خبرتیا ورکړې وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۵۳۴ ماده:**

که د عقدموده ټاکلی وی نو د عقد د مودی په تیریدو سره پخپله پای ته رسیږی، او که یی د عقد دپای ته رسیدو وروسته دواړو خواوو عقد ته دوام ورکړو، نو دنامعلومی مودی دپاره عقد نوی شوی ګڼل کیږی.

**۱۵۳۵ ماده:**

که په عقد کښی د اجوري اندازه نه وی ټاکل شوی، د جاری عرف سره سم مثلی اجوره ټاکل کیږی. که عرف موجود نه وو نو محکمه به هغه په داسی توګه ټاکی چه عدالت تأمین شی.

**دریم قسمت- د عقد حکمونه**

**لومړی مبحث - د اجیر التزامونه**

**۱۵۳۶ ماده:**

کار کوونکی په راتلونکو کارونو مکلف دی:

۱- په مستقیم صورت د کار اجرأ کول او د یو عادی شخص په شان په هغی کښی توجه کول.

۲- د موافقه شوی کار په ساحه کښی د کار خاوند د امرونو اجرأ کول، خو په دی شرط چه داسی کارونو ته شامل نه وی چه د عقد، قانون یا عمومی آدابو مخالف وی، او د هغی اجرأ کول خطر پیدا نه کی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۵۳۷ ماده:**

(۱) که کار کوونکی ته د ورسپارل شوی کار طبیعت په داسی توګه وی چه هغه د کار په عمده اسرارو خبر وی، نو دواړه خواوی کولی شی داسی موافقه وکی چه کارکوونکی نه شی کولی د عقد د مودی دپای ته رسیدو وروسته د کار د خاوند سره رقابت وکی او یا په داسی پروژی کښی ګډون وکی چه د کاردخاوند سره رقابت لری.

(۲) د پورتنی فقری د صحت دپاره د راتلونکو شرطونو مراعات ضروری دی:

۱- کارګر باید چه د عقد د تړون په وخت کښی د رشدعمرته رسیدلی وی.

۲- په کارګر باندی وارد شوی محدودیت باید د زمانی، ځای، او د کار د نوعیت له حیثه د کار د خاوند د جایزو ښیګڼو د ضرورت د اندازی د ساتلو په اندازی منحصر وی.

۳- دا موافقه باید چه د کارګر په راتلونکی ژوند د اقتصاد له پلوه د عدالت منافی تاثیرونه لری.

۴- د کارګر دپاره په عقد کښی د محدودیت څخه د پیدا شوی تاوان تعویض د ټاکل شوی تاوان په تناسب وی.

**۱۵۳۸ ماده:**

که کارګر د کار په وخت کښی په اختراع موفق شی د اختراع امتیازونه او حقوق پخپله کارګر پوری مربوط دي، مګر داچه موافقه په بل ډول شوی وی او یا د کار خاوند له خوا کارګر د اختراع او ابتکار دپاره استخدام شوی وی، سره د دی هم دکار خاوند مکلف دی چه د عدالت د ایجاباتو سره سم کارګر ته مکافات او بخشش ورکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۵۳۹ ماده:**

د رقابت څخه د ځان د نه ژغورلو په صورت کښي که په جزایي شرط موافقه شوی وی او شرط په داسی توګه وی چه د ټاکلی مودی څخه د کار د خاوند دپاره د اجیر د اجباری وظیفی د زیات دوام موجب وګرځی، نو ذکر شوی شرط باطل ګڼل کیږی او د ذکر شوی شرط باطلیدل د نه رقابت شرط هم د مینځه وړی.

**دوه یم مبحث - د کار د خاوند التزامونه**

**۱۵۴۰ ماده:**

د کار خاوند په راتلونکو امورو مکلف دی:

۱- د دی قانون د حکمونو سره سم داجیر داجوری ورکول.

۲- د اجیر د سلامتیا د تأمین او د خطر څخه د هغه د ساتنی دپاره د لازمو وسیلو برابرول.

۳- د عقد د پای ته رسیدو وروسته د داسی تصدیق ورکول چه د اجیر د کار د داخلیدو او وتلو د نېټې، د کار د نوعی، د اجوری د اندازی او د عقد د التزامونو څخه د هغه د برائت متضمن وی.

۴- د هغی پاڼو او تصدیقونو بیرته ورکول چه د اجیر له خوا ورته تسلیم کړی شوی دی.

۵- نور هغه مکلفیتونه چه په خاص قانون کښی تصریح شوی وی.

**۱۵۴۱ ماده:**

که اجیر په ټاکلی مودی کښی د وظیفی د سرته رسولو دپاره حاضر شی او خپله تیاری د کارکولو دپاره اعلام کی، مګر د هغی سببونو په اساس چه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کار خاوند ته راجع دي د کار اجرأ کولو ته اقدام ونه کړي شي، نو د ټاکلي مودي د اجوري مستحق دي.

**۱۵۴۲ ماده:**

که دکارموده په عقدکښي ټاکل شوي وي اودکارخاوندبی له دي چه په اجير کښي کوم داسي عيب وګوري يا کوم عذر پيدا شي چه د عقد د فسخ کېدو موجب وګرځي، عقد فسخ کي نو د ټولي مودي د اجوري په ورکولو او دايجاب په وخت کښي دتعويض سره مکلف دي.

**۱۵۴۳ ماده:**

د کار خاوند ددي قانون د(۱۵۴۰، ۱۵۴۱، ۱۵۴۲) مادو په درج شوو التزامونو علاوه مکلف دي چه د هغي وظيفو په سرته رسولو ته اقدام وکي چه د خاصو قوانينو سره سم مکلف شوي دي.

**دریيم مبحث - د کار د عقد پاي**

**۱۵۴۴ ماده:**

ددي قانون د(۱۵۳۳، ۱۵۳۴) مادو د درج شوو حکمونو په مراعات کولو سره د کار عقد د ټاکلي مودي په پاي ته رسيدو يا د هغه کار په پوره کېدو چه د هغي دپاره عقد صورت موندلي دي، پاي ته رسيږي.

**۱۵۴۵ ماده:**

که دعقدفسخ کېدل ددواړوخواوو څخه ديوه له خوا دحق دبد استعمال څخه پيدا شوي وي بله خوا کولی شي په هغي تعويض علاوه چه په ټاکلي مودي کښي دنه خبرتياله امله دهغي مستحق کيږي،دحق دبداستعمال له

(c) ketabton.com: The Digital Library



امله چه ورڅخه د عقد فسخ کېدل پیداشوی دهغی دتعویض غوښتنه هم وکي.

**۱۵۴۶ ماده:**

که د کار د خاوند هغه رویه چه د عقد د شرطونو مخالفه وی ددی باعث شی چه اجیر انفصال ته مجبور کی او په ظاهر کښی اجیر د عقد فسخ کوونکی وګڼل شی، محکمه کولی شی چه د کار خاوند په تعویض ورکولو محکوم کی.

**۱۵۴۷ ماده:**

محکمه به د هغه تعویض د ټاکلو د اندازی په باره کښی چه د حق د بد استعمال د انفصال څخه پیدا شوی جاری عرف، د هغه کار طبیعت چه عقد د هغی د پاره تړل شوی، د اجیر د خدمت موده او د رسیدلی ضرر اندازه په نظر کښی نیسی.

**۱۵۴۸ ماده:**

په راتلونکو حالونو کښی د کار خاوند کولی شی بی د پخوانی خبرتیا څخه د عقد فسخ کېدو ته اقدام وکی:

۱- په هغه حالت کښی چه اجیر خپل شهرت په واقعی صورت نه وی معرفی کړی او یایی جعلی تصدیقونه او جوازښکاره کړی وی.

۲- په هغه حالت کښی چه شخص د کار د نامزدی په دوری کښی د کار د خاوند رضائیت نه وی حاصل کړی، خو په دی شرط چه د هغه د ټاکلو د نېټي څخه انفصال د دری میاشتو په اوږدو کښی صورت موندلی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ -په هغه حالت کښې چه داجیرله خوادکارخاوندته دمادي تاوان درسولو په مقصد ، عمدي عمل یا تقصیرواقع شی،خو په دی شرط چه د هغی دواقع کیدو د نېټې څخه ئی د موضوع څخه د څلیرویشتو ساعتونو په اوږدو کښې قانوني واک لرونکی شخص ته خبرتیا ورکړی وی او د تحقیق په نتیجې کښې اتهام ثابت شي.

۴- په هغه حالت کښې چه په یوه کال کښې د پنځلسو ورځو څخه زیات او یا یوه هفته پرله پسې بی د معقول عذر څخه ناسوب شي.

۵- په هغه حالت کښې چه د اجیر له خوا په عقد مرتب شوی التزامونه اداء نه شي.

۶- په هغه حالت کښې چه د اجیر له خوا د کار د دستګاه پوری د مربوطو صنعتي یا تجارتي اسرارو افشاء کول ثابت شي.

۷- په هغه حالت کښې چه اجیر په داسي جنایت یا جنحی محکوم شي چه د شرف، امانت داری او د اخلاقو منافي وي.

۸- په هغه حالت کښې چه په اجیر باندی د کار په دستګاه کښې د کار د اجراء کولو په وخت کښې د عمومي آدابو په خلاف د یو جرم ارتکاب ثابت شي.

۹- په هغه حالت کښې چه اجیر د کار په وخت کښې یا د کار په سبب په رئیس یا د مدیره هیأت په یوه غړی تیری وکی.

**۱۵۴۹ ماده:**

(۱) په راتلونکو حالونو کښې اجیر کولی شي بی د پخواني خبرتیا عقد فسخ او کار پریږدی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- په هغه حالت کښې چه د کار خاوند د عقد په وخت کښې پرهغه د غش څخه کار اخیستی وی. خو په دی شرط چه د هغه د کار څخه د ډېرش ورځو څخه زیاتی نه وی تیری شوی.
۲- په هغه حالت کښې چه د کار خاوند خپلی هغه وجیبې چه د قانون د حکمونو او عقد سره سم د هغی په کولو مکلف دی، ترسره نه کی.
۳- په هغه حالت کښې چه د کار خاوند د اجیر یا هغه کورنی د یوه فرد په مقابل کښې د داسی فعل ارتکاب کوونکی شی چه د عمومی آدابو مخالف وی.
۴- په هغه حالت کښې چه د کار خاوند یا د هغه نماینده په اجیر باندی په وهلو سره تیری وکی.
۵- په هغه حالت کښې چه لوی خطر د اجیر سلامتیا یا صحت تهدید کی، خو په دی شرط چه د کار خاوند سره ددی چه په هغی علم لری لازمی تدبیرونه ونه نیسی.
(۲) په هغه صورت کښې چه اجیر د پورتنی فقری د درج شوو سببونو څخه په یوه سبب کار پریږدی د تعویض حق لری.

**۱۵۵۰ ماده:**

که تجارتخانه د تأسیساتو سره خرڅه کړی شی یا داچه د نورو تأسیساتو سره د هغی د یوځای کېدو یا مزجیدو په نسبت تعدیل راشی، نو د کار ټول عقد چه د بیعی یا تعدیل په وخت کښې یی مراعات کېدلو، دکار د نوی خاوند او اجیر ترمنځ د نفاذ په حالت پاتی کیږی. دکار نوی خاوند او د کار پخوانی خاوند د تضامن په صورت د اجوری د ورکولو او تعویض د حقوقو مسئول دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۵۵۱ ماده:**

د کار عقد د کار د خاوند په مړيني پاى ته نه رسيږي، مګر داچه د کار د قرارداد په عقد کښې د هغه د شخصيت مراعات شوى وى، خو د اجير په مړيني عقد فسخ کيږي.

**۱۵۵۲ ماده:**

که د اجير مړيني، اوږدى رنځوري يا د بل مجبره سبب په اثر چه د اجير د کار د دوام مانع ګرځى عقد فسخ شى، د کار خاوند مکلف دى اجيرته او په هغه حالت کښې چه اجير مړ شوى وو د هغه ښځى يا فرعى ته دومره تعويض ورکى چه بى د خبرتيا د انفصال د حالت د تاوان معادل وى. د تاوان اندازه د خاصو قوانينو په وسيلى يا د موافقتنامى په وسيلى ټاکل کيږي.

**۱۵۵۳ ماده:**

کومى دعوى چه دکار د عقد څخه پيدا شوى وى د عقد د پاى ته رسيدو د نيټى څخه يو کال وروسته نه اوريدلى کيږي، مګر داچه دعوى د حق الزحمى، په ګټه کښې د ګډون يا د فروشاتو د قيمت په ټاکلى فيصدى پورى مربوطه وى. نو په دى حالت کښې د يوه کال د مودى د تيريدلو وخت د هغى نېټې څخه پيل کيږي چه د کار خاوند اجير ته د استحقاق پورى مربوط توضيحات دوروستنى حساب د صورت سره سم، تسليم کړى وى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریيم فصل
## وکالت

### لومړی قسمت– عمومي حکمونه

**۱۵۵۴ ماده:**
وکالت یو عقد دی چه د هغی په موجب وکیل نیوونکی په قانونی او معلومو تصرفونو کښی بل څوک خپل قایم مقام کوی.

**۱۵۵۵ ماده:**
د وکالت د صحت دپاره شرط ده چه وکیل، نیوونکی د هغه څه په باره کښی چه وکیل نیسی پخپله د قانونی تصرفونو واک ولری، او وکیل هم داسی څوک وی چه د عقد په معنی پوه شی.

**۱۵۵۶ ماده:**
په وکالت باندی د وکیل علم شرط دی، که وکیل په وکالت باندی د خبرېدو وروسته هغه رد کي، وکالت ردیږی او ترهغی وروسته د وکیل تصرف صحیح نه دی.

**۱۵۵۷ ماده:**
وکیل نیول په مطلق، مقید، معلق په شرط یا د راتلونکی وخت پوری موکول، صحیح دی.

**۱۵۵۸ ماده:**
اجازه او امر د وکیل نیولو حکم لري خو لیږل دوکیل نیولو په حکم کې نه دی. وروسته اجازه د پخوانی وکالت حکم لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۵۵۹ ماده:**

هرعقد چه وکیل نیوونکی ئی په مستقیمه توګه ترسره کولی شی د وکیل په وسیلی هم جواز لری.

**۱۵۶۰ ماده:**

(۱) کوم وکالت چه په عامو الفاظو، په مطلقه توګه ذکر شوی وی او په هغی کښی د قانونی عمل په نوعیت هیڅ رنګه تخصیص نه وی شوی نو وکیل یواځی په اداری چارو کښی د وکالت صفت پیدا کوی.

(۲) د وکیل نیوونکی د مال اجاره په دی شرط چه موده ئی د دری کلونو څخه زیاته نه وی، د وکیل نیوونکی د مالونو د ساتنی مربوطو کارونو کی، لکه د پور ورکول، د هغه د حقوقو قبضول، د زمانی د تیریدلو قطع کول، په وثیقه کښی د ګروی د عقد ثبتول د محالی دعوی پورته کول، د ذوالیدی دعوی. کوم کارونه چه د اداری کارونو د جملی څخه حسابیږی. هغه حقوقی تصرفونه دی چه اداری کارئی ایجابوی لکه د هغی محصولاتو خرڅول چه ژر تلفیږی او د کرهڼی د حیواناتو او آلاتو اخیستل په اداری کارونو کښی شامل دی.

**۱۵۶۱ ماده:**

په مقید وکالت کښی وکیل د وکالت پوری د تړاکلو چارو په اجرا کولو او ضروری توابعو چه دامر طبیعت او جاری عرف ئی اقتضاء وکي،مقیددی.

**۱۵۶۲ ماده:**

(۱) که وکالت د قانونی عمل په نوعی کښی مقید شی نو د اداری چارو په غیر د نورو حقوقی تصرفونو پوری مربوط دی، صلحه، اقرار، حکمیت، د قسم توجیه کول او د لازمی دعوی اقامه کول دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) که وکالت د تبرع په تصرفونو کښې لکه هبه او عاریت مقید شي، نو د وکالت قید د قانوني عمل په نوعیت او موضوع کښې شرط دی.

## دوه یم قسمت- د وکالت حکمونه

### ۱۵۶۳ ماده:

وکیل نه شي کولی چه د وکالت د ټاکل شوو حدودو څخه تېرې وکې مګر داچه د هغه رجوع وکیل نیوونکی ته ناممکن وي او حالونه او ظروف داسې وي چه په غالب ګمان که وکیل نیوونکی ته خبرتیا شوې وي هغه موافقه کوله، په دې صورت کښې وکیل مکلف دی د وکالت د حدودو څخه د خپل تیرې څخه ژر تر ژره وکیل نیوونکی ته خبرتیا ورکې.

### ۱۵۶۴ ماده:

که وکالت په اجورې وي یا بې د اجورې وي وکیل مکلف دی چه د وکالت په تنفیذ کښې داسې توجه وکې لکه چه پخپلو شخصي کارونو کښې یې کوې، خو په هېڅ صورت کښې د یو عادي شخص د توجه څخه په زیاته توجه مکلف نه دی.

### ۱۵۶۵ ماده:

وکیل نه شي کولی چه د خپل وکیل نیوونکي مالونه پخپلو شخصي ګټو کښې استعمال کړي اوکه ئې دا کار وکړ نو د استعمال د نېټې څخه د استعمال شوې اندازې په تعویض مکلف دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۵۶۶ ماده:**

وکیل مکلف دی چه د خپلو مربوطو کارونو د اجراآتو څخه خپل وکیل نیوونکی یو وخت او بل وخت خبر کړي او د وکالت په پای کښی ورته د حساب صورت ورکړي.

**۱۵۶۷ ماده:**

په یوه عقد متعدد وکیلان، تضامنی مسئولیت لری، خو په دی شرط چه وکالت د تجزیی قابلیت ونه لری، یا وکیل نیوونکی ته رسیدلی ضرر د هغوی د ګډی خطا په نتیجی کښی وی. که یو متضامن وکیل د وکالت د حدودو څخه تیری وکه او یائی د هغی په تنفیذ کښی بد اجراآت وکړل، نو تضامنی مسئولیت ورڅخه نه پیدا کیږی.

**۱۵۶۸ ماده:**

که په یوه عقد متعدد وکیلان ټاکل شوی وی خو په ځانګړو اجراآتو اجازه نه وی ورکول شوی، مکلف دی چه په ډله ئیزه توګه کار اجراء کی، مګر دا چه د کار اجرا کول د رای مبادلی ته ضرورت ونه لری لکه پور یا په کښی یوځای والی ممکن نه وی لکه دعوی.

**۱۵۶۹ ماده:**

(۱) وکیل نه شی کولی بی د وکیل نیوونکی د اجازی څخه بل څوک د وکیل په حیث وټاکی.

(۲) که د کار اجرا کول وکیل ته وسپارل شو کولی شی چه د وکیل نیوونکی په اجازی بل څوک د وکیل په حیث وټاکی. په دی صورت کښی دوه یم وکیل د وکیل نیوونکی وکیل ګڼل کیږی د لومړنی وکیل په عزل یا مړینه نه عزل کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۵۷۰ ماده:**

که وکالت په اجوری وی نو وکیل د کار په اجرأ کولو سره د ټاکلی اجوری مستحق کیږی. که اجوره نه وی شرط شوی او وکیل د هغو اشخاصو د جملی څخه وی چه په اجوری وکالت اجرأ کوی نو د مثلی اجوری مستحق کیږی دهغي په غیر تبرع کوونکی ګڼل کیږي.

**۱۵۷۱ ماده:**

(۱) که وکیل بی له دی چه اجازه ورکول شوی وی د وکالت په تنفیذ کښی بل څوک د خپل ځان په نیابت مؤظف کړی، نو د نایب د عمل مسئول دی او دارنګه فرض کیږی چه په ګډه یی ترسره کړی دی. وکیل او د هغه نایب تضامنی مسئولیت لری.

(۲) که وکیل ته بی له دی چه یو ټاکلی شخص وټاکل شی د نایب د نیولو اجازه ورکول شوی وی، په دی صورت کښی وکیل یواځی د نایب د انتخاب د خطا په باره کښی یا په لارښوونه کښی د خطا مسئول دی.

**۱۵۷۲ ماده:**

وکیل نیوونکی مکلف دی د وکیل عادی مصرفونه د وکالت په تنفیذ کښی وکیل ته ورکی.

**۱۵۷۳ ماده:**

وکیل نیوونکی د هغه ضرر مسئول دی چه وکیل ته د وکالت د عادی اجراآتو په سبب بی د خطا د ارتکاب نه رسیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۵۷۴ ماده:**

په دی قانون کښی د نیابت په باره کښی درج شوی حکمونه د وکیل او وکیل نیوونکی یا د بل چا چه د وکیل سره معامله کوی د هغوی په علایقو تطبیقیږی.

**دریم قسمت- د اخیستلو د پاره وکالت**

**۱۵۷۵ ماده:**

د اخیستلو دپاره د وکالت د صحت دپاره شرط ده چه کوم شی اخیستل کیږی د هغی عین یا جنس او اندازه معلومه وی. د شی د اندازی په ټاکلو کښی د ثمن ټاکل کفایت کوی.

**۱۵۷۶ ماده:**

که د یوه مجهول شی د اخیستلو کار وکیل ته سپارل شوی وی، دا نوعه وکالت صحیح دی، وکیل کولی شی هره نوعه او جنس چه ئی زړه وغواړی هغه واخلی.

**۱۵۷۷ ماده:**

(۱) که د یوه مجهول شی د اخیستلو کار وکیل ته سپارل شوی وی او د شی جهالت فاحش وی، وکالت صحیح نه دی، که څه هم ثمن توضیح شوی وی.

(۲) په هغه صورت کښی چه د شی جهالت فاحش نه وی په داسی توګه چه د شی جنس ئی بیان کړی وی او د هغی نوعه ئی نه وی بیان کړی، وکالت صحیح دی، که څه هم ثمن ئی نه وی توضیح شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۵۷۸ ماده:**

که وکیل نیوونکی د هغی شی نوعه چه د وکیل په وسیلی اخیستل کیږی وټاکی، او وکیل بله نوعه واخلی نو دا اخیستنه د وکیل نیوونکی په حق کښی نافذه نه ګڼل کیږی.

**۱۵۷۹ ماده:**

که وکالت مقید شی، نو وکیل نه شی کولی چه د شی په اخیستلو کښی د هغی مخالفت وکی، مګر داچه د وکیل نیوونکی په ګټه وی.

**۱۵۸۰ ماده:**

که وکیل نیوونکی د ټاکلی شی د اخیستلو دپاره دهغی ثمن په نقده توګه وټاکی، او وکیل ئی په نسیه واخلی، وکیل نیوونکی یی په قبلولو مکلف کیږی. په هغه صورت کښی چه وکیل د هغی په اخیستلو په نسیه توګه مامور شوی وی خو په نقدو پیسوئی واخلی، وکیل پری ملزم کیږی.

**۱۵۸۱ ماده:**

که وکیل د مبیعی د اخیستلو دپاره ثمن د خپل مال څخه ورکی، نو په وکیل نیوونکی د رجوع حق لری، کولی شی چه مبیعه ترهغی وخته پوری د ځان سره وساتی ترڅو چه د خپل وکیل نیوونکی څخه د هغی ثمن واخلی. که څه هم د هغی ثمن ئی خرڅوونکی ته نه وی ورکړی.

**۱۵۸۲ ماده:**

که وکیل د یو شی د اخیستلو دپاره په مؤجله توګه مامور شی، د هغه اخیستنه چه په هره توګه وی د وکیل نیوونکی په حق کښی مؤجله ده. وکیل نه شی کولی چه د وکیل نیوونکی څخه ثمن فی الحال وغواړی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر په هغه صورت کښې چه وکیل د شی د اخیستلو دپاره په نقده توګه مامور شوی وی، او وکیل نیوونکی ثمن مؤجل کي، نو وکیل کولی شی چه ثمن فی الحال دوکیل نیوونکی څخه وغواړي.

**۱۵۸۳ ماده:**

د یو ټاکلی شي په اخیستلو وکیل نه شی کولی ذکر شوی شی د وکیل نیوونکی په غیاب کښې د ځان دپاره واخلی مګر داچه هغه ئی د ټاکلی ثمن څخه په زیات ثمن یا په بل جنس اخیستی وی.

**۱۵۸۴ ماده:**

کوم شخص چه دشی داخیستلو دپاره وکیل شوی، نه شی کولی چه خپل مال پخپل وکیل نیوونکی خرڅ کړی.

**۱۵۸۵ ماده:**

که د اخیستلو دپاره وکیل په اخیستل شوی شی کښې پخوانی عیب پیدا کی، په هغی حالت کښې چه لا شی د هغه سره وی، کولی شی چه ئی رد کی، که ئی خپل وکیل نیوونکی ته تسلیم کړی وه نو نه شی کولی چه د خپل وکیل نیوونکی د اجازی په غیر هغه د عیب په سبب رد کی.

**۱۵۸۶ ماده:**

(۱) مبیعه د اخیستلو دپاره د وکیل سره د امانت حیثیت لری که بی د وکیل د تیری څخه هلاکه یا ناقصه شی تاوان په وکیل نیوونکی لازمیږی او د ثمن څخه ئی څه شی نه کمیږی.
(۲) که وکیل د ثمن د حاصلولو دپاره شی د ځان سره وساتی او په همدی وخت کښې هلاک یا ناقص شی نو ثمن ئی پر وکیل لازمیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۵۸۷ ماده:**

د اخیستلو دپاره وکیل نه شی کولی چه بیعه بی د وکیل نیوونکی د اجازی څخه اقاله کی.

## څلورم قسمت- په خرڅولو وکالت

**۱۵۸۸ ماده:**

د خرڅولو دپاره وکیل نه شی کولی چه د کوم شی د خرڅولو دپاره وکیل شوی، په هغو اشخاصو ئی خرڅ کی چه شهادت یی د هغه په ګټه جواز نه لری مګر په هغه صورت کښی چه ثمن یی د قیمت څخه زیات وی.

**۱۵۸۹ ماده:**

(۱) که د شی ثمن د وکیل نیوونکی له خوا ټاکل شوی وی، د خرڅ دپاره وکیل نه شی کولی چه شی د هغی ثمن څخه په کمه خرڅ کی، که ئی مخالفت وکړو نو بیعه منعقد کیږی او د وکیل نیوونکی د اجازی پوری موقوفه ده.

(۲) که وکیل مال د هغی د ثمن څخه په کم ثمن خرڅ کړ او د وکیل نیوونکی اجازه یی نه وه اخیستی او مبیعه اخیستونکی ته تسلیم کی د ثمن د کمبود ضامن ګڼل کیږی.

**۱۵۹۰ ماده:**

وکیل نه شی کولی چه دکوم شی په خرڅولو مامور شوی هغه د خپل ځان دپاره واخلی، که څه هم وکیل نیوونکی په هغی تصریح کړی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۵۹۱ ماده:**

که د خرڅولو دپاره وکيل شی په نسيه توګه خرڅ کی، وکيل کولی شی چه د اخيستونکی څخه ضامن واخلی، که څه هم وکيل نيوونکی ورته امر نه وی کړی.

**۱۵۹۲ ماده:**

د ثمن د قبضولو حق د خرڅولو دپاره د وکيل حق دی او د وکيل نيوونکی حق نه دی، اخيستونکی کولی شی چه وکيل نيوونکی ته د ثمن د ورکولو څخه ځان وژغوری، په هغه صورت کښی چه ثمن وکيل نيوونکی ته ورکی، نو اخيستونکی بری الذمه کيږی او وکيل نيوونکی نه شی کولی چه د وکيل څخه د ثمن غوښتنه وکی.

**۱۵۹۳ ماده:**

وکيل مکلف دی چه دثمن دقبضولو وروسته په هغه صورت کښی چه عقد په معجل صورت وی، مبيعه اخيستونکی ته تسليم کی.

**۱۵۹۴ ماده:**

د خرڅولو دپاره وکيل چه ترڅو د هغی شی ثمن چه يی خرڅ کړی قبض نه کی، د خپل مال څخه د ثمن په ورکولو نه مکلف کيږی.

**۱۵۹۵ ماده:**

که وکالت د اجوری په بدل کښی وی، نو وکيل مکلف دی چه د اخيستونکی څخه ټول ثمن تحصيل کی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۵۹۶ ماده:**

که مبیعه په استحقاق ویوړه شي، نو که اخیستونکی ثمن ورکړی وی د بیرته اخیستلو غوښتنه به یې د وکیل څخه کوی، عام له دې چه ثمن د وکیل سره وی او یائې وکیل نیوونکی ته تسلیم کړی وی، که وکیل ثمن وکیل نیوونکی ته ورکړی وه نو وربادی به رجوع کوی، که اخیستونکی ثمن وکیل نیوونکی ته ورکړي وو نو د استحقاق په حالت کښې به په وکیل نیوونکی رجوع کوی.

**۱۵۹۷ ماده:**

د خرخولو دپاره وکیل د ثمن د قبضولو ترمخه کولی شی چه بیعه بی د وکیل نیوونکی د اجازې څخه اقاله کی، خو عقد د وکیل نیوونکی په حق کښې نافذ نه ګڼل کیږی وکیل د ثمن په ورکولو وکیل نیوونکی ته ملزم دی. وکیل نه شي کولی چه د ثمن د قبضیدو وروسته بیعه اقاله کړی.

**۱۵۹۸ ماده:**

که اخیستونکی په مبیعی کښې دایمی عیب پیدا کی، نوکه ئی ثمن وکیل ته تسلیم کړی وه نو د هغې د بیرته اخیستلو غوښتنه به د وکیل څخه کوی، او که یې ثمن وکیل نیوونکی ته تسلیم کړی وه نو د بیرته اخیستلو غوښتنه به یې د وکیل نیوونکی څخه کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځم قسمت- د دعوی وکیل

**۱۵۹۹ ماده:**

د پور د ثابتولو، عین او نورو داسي حقوق دپاره چه تصریح یی په وکیل نیولو کښي لازمه ده، د دعوی وکالت صحیح دی. د دعوی وکالت په رسمي وثیقي کښي درجیږی.

**۱۶۰۰ ماده:**

د د عوی وکیل د صلحی واک او دصلحی وکیل دجګړی واک بی دوکیل نیوونکی د خاصي اجازی څخه، نه لری.

**۱۶۰۱ ماده:**

که د وکیل نیوونکی له خوا وکیل ته د اقرار کولو واک سپارل شوی وی نو د هغه اقرار د محکمي په نزد صحیح ګڼل کیږی، مګر داچه وکیل نیوونکی د مدني محاکمو د اصول د قانون د حکمونو سره سم د هغي څخه منعي شوی وی.

**۱۶۰۲ ماده:**

که وکیل نیوونکی پخپل ځان باندی د اقرار کولو څخه وکیل منع کړی وی، نو که وکیل په وکیل نیوونکی اقرار وکه د وکالت څخه عزل کیږی.

**۱۶۰۳ ماده:**

په اجاری ورکولو وکیل د خپل وکیل نیوونکی په اجازی د اجاری د ثابتولو او د اجاری د قبضولو د جګړی حق لری او مکلف دی عین هغه شی چه په اجاری ورکول کیږی اجاری اخیستونکی ته یی تسلیم کی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۶۰۴ ماده:**

د دعوی وکالت د قبضولو د وکالت مستلزم نه دی، مګر داچه د وکالت په عقد کښې تصریح شوی وی. همدارنګه د قبضولو وکالت د دعوی د وکالت مستلزم نه دی.

**۱۶۰۵ ماده:**

د دعوی وکیل نه شی کولی چه د دعوی کوونکی، ما ل دعوی کړی شوی ته وبخښی او یا ورڅخه ابرأ وکی.

**شپږم قسمت- د وکالت پای**

**۱۶۰۶ ماده:**

وکالت په یوه راتلونکی حالونو کښې پای ته رسیږی:

۱ -دهغه کار د پوره کېدو په حالت کښې چه وکالت په کښې صورت موندلی.

۲- د وکالت د ټاکلی مودی د پای ته رسیدو په حالت کښې.

۳- دوکیل یا وکیل نیوونکي دمړيني په حالت کي.

۴- د وکیل یا وکیل نیوونکی د اهلیت د زوال په حالت کښې.

**۱۶۰۷ ماده:**

وکیل نیوونکی کولی شی هر وخت چه وغواړی خپل وکیل د وکالت څخه عزل کی خو په دی شرط چه د ،موضوع څخه وکیل ته خبرتیا ورکی، مګر داچه د وکالت پوری دبل چا حق تعلق نیولی وی په هغی صورت کښې وکیل نیوونکی بی د هغه چا د قبلولو څخه چه وکالت د هغه په ګټه عقد شوی دی، نه شی کولی چه وکالت مقید کی او یایې پای ته ورسوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۶۰۸ ماده:**

د وکالت دپای ته رسیدو په ټولو حالونو کښې، وکیل مکلف دی کوم کارونه یې چه شروع کړي دي هغه داسې مرحلې ته ورسوي چه د تلف کیدلو د خطر څخه یې لیرې وساتي.

## څلورم فصل
## ودیعت

### لومړی قسمت- عمومي حکمونه

**۱۶۰۹ ماده:**

ودیعت داسې عقد دی چه د هغې په موجب مالک د خپل مال د ساتنې واک بل چاته سپاري، کوم مال چه د بل چا سره د ساتنې دپاره ایښودل کیږي د ودیعې په نامه یادیږي.

**۱۶۱۰ ماده:**

د ودیعت د عقد د صحت شرط دا دی چه په ودیعت ایښول شوی شې دتصرف او ذوالیدی لاندې راوړل کیدای شي، او د ودیعت اخیستونکي له خواقبض شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوه یم قسمت- د هغه چا التزامونه چه ودیعت ور سره ایښودل کیږي

**۱۶۱۱ ماده:**

د چاسره چه د ودیعت مال ایښودل کیږي مکلف دی چه ودیعه حقیقتاً یا حکماً تسلیم شي.

**۱۶۱۲ ماده:**

د چا سره چه د ودیعت مال ایښودل کیږي مکلف دی چه د هغې ساتنې ته په داسې توګه توجه وکې لکه چه د خپل مال ساتنې ته یې کوي.

**۱۶۱۳ ماده:**

د چا سره چه د ودیعت مال ایښودل شوی، نه شي کولی چه د ودیعې د ساتنې په بدل کښې د اجورې غوښتنه وکې، مګر داچه په عقد کښې د هغې په خلاف تصریح شوې وي.

**۱۶۱۴ ماده:**

د ودیعت مال امانت دی، که هلاک شو، نو ودیعت اخیستونکی د هغې ضامن نه دی، مګر داچه د هغې هلاک د ودیعت اخیستونکی د تیرې په اثر شوی وي او یایې په ساتنه کښې تقصیر کړی وي.

**۱۶۱۵ ماده:**

که ودیعت داجورې سره وي او دځینو سببونو په اساس هلاک شي یا داسې نقصان پیدا کې چه مخنیوی یې ممکن وي نودچاسره چه د ودیعت مال ایښودل شوی په ضمان مکلف دی.

**۱۶۱۶ ماده:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دچا سره چه د ودیعت مال اینبودل کیږي، نه شي کولی چه هغه د ودیعت دمال دمالک د اجازي په غیر استعمال کی اویا ور څخه ګټه واخلی، په هغی صورت کښي چه هغه بی دمالک د اجازي استعمال، استهلاک یا هلاک کی د حالونو سره سم ضامن ګڼل کیږي.

**۱۶۱۷ ماده:**

د چا سره چه ودیعه اینبودل شوی، نه شی کولی چه هغه بی د مالک د اجازي بل چاته په اجاری، عاریت یا په ګروی ورکی، د مخالفت په صورت کښي که د ودیعت مال د اجاری اخیستونکی، عاریت اخیستونکی یا د ګروی اخیستونکی سره، هلاک شي د هغی مالک اختیار لری چه ضمان د اجاری اخیستونکی څخه، عاریت اخیستونکی، د ګروی اخیستونکی یا د هغه چا څخه چه د ودیعت مال ورسره اینبودل شوی وغواړي.

**۱۶۱۸ ماده:**

که د ودیعی د مال مالک هغه ځوک چه مال يې ورسره په ودیعت اینبی د ودیعی د مال سره د مسافرت څخه منع کی یا یوځای د هغی د ساتنی دپاره وټاکی، نو د مخالفت په صورت کښي که د ودیعی مال هلاک شي ضامن ګڼل کیږي. مګر داچه د خپل قصور نشتوالی ثابت کی.

**۱۶۱۹ ماده:**

د چا سره چه د ودیعی مال اینبودل شوی که هغه بی د مالک د اجازي د خپل مال سره یا د بل چا د مال سره داسی خلط کی چه جلاوالی يې ناممکن وی نو د ضمان په ورکولو مکلف دی. که د ودیعی د مال خلطول د مالک په اجازي شوی وی د چا سره چه د ودیعی مال اینبودل شوی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملکیت شریک ګڼل کیږي او که مال بې د تقصیر نه هلاک شو ضامن نه ګڼل کیږي.

**۱۶۲۰ ماده:**

(۱) د چا سره چه مال په ودیعت ایښودل شوی نه شي کولی چه بې د مالک د اجازې هغه د بل چا سره په ودیعت کښیږدي د مخالفت په صورت که د ودیعې مال هلاک شو مالک اختیار لري د لومړني شخص څخه چه ودیعت ورسره ایښودل شوی ضمان وغواړي او که د دوه یم شخص څخه. که د لومړني شخص څخه ضمان واخیستل شي هغه به په دوهم شخص رجوع کوي او که د دوه یم شخص څخه ضمان واخیستل شي په هیچا د رجوع کولو حق نه لري.

(۲) که ودیعت اخیستونکی ثابته کی چه د ودیعت مال یې د معقولو عذرونو په اساس د بل چا سره په ودیعت ایښی، نو ضمان ورباندې نه لازمیږي.

**۱۶۲۱ ماده:**

که د ودیعې مالک په دایمي توګه غایب شي د چا سره چه مال په ودیعت ایښودل شوی مکلف دی چه ترڅو د مالک په ژوند یا مړینې علم حاصلوی هغه وساتي. که د ودیعت مال داسې وي چه د ډیرو پاتې کیدو په اثر تلف کیږي، نو د چاسره چه مال په ودیعت ایښودل شوی کولی شي چه د محکمې څخه تقاضا وکي چه عین خرڅ کي او ثمن یې د بانک د امانت په حساب کښې وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۶۲۲ ماده:**

که دچا سره چه مال په ودیعت ایښودل شوی مړ شي او د ودیعی عین په متروکی کښی موجود وی، ذکر شوی عین د وارثانو سره امانت دی د هغی په بیرته ورکولو ودیعت ورکوونکی ته مکلف دی.

**۱۶۲۳ ماده:**

که څوک چه د ودیعی مال ورسره ایښودل شوی مړ شي او وارثان ئی د ودیعی عین په بل چا خرخ کړی او اخیستونکی ته ئی تسلیم کی او د اخیستونکی په لاس کښی هلاک شي، نو د ودیعی مالک کولی شي که عین قیمتی وه د هغی قیمت د خرڅولو او د تسلیمولو د ورځی د قیمت معادل او که مثلی وه د هغی مثل د خرڅوونکی یا اخیستونکی څخه وغواړی، د مړی د وارث خبرتیا او ناخبرتیا د ودیعت څخه په تضمین کښی تاثیر نه لری.

**۱۶۲۴ ماده:**

د چا سره چه مال په ودیعت ایښودل شوی، مکلف دی چه د غوښتنی په وخت کښی هغه مالک ته بیرته ورکی، مګر داچه ودیعت د یوي ټاکلی مودی دپاره وی او ددی مودی ټاکل د ودیعی د مالک په ګټه وی.

**۱۶۲۵ ماده:**

د چا سره چه مال په ودیعت ایښودل شوی وی، کولی شي هروخت چه وغواړی مالک د ودیعی د مال په تسلیمیدو مکلف کی مګر داچه د عقد څخه داسی معلومه شي چه مهلت د ودیعی د مالک په ګټه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۶۲۶ ماده:**

که د ودیعی مالک مړ شی نو ودیعت اخیستونکی مکلف دی چه هغه د مالک وارثانو ته ورکی، مګر داچه ترکه په پور غرقه وی. په دی صورت کښی د ودیعی مال د واک لرونکی محکمی په اجازی ورکول کیږی، که د ودیعی مال بی د واک لرونکی محکمی د اجازی وارثانو ته تسلیم او د ودیعی مال هلاک یا ناقص شی، نو د چا سره چه مال په ودیعت ایښودل شوی، په ضمان مکلف کیږی.

**دریم قسمت– د ودیعت ایښودونکی التزامونه**

**۱۶۲۷ ماده:**

که ودیعت په اجوره وی، ودیعت ایښودونکی مکلف دی چه اجوره د ودیعت په پای کښی ورکی، مګر داچه موافقه په بل ډول شوی وی.

**۱۶۲۸ ماده:**

ودیعت ایښودونکی د هغی مصرفونو په ورکولو مکلف دی چه د ودیعت اخیستونکی له خوا د ودیعی د مال دساتنی دپاره مصرف شوی خو په دی شرط چه مصرفونه د ودیعی د قیمت څخه زیات نه وی.

**۱۶۲۹ ماده:**

که د ودیعی مال په استحقاق ویوړ شی نو د چا سره چه مال په ودیعت ایښودل شوی ضمان به یی هغه ورکوی او هغه د ضمان په اندازی په ودیعت ایښودونکی رجوع کولی شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۶۳۰ ماده:**

وديعت اېښودونکی مکلف دی د ټول هغه تاوان تعويض وديعت اخيستونکی ته ورکی چه د وديعت په سبب ورته رسيدلی، خو په دی شرط چه دا تاوان د وديعت اېښودونکی د قصور څخه پيدا شوی وی.

**څلورم قسمت- د وديعت نوعی**

**۱۶۳۱ ماده:**

که وديعت اېښودونکی هغه چا ته چه مال ورسره په وديعت اېښودل شوی د وديعی د استعمال اجازه ورکی او وديعه د داسی مالونو د جملی څخه وی چه په استعمال سره د مينځه ځی لکه نقدی پيسی، نو دا عقد قرض ګڼل کيږی.

**۱۶۳۲ ماده:**

د استراحت د ځايونو، هوټلونو او د هغی د امثالو اداره کوونکی د هغی مالونو مسئوليت په غاړه لری چه مسافران او ميلمانه يې د ځان سره راوړی، په استثنی د هغی نغدو پيسو او قيمتی شيانو چه تعويض يې د پنځو زرو افغانيو څخه زيات وی. مګر داچه اداره کوونکی سره ددی چه د ذکر شوو شيانو د قيمت څخه خبر وی د ساتنی تعهد وکی يا داچه بی د قانونی تمسک څخه د امانت په توګه د هغی د تسليميدلو څخه ځان وژغوری يا د خپلی لويې خطا په سبب يا د خپلو لاس لاندی اشخاصو د لويې خطا په سبب د ضرر د واقع کيدو سبب شوی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۶۳۳ ماده:**

(۱) مسافر مکلف دی کوم وخت چه د غلا یا د شی د ضایع کیدو څخه خبر شی فی الحال او پخوا له دی چه هوټل پریږدی د موضوع څخه د اوسیدلو د ځای یا د هوټل اداره کوونکو ته خبرتیا ورکی، د هغی په غیر حق یې ساقطیږی.

(۲) په دی باره کښی دهغی نېټې څخه چه د اوسیدلو ځای یاهوټل پریښودل شی دری میاشتی وروسته دعوی نه اوریدل کېږی.

## پنځم فصل
## ساتنه

**۱۶۳۴ ماده:**

ساتنه داسی عقددی چه دهغی په موجب دجګړی دواړه خواوی د جګړی لاندی عقار، منقول یا د مالونو مجموعه د جګړی د حل کېدو تروختــه پوری د ساتنی او اداری کولو دپاره یې بل چا ته سپاری په داسی ډول چه په هغی کښی د هرچا حق ثابت شی نو هغه به دحاصل سره همغه شخص ته ورکوی.

**۱۶۳۵ ماده:**

محکمه کولی شی په راتلونکو حالونو کښی په ساتنه امر وکی:

۱- د دی قانون د (۱۶۳۴) مادی په درج شوو حالونو کښی چه د دعوی دواړه خواوی د جګړی لاندی شی د ساتنی په باره کښی موافقی ته سره ونه رسیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- په هغه حالت کښې چه علاقه لرونکی شخص دمتصرف سره دشی دموجودیت څخه عاجل خطر احساس کی.
۳- په نورو هغو حالونو کښې چه قانون پری تصریح کړی وی.

**۱۶۳۶ ماده:**

د ساتونکی ټاکل عام له دی چه رضائی وی او که قضائی په نزاع کښې د ټولو شاملو اشخاصو په موافقه صورت مومی. که په ساتونکی د هغوی موافقه را نه غله نو د قاضی له خوا ټاکل کیږی.

**۱۶۳۷ ماده:**

د ساتونکی د التزامونو او واک حقوق په موافقی یا د محکمی په حکم کښې ټاکل کیږی. که نه وه ټاکل شوی نو د ودیعت او وکالت حکمونه تر کومه ځایه چه د ساتنی د حکمونو مناقض نه وی تطبیقیږي.

**۱۶۳۸ ماده:**

(۱) ساتونکی د ساتنی لاندی مالونو د اداری او د ساتنی مکلفیت لری، او لاژمه ده چه په دی باره کښې د یو عادی شخص په اندازی توجه وکی.
(۲) ساتونکی نه شی کولی د علاقی لرونکو اشخاصو د جملی څخه کوم یو بی د نورو د رضائیت څخه د خپل ځان قایم مقام کی.

**۱۶۳۹ ماده:**

ساتونکی نه شی کولای د اداری چارو په غیر د ساتنی لاندی مالونو کښې بی د علاقی لرونکو اشخاصو د اجازی یا بی د قاضی د اجازی، تصرف وکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۶۴۰ ماده:**

ساتونکی کولی شی چه د واک لرونکی محکمی څخه د ساتنی د اجوری د ټاکلو غوښتنه وکی مگر داچه په صریح یا ضمنی ډول د هغی څخه تیر شوی وی.

**۱۶۴۱ ماده:**

ساتونکی د حساب د منظم دفتر په لرلو مکلف دی. که ساتونکی په رضائی ډول ټاکل شوی وی نو مکلف دی په جگړی کښی شاملو اشخاصو ته په کال کښی یو ځل د سندونو د مخی د خپلی اداری اجراآتو څخه حساب ورکی، که ساتونکی د محکمی له خوا ټاکل شوی وو نو محکمی ته د حساب د صورت د یو نقل په ورکولو مکلف دی.

**۱۶۴۲ ماده:**

ساتنه د محکمی په حکم یا په جگړی کښی د شاملو اشخاصو په موافقه پای ته رسیږی، او ساتونکی د ټولو مالونو او سندونو په ورکولو چه د هغه، د ساتنی لاندی دی هغه چاته چه په جگړی کښی د شاملو اشخاصو موافقه پری شوی او یا هغه شخص ته چه محکمه ئی ټاکی مکلف دی.

## څلورم باب
## احتمالی عقدونه

### لومړی فصل
### جواری

**۱۶۴۳ ماده:**

د قمار بازی په باره کښی هره نوعه موافقه باطله گڼل کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوه یم فصل
## د بیمې عقد

### لومړی قسمت- عمومي حکمونه

**۱۶۴۴ ماده:**

(۱) بیمه داسی عقد دی چه د هغی په موجب بیمه کوونکی، یوه اندازه پیسی یا مرتب عاید یا په بل مالی تعویض د داسی حادثی یا خطر د واقع کیدو په حالت کښی چه په قرار داد کښی ټاکل شوی بیمه شوی یا هغه چاته چه بیمه د هغه په ګټه شرط شوی دهغی پیسو په بدل کښی چه په یوځل یا یی په قسطونو ورکوی، تعهد کوی.

(۲) د دی فصل حکمونه ترکوم ځایه چه د خاص قانون د حکمونو سره مغایرت ونه لری تطبیقیږی.

**۱۶۴۵ ماده:**

هره نوعه مشروعه ګټه چه شخص ته د ټاکلی خطر د واقع کیدو څخه پیدا کیږی دبیمی موضوع کیدای شی.

**۱۶۴۶ ماده:**

که د بیمی په قرار داد کښی د راتلونکو شرطونو څخه کوم یو ذکر شی نو شرط باطل ګڼل کیږی:

۱- هغه شرط چه د قوانینو او مقرراتو د حکمونو د مخالفت په سبب د بیمی دحق په ساقطیدو امر کوی. مګر داچه مخالفت د عمدی جنایت یاجنحی په اساس واقع شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- هغه شرط چه د حادثې د خبرتیا د تأخیر په سبب یا واک لرونکی مقام ته د سندونو د وړاندې کولو د تأخیر په سبب د هغه شخص د حقوقو په ساقطیدلو امر وکی چه بیمه د هغه دپاره شوی خو په دی شرط چه د حالونو څخه داسی معلومه شی چه تأخیر د معقول عذر په اساس راغلی.
۳- هره نوعه مطبوع شرط چه په ظاهری شکل ئی تبارز نه وی کړی او د یوه داسی حالت پوری مربوط وی چه د نتیجی په ساقطیدلو یا باطلیدو منجر شی.
۴- د حکمیت شرط چه د بیمی د قرارداد په عقد کښې د عمومی شرطونو په ضمن کښې د مطبوع شرط په توګه وی. مګر داچه دحکمیت شرط د عمومی شرطونو څخه په ځانګړی او خاصی موافقی صورت موندلی وی.
۵- هر بل تحمیلی شرط چه که ظاهره شی چه د هغی څخه مخالفت د بیمه شوی حادثې په واقع کېدو کښې تاثیر نه لری.

**۱۶۴۷ ماده:**

بیمه کوونکی د بیمه شوی په تعویض ملزم نه دی. مګر یوائې د هغی ضرر چه د داسی خطر د واقع کېدو په اثر وی چه بیمی د هغی دپاره صورت موندلی او دبیمی د قیمت په اندازی ملزم کیږی.

**۱۶۴۸ ماده:**

د بیمی د عقد څخه پیدا شوی دعوی، د دعوی د موضوع د واقعی د پیدا کیدو د نېټې څخه د دوه کلونو د تیریدو وروسته، نه اوریدل کیږی.

**۱۶۴۹ ماده:**

هره نوعه موافقه چه د دی فصل د درج شوو حکمونو مخالفه وی باطله ده مګر داچه د بیمه شوی یا ګټی اخیستونکی په ګټه وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوه یم قسمت– د بیمې نوعې

## لومړی مبحث – د ژوند بیمه

### ۱۶۵۰ ماده:

کومی پیسی چه د بیمه کوونکی له خوا بیمه شوی یا ګټې اخیستونکی دپاره د حادثی د واقع کېدو په وخت کښی یا د مودی د سرته رسیدو په صورت کښی د بیمی د عقد په قرار داد کښی ئی تعهد شوی، نو بیمه شوی یا ګټه اخیستونکی د حادثی د واقع کېدو یا د مودی د سرته رسیدو سره یوځای بی له دی چه د رسیدلی ضرر ثابتول په نظر کښی ونیول شی، د هغی مستحق کیږی.

### ۱۶۵۱ ماده:

د بل چا په ژوند بیمه ترڅو چه هغه د بیمی د عقد د تړون څخه ترمخه په هغی لیکلی موافقه نه وی کړی باطله ګڼل کیږی. که هغه بل چه ژوند یی بیمه کیږی د قانونی اهلیت لرونکی نه وی د عقد د صحت دپاره د هغه د قانونی ممثل لیکلی موافقه هرومرو ده.

### ۱۶۵۲ ماده:

(۱) که د ژوند بیمه شوی شخص انتحار وکی نو بیمه کوونکی د بیمی د پیسو په ورکولو مکلف نه دی، مګر سره ددی هم د بیمی د احتیاطی قیمت د معادل پیسو په ورکولو هغو اشخاصو ته مکلف دی چه حق د هغوی پوری تعلق نیسی، په هغه صورت کښی چه دانتحار سبب عقلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مریضی وی، په داسی توګه چه مریض خپله اراده د لاسه ورکړی وی نو د بیمه کوونکی مکلفیت په پوره صورت پاتی کیږی.
(۲) که د بیمی د قرارداد په عقد کښی شرط شوی وی چه که شخص سره ددی چه اراده او اختیار ولری او انتحار وکی نو بیمه به ورکول کیږی، دا شرط اعتبار نه لری، مګر داچه انتحار د عقد د نیټی څخه دوه کاله وروسته صورت موندلی وی.

**۱۶۵۳ ماده:**

که د بیمه شوی شخص څخه په غیر د بل چا ژوند بیمه شوی وی، او بیمه شوی عمداً د ذکر شوی شخص د مړینی سبب شی او یا یې مړینه د هغه د تحریک په سبب صورت ومومی، بیمه کوونکی بری الذمه ګڼل کیږی. که د بیمه شوی له خوا یواځی د ګټی اخیستونکی په وژلو پیل شوی وی نو بیمه کوونکی حق لری چه بیمه شوی تبدیل کی که څه هم ګټه اخیستونکی بیمه شوی شخص قبول کی.

**۱۶۵۴ ماده:**

(۱) د ژوند په بیمی کښی دا موافقه جواز لری چه د بیمی پیسی دی ټاکلو اشخاصو ته یا هغو اشخاصو ته چه د بیمه شوی له خوا وروسته ټاکل کیږی، ورکول شی.
(۲) که بیمه شوی د بیمی د عقد په قرار داد کښی ذکر کی چه بیمه دی زما د ښځی، یا اولاد یا فروعو عام له دی چه زیږیدلی او یا لاتر اوسه نه دی زیږیدلی په ګټه وی او یا دی زما دوارثانو په ګټه وی بی له دی چه د هغوی نومونه ذکر کی، نو بیمه د ټاکلو ګټه اخیستونکو په ګټه اعتبار لری، که بیمه د وارثانو په ګټه له دی چه د هغوی نومونه ذکر شی عقد

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي، نو هر وارث د ميراث د حصې په تناسب په هغې کبنې مستحق کيږي که څه هم د ميراث څخه تير شوی وي.

**۱۶۵۵ ماده:**

کوم بيمه شوی چه د مستمری قسطونو په ورکولو تعهد کړی وي، کولی شي هروخت چه وغواړي بيمه کوونکی ته د ليکلی خبرتيا په ليږلو سره د جاری مودی د تيريدو ترمخه هغه منحل کی، په دی صورت کښې د پاتی قسطونو د ورکولو څخه بری الذمه کيږي.

**۱۶۵۶ ماده:**

(۱) په هغی عقدونو کښې چه د ژوند د مودی د اوږدوالی دپاره بې دبيمه شوی شخص د ژوند د دوام د شرط ايښودلو څخه د يوی ټاکلی مودی دپاره، منعقد شوی وي. همدارنگه په ټولو هغو عقدونو کښې چه د بيمی د پيسو ورکول د يوی ټاکلی مودی د تيريدو وروسته شرط شوی وي، بيمه شوی کولی شی چه که ئی کم ترکمه د دری کلونو قسطونه ورکړی وی اصلی قرارداد د بيمی د پيسو په قيمت کښې د تخفيف راوړلو په مقابل کښې د ورکول شوی وجهی څخه په بل قرارداد تبديل کی که څه هم د هغی په خلاف موافقه شوی وي، خو په دی شرط چه د بيمه شوی حادثی واقع کيدل محقق وي.

(۲) که د ژوند د بيمی عقد مؤقتی وي د تخفيف وړ نه دی.

**۱۶۵۷ ماده:**

(۱) که بيمه شوی کم ترکمه دری کاله قسطونه اداء کړی وی کولی شی چه بيمه تصفيه کی خو په دی شرط چه د بيمی شوی حادثی واقع کيدل محقق وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) د ژوند مؤقتی بیمه د تصفیې وړ نه ده.

**۱۶۵۸ ماده:**

د تخفیف او تصفیې شرطونه د بیمې د عمومي شرطونو جزء ګڼل کیږي او لازمه ده چه د بیمې په قرار داد کښې شامل شي.

**۱۶۵۹ ماده:**

د چا په ګټه چه بیمه عقد کیږي که د هغه د عمر په باره کښې خطا او غلط اظهارات شوي وو نو د هغې په نسبت د بیمې عقد نه باطلیږي، مګر داچه د بیمه شوي شخص حقیقي عمر د هغې ټاکلي حدودو څخه چه د بیمې په تعرفې کښې تصریح شوي، زیات وي، په دې صورت کښې د کومو پیسو اداء کول چه لازم دي د حقیقي عمر په اساس سنجول کیږي.

**دوه یم مبحث – د اور اخیستلو په ضد بیمه**

**۱۶۶۰ ماده:**

بیمه کوونکی د اور د اخیستلو په ضد بیمه کښې مکلف دی، د اور څخه پیدا شوي ضررونه او هغه ضررونه چه د اور اخیستلو هرومرو نتیجه ګڼل کیږي تعویض کي، خصوصاً د هغه ضررونو چه د نجات د وسیلو په سبب د اور د اخیستلو یا د اور مخنیوی د پراختیا له امله د اور اخیستلو په وخت کښې بیمه شوو شیانو ته رسیږي، همدارنګه د اور اخیستلو په وخت کښې بیمه کوونکی د بیمه شوو شیانو د ضایع کیدو او پټیدو مسئول دی، مګر داچه پټیدل د غلا نتیجه ثابته شي. ددې مادې حکمونه په هغې حالت کښې تطبیقیږي چه د هغې په خلاف موافقه نه وي شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۶۶۱ ماده:**

بیمه کوونکی د هغه تاوان په تعویض مکلف دی چه د اور اخیستلو په اثر رسیدلی دی، که څه هم اور د بیمه شوی شی څخه نه وی پیدا شوی.

**۱۶۶۲ ماده:**

بیمه کوونکی د بیمه شوی د هغی ضررونو چه د غیر عمدی قصور څخه پیدا شوی وی، همدارنگه د هغی ضررونو چه د آسمانی آفت څخه پیدا شوی وی، مسئول دی. خو که د بیمه شوی د عمدی فعل یا غش څخه بیمه شوو شیانو ته ضرر ورسیدلو نو بیمه کوونکی ئی مسئول نه دی، که څه هم د هغی په خلاف موافقه شوی وی.

**۱۶۶۳ ماده:**

که د ضررونو سبب داسی اشخاص وی چه بیمه شوی د هغوی مسئول وی، نو د هغوی قصور چه په هری نوعی وی، بیمه کوونکی ئی مسئول دی.

**۱۶۶۴ ماده:**

(۱) که بیمه شوی شی د حیازی گروی، بیمه یی گروی یا د نورعینی بیمو لاندی وی، دا حقوق د بیمی د عقد په اقتضاء هغی تعویض ته نقلیږی چه پور وړی د هغی مستحق دی.

(۲) که دا حقوق ثبت شی یا بیمه کوونکی ته ورڅخه خبرتیا ورکول شی، که څه هم په ثبت شوی لیک وی، بیمه کوونکی نه شی کولی کوم شی چه په ذمه ئی ثابت دی، بی د پور وړو د رضائیت څخه هغه بیمه شوی ته ورکی.

(۳) که بیمه شوی شیان د حجز لاندی راشی یا د ساتنی لاندی کنبیښودل شی ترهغی وروسته چه د موضوع څخه بیمه کوونکی ته خبر ورکول شی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه شي کولی چه کوم شی د هغه په ذمی لازم شوی، هغه بیمه شوی ته ورکی.

## پنځم باب
## د توثیق عقدونه

**۱۶۶۵ ماده:**
توثیق د داسی عقدونو څخه عبارت دی چه یو دین ټینګوی، او د کفالی، حوالی او ګروی څخه عبارت دی.

## لومړی فصل
## کفالت

### لومړی قسمت– د کفالی رکنونه

**۱۶۶۶ ماده:**
کفالت د اصیل د ذمی سره د کفیل د ذمی د ضم کیدو څخه عبارت دی، دنفس، پور یا د عین په غوښتنه کی.

**۱۶۶۷ ماده:**
ترڅو چه کفالت د غوښتونکی یا د هغه د نائب که څه هم فضولی وی دقبلولو سره یوځای نه وی، یواځی د کفیل په ایجاب صحت نه لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۶۶۸ ماده:**

د داسې رنځور کفالت چه د مرګ په رنځ پروت وی او مال يې په پور غرق وی، صحيح نه دی. که پور د هغه ټول مال ته شامل نه وی او که کفالت د پور د ادا کولو وروسته په پاتې دريمه برخه کښې صورت ونيسې، کفالت صحيح دی، که کفالت د پاتې دريمې حصې څخه په زيات مال کښې وه نو يوائې د دريمې حصې په اندازې صحت لري.

**۱۶۶۹ ماده:**

د کفالت د صحت دپاره شرط ده چه د کفالت موضوع عام له دی چه پور، عين يا نفس وی معلومه وی او پراصيل لازمه وی، او د کفيل له خوا د هغې تسليمول ممکن وی.

**۱۶۷۰ ماده:**

د داسې عين کفالت چه په اصيل باندې پخپله ددې عين څخه بل عين لاژم وی صحيح دی، او هغه د داسې عين څخه عبارت دی چه که هلاک شی نو که قيمتي وی د هغې قيمت او که مثلي وی مثل ئې لازميږي.

**۱۶۷۱ ماده:**

د داسې عين کفالت چه په اصيل باندې پخپله د عين څخه بل عين نه وی لازم صحت نه لري او هغه د داسې عين څخه عبارت دی چه که موجود وی تسليمول ئې لاژم دی او که هلاک شونو قيمت يا مثل ئې نه لازميږي.

**۱۶۷۲ ماده:**

کفالت په مؤجل يا معجل صورت يا دمناسب شرط پوری معلق، جواز لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۶۷۳ ماده:**

په امانتونو کفالت لکه ودیعت، د مضاربت مال، شرکت، عاریت او د اجاري اخیستونکي سره اجاره شوي مال صحت نه لري، مګر داچه کفالت د مالونو د عین د ضمان د قصور په سبب شوی وي.

**۱۶۷۴ ماده:**

په مال کفالت عام له دی چه معلوم وي او که مجهول صحیح دی. همدارنګه کفالت دصحیح او ثابت پور څخه چه د پور وړي په ذمې وي، صحیح دی.

**۱۶۷۵ ماده:**

ترڅو چه د اصیل التزام صحیح نه وي، کفالت صحیح نه دی.

**۱۶۷۶ ماده:**

د ناصحیح پور څخه کفالت صحیح نه دی، مګر داچه پور دښځې تاکلی نفقه وي په رضائیت یا د محکمې په حکم تاکل شوی وي.

**۱۶۷۷ ماده:**

که چیرته دوه یا زیات شریکان پرچا پور ولري نو دشریک پور څخه دیوه شریک کفالت دبل شریک دحصې څخه جواز نه لري.

**۱۶۷۸ ماده:**

د وکیل کفالت د هغه څه په ثمن چه په اخیستونکي ئې خرڅ کړي، د وصي کفالت د هغه څه په ثمن چه صغیر د مال څخه ئې خرڅ کړي او د ناظر کفالت دهغه څه په ثمن چه د وقف د مال څخه یې خرڅ کړي، صحیح نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۶۷۹ ماده:**

د کفالت د ثابتولو دپاره لیکلی شکل هرومرو دی که څه هم د اصلي التزام ثبوت په شهادت رواوی.

**۱۶۸۰ ماده:**

که پور ورړی دکفیل په ورکولو ملزم شی، مکلف دی چه د توان خاوند د کفیل په حیث ورکی، پوروړی کولی شی چه د کفیل پرځای کافی عینی تأمینونه د پور ورکوونکی په اختیار کښی کښیږدی.

**۱۶۸۱ ماده:**

که چا د اهلیت د نقصان لرونکی د تعهد کفالت کړی وی او کفالت د اهلیت د نقص په سبب عقد شوی وی، که د اصلی پوروړی د خوا تعهد تنفیذ نه شو نو کفیل د تعهد په تنفیذ مکلف دی.

**۱۶۸۲ ماده:**

کفالت د هغی اندازی څخه چه د پور ورکوونکی د استحقاق څخه پر پوروړی زیات وی او په داسی شرط سره چه د پور وړی د شرطونو څخه سخت وی، جواز نه لری، مګر په کمی اندازی او آسان شرط جواز لری.

**۱۶۸۳ ماده:**

کفالت د پور ملحقاتو، د لومړنی غوښتنی مصرفونو، او هغی مصرفونو ته د کفیل د غوښتني وروسته پیدا کیږی، شامل دی. مګر داچه موافقه د هغی په خلاف شوی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوه یم قسمت- د نفس کفالت

### ۱۶۸۴ ماده:

دنفس د کفالت موضوع دهغه چا حاضرول تشکیلوی چه د هغه څخه کفالت شوی دی. که د هغه تسلیمول په ټاکلی وخت کښی شرط شوی وی نو کفیل مکلف دی د چا دپاره چه د هغه دکفالت شوی ورته یی د غوښتنی په صورت کښی په ټاکلی وخت کښی حاضر کی. نو که یی په ټاکلی وخت کښی حاضر کړ، کفیل د کفالت څخه بری الذمه کیږی، د هغی په غیر محکمه کولی شی چه کفیل په تهدیدوونکی نقدی جزأ محکوم کی، مګر داچه د کفالت کړه شوی د حاضرولو عجز ثابت شی.

### ۱۶۸۵ ماده:

که کفالت کړه شوی په یوه معلوم ځای کښی غایب وی او د چا دپاره چه کفالت شوی هغه ئی حاضرول وغواړی، کفیل د هغه په حاضرولو مکلف کیږی. په دی صورت کښی د چا دپاره چه کفالت شوی کولی شی چه کوم وخت کفیل د هغه دحاضرولو دپاره سفر کوی دهغه دتوثیق دپاره بل وکیل واخلی. که کفالت کړه شوی غایب وی او کفیل ثابته کی چه ځای ئی نامعلوم دی، نو کفیل د کفالت کړه شوی په حاضرولو نه مکلف کیږی.

### ۱۶۸۶ ماده:

کفیل په نفس، که کفالت کړه شوی تسلیم کی یا د کفالت د موضوع پور اداء کی بری الذمه کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۶۸۷ ماده:**

کفیل دکفالت کړه شوی په مړینه بری الذمه کیږی مګر د پور ورکوونکی په مړینه چه ورته کفالت شوی کفیل نه بری الذمه کیږی د هغه وارثان کولی شی چه کفالت کړه شوی دحاضرولو غوښتنه وکی.

## دریم قسمت- د کفالت آثار

### لومړی مبحث - د پور ورکوونکی او کفیل ترمنځ د پور آثار

**۱۶۸۸ ماده:**

پور ورکوونکی کولی شی په هغی صورت کښی چه پور معجل وی د هغی غوښتنه د کفیل څخه فوراً او که مؤجل وه نو د تأجیل د مودی د پوره کیدو سره سم د کفیل څخه د هغی غوښتنه وکی. که پور د شرط پوری یا د راتلونکی وخت پوری موکول وه نو د شرط د تحقق یا د ټاکلی مودی د رسیدو ترمخه د کفیل څخه د هغی غوښتنه نه شی کولی.

**۱۶۸۹ ماده:**

د شرط د تحقق سره د صفت او قید تحقق هم لازم دی.

**۱۶۹۰ ماده:**

که څو نفره د یوه پور کفیلان شی، او هر یوه په ځانګړی ډول د ټول پور کفالت په پرله پسی عقدونو کړی وی، د هر یو څخه د ټول پور غوښتنه کیدای شی، که پور د یوه له خوا ورکول شی نور بری الذمه کیږی، که یو د بل د ټول پور په اداء کولو کښی کفیل وه، نو چا چه پور اداء کړ هغه کولی شی چه په نورو د هغوی دپور په اندازی رجوع وکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۶۹۱ ماده:**

که څو نفرو د یوه پور په ډله ایزه توګه په یوه عقد کښې کفالت کړی وی دهریوه څخه داصیل د پور څخه د هغه دحصی په اندازی غوښتنه کیدای شی. که هریوه په جلا ډول د ټول هغه پور چه د بل په ذمه دی کفالت کړی وه نو پور ورکوونکی کولی شی چه د هریو څخه په جلا ډول د ټول پور غوښتنه وکی.

**۱۶۹۲ ماده:**

که پور په اصیل باندی مؤجل وه، او بل څوک د هغی څخه کفالت وکی، نو د کفیل په باره کښی هم مؤجل ګڼل کیږی.

**۱۶۹۳ ماده:**

که څوک د معجل پور څخه په مؤجل صورت کفالت وکی نو دا تأجیل د اصیل په باره کښی هم اعتبار لری مګر داچه کفیل د تأجیل موده یوائی د ځان دپاره تخصیص کړی وی یا داچه پور ورکوونکی د کفالت په وخت کښی مهلت یوائی د کفیل په باره کښی شرط کړی وی، نو په دی دوه وروستنیو حالونو کښی، تأجیل د اصیل په باره کښی اعتبار نه لری.

**۱۶۹۴ ماده:**

که پور ورکوونکی چه پخپله پوروړی دی اصیل ته مهلت ورکی نو دامهلت د کفیل او د کفیل د کفیل په باره کښی هم اعتبار لری. که لومړنی کفیل ته پور تأجیل شي، د دوه یم کفیل په باره کښي تأجیل اعتبار لری او د اصیل په باره کښی اعتبار نه لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۶۹۵ ماده:**

مؤجل پور د کفیل په مړینه یوائی د هغه په باره کښې د مړینې د نېټې څخه د اداء کولو وړ دی، پور ورکوونکی کولی شي چه پور د هغه د متروکې څخه واخلي. که پور ورکوونکی ته د هغه پور د مړي د وارثانو له خوا ورکول شي، نو وارثان نه شي کولی چه د مودې د رسیدو ترمخه اصیل ته رجوع وکړي.

**۱۶۹۶ ماده:**

که مبیعه په استحقاق ویوړه شي نو کفیل د کفالت کړه شوی ثمن څخه بری الذمه کیږي.

**۱۶۹۷ ماده:**

که پور ورکوونکي د پور په بدل کښې د بل شي اخیستل قبول کی، کفیل بری الذمه ګڼل کیږي، که څه هم هغه شي په استحقاق ویوړ شي.

**۱۶۹۸ ماده:**

که کفیل هغه څه چه ئی کفیل شوی دی د خپل مال څخه ادأ کی نو کوم شي چه یې ادأ کړي کولی شي چه په هغې اصیل ته رجوع وکی خو په دی شرط چه کفالت د اصیل په امر صورت موندلی وی او کفیل د هغه اشخاصو د جملې څخه وی چه اقرار ئی پخپل ځان معتبر ګڼل کیږي.

**۱۶۹۹ ماده:**

کفیل د هغې تأميناتو په حدودو کښې چه د پور د تضميناتو دپاره تخصیص شوی او د پور ورکوونکی د خطا په اساس ضایع شوی وی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بری الذمه ګڼل کیږي، که څه هم ذکر شوی تأمینات د کفالت یا د قانون د حکم څخه وروسته تاکل شوی وي.

**۱۷۰۰ ماده:**

کفیل نه شي کولی پخوا له دی چه کفالت کړه شوی پور، پور ورکوونکی ته ورکړه شي، د اصیل څخه د هغی غوښتنه وکی.

**۱۷۰۱ ماده:**

که پوروړی مفلس شي،پور ورکوونکی مکلف دی چه پور د ثابتولو دپاره په افلاس خط کښی ښکاره کی، او که دا کار، ونه کی نو په کفیل باندی دهغه درجوع حق کفیل ته د رسیدلی ضرر په حدودو کښی چه د پور ورکوونکی د اهمال په سبب رسیدلی ساقطیږي.

**۱۷۰۲ ماده:**

که کفالت کړه شوی مال د اصیل یا کفیل له خوا اداء شو نو د دواړو د برائت موجب کیږي.

**۱۷۰۳ ماده:**

که پورورکوونکی پوروړي ته ابراء وکړه نو د کفیل د ذمی د برائت موجب کیږي. خو د کفیل برائت د اصیل د برائت موجب نه دی نو که پور ورکوونکی اصیل ته برائت ورکی، اصیل نه بری الذمه کیږي.

**۱۷۰۴ ماده:**

که هغه پور ورکوونکی چه د پور کفالت ئی شوی مړ شي او پوروړی د هغه یوائنی وارث وي، کفیل بری الذمه ګڼل کیږي. که پور ورکوونکی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوروړي په غير بل وارث هم ولري نو كفيل يواځې د پوروړي د حصې څخه بري الذمه كيږي نه د نورو وارثانو د حصو څخه.

**۱۷۰۵ ماده:**

(۱) كوم وخت چه پور وركوونكى د كفيل څخه پور اخلي نومكلف دى ټول هغه سندونه چه پوروړي ته په رجوع كولو كښې د حق د استعمال دپاره لازم دي، كفيل ته تسليم كي.

(۲) كه پور منقول تضمينونه د ګروي يا بندولو په توګه ولري، پور اخيستونكى مكلف دى چه هغه كفيل ته تسليم كي.

(۳) كه پور عقاري تأمينات ولري، پور وركوونكى مكلف دى د كفيل په مصرف د ذكر شوو تأميناتو د نقلولو چاروته اقدام وكړي، كفيل به د نقلولو مصرفونه د پوروړي څخه غواړي.

**۱۷۰۶ ماده:**

(۱) پوروړى نه شي كولى چه يواځې كفيل ته رجوع وكي، مګر پوروړي ته د رجوع كولو وروسته.

(۲) د كفيل د مال څخه د پور وركوونكى د پور اخيستل جواز نه لري، مګر داچه د پور د يوې برخې د اداء كولو وروسته پوروړي ته مال پاتى نه شي، په هغه صورت كښې چه د كفيل څخه د پور غوښتنه كيږي، مكلف دى چه په دې حق استناد وكي.

**۱۷۰۷ ماده:**

كه پور د داسې عيني تأميناتو لرونكى وه چه د قانون يا د موافقې سره سم د پور د تضمين دپاره تخصيص شوى وه او كفالت ددې تضمين څخه وروسته او يا ورسره يوځاى شوى وه، د تأمين دپاره د تخصيص شوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تأميناتو د مالونو څخه د حاصلولو ترمخه د کفيل د مالونو څخه د پور تحصيل جواز نه لري.

**۱۷۰۸ ماده:**

متضامن کفيل نه شي کولی چه د مال څخه د پوروړی د تجريد غوښتنه وکی مگر حق لري چه په هغه څه استناد وکی چه غير متضامن کفيل د پور په باره کښی په هغی استناد کوی.

**۱۷۰۹ ماده:**

که کفيلان پخپلو مينځو کښی سره متضامن وه، نو که کوم يو د نېټې د رسيدو په وخت کښی پور ادأ کی، کولی شي چه د نورو په پور کښی د هغوی د حصو په اندازی او د مفلس کفيل د حصی هم د هغوی د حصو په اندازی رجوع وکی.

## دوه يم مبحث – د پوروړی او کفيل ترمنځ د کفالت آثار

**۱۷۱۰ ماده:**

که کفيل، کفالت کړه شوی مال د خپل مال څخه اداء کی، کولی شي هغه څه چه ئی اداء کړی دی د پوروړی څخه يی غوښتنه وکی، په دی صورت کښی کفيل په ټولو حقوقو کښی د پور ورکوونکی قايم مقام گرځی.

**۱۷۱۱ ماده:**

که کفالت شوی پور مؤجل وه او کفيل هغه په معجل صورت پور ورکوونکی ته ورکړو، نو نه شي کولی چه دمودی درسيدو ترمخه د پوروړی څخه د هغی غوښتنه وکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۷۱۲ ماده:**

که پوروړی مړ شو نو مؤجل پور په معجل صورت ادأ کیږي مګر داچه موافقه بل رنګه شوی وي. پور ورکوونکی کولی شي چه خپل پور د پوروړي د متروکې څخه واخلي نه د کفیل څخه.

**۱۷۱۳ ماده:**

که پور په کفالې یا ګروی ټینګ شوی وي بیا پوروړی مفلس شي او مړ شي نو پورئې د ذمې څخه نه ساقطیږي.

**۱۷۱۴ ماده:**

کفیل مکلف دی د پور ادأ کولو ترمخه د موضوع څخه پور وړي ته خبرتیا ورکي، د هغې په غیر په پوروړي د هغه د رجوع حق ساقطیږي، خو په دې شرط چه پوروړي پور ادأ کړی وي یا د استحقاق په وخت کښې د هغه سره داسې سببونه موجودوي چه دپورپه باطلیدویا تیریدو حکم کوي.

**۱۷۱۵ ماده:**

که په یوه پور کښې څو متضامن پوروړي موجود وي، کوم کفیل چه د ټولو څخه ضمانت کړی وي، کولی شي کومه اندازه پور ئې چه اداء کړی وي دهغې ټول غوښتنه د هریوه څخه وکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوه یم فصل
## حواله

### لومړی قسمت– د پور حواله

### لومړی مبحث – عمومی حکمونه

**۱۷۱۶ ماده:**

د پور حواله عبارت ده د حوالی ورکوونکی د ذمی څخه د پور نقلیدل د حوالی ورکړ شوی ذمی ته او د هغه څخه د پور غوښتنه.

**۱۷۱۷ ماده:**

حواله به یا مطلقه وی او یا مقیده.

**۱۷۱۸ ماده:**

مطلقه حواله هغه ده چه پوروړی خپل پور ورکوونکی ته بل چا باندی د داسی پور غیر مقیده حواله ورکی چه حواله ورکوونکی ئی د حواله کړه شوی په ذمی د هغه د پور له درکه لری یا ئی د داسی پور له درکه د هغه په ذمی لری چه ودیعت یا غصب شوی مال وی یا په داسی توګه وی چه حواله ورکوونکی او حواله شوی یو په بل هیڅ نوعه حقوق نه لری.

**۱۷۱۹ ماده:**

مقیده حواله هغه ده چه پوروړی خپل پور ورکوونکی ته د هغه پور د اخیستلو دپاره چه په حواله ورکړی شوی شخص باندی یی لری په داسی قید حواله ورکی چه حواله ورکړ شوی شخص دهغه پور له درکه چه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



حواله ورکړ شوی ئی لری یا د هغه درکه چه ورسره یی په ودیعت لری یا ئی د غصب شوی مال له درکه اداء کی.

## دوه یم مبحث – د حوالی د صحت شرطونه

**۱۷۲۰ ماده:**

د حوالی ورکوونکی، حوالی اخیستونکی او د حوالی ورکړ شوی شخص رضائیت د حوالی د صحت شرط دی، که حواله ورکړ شوی، حواله قبوله نه کی، نو پور د هغه ذمی ته نه نقلیږی، مگر داچه پور د ښځی نفقی له درکه وی چه میړه د قاضی په امر د هغی په ورکولو مکلف شوی وی، په دی صورت کښی ښځه کولی شی بی د حوالی ورکړ شوی شخص د رضائیت څخه چه د هغی میړه دی د پور حواله ورکی او میړه مکلف کیږی چه پور حوالی اخیستونکی ته ورکی.

**۱۷۲۱ ماده:**

کومه حواله چه د حوالی ور کوونکی او حواله شوی ترمنځ صورت مومی دحوالی اخیستونکی د قبلولو پوری موقوفه ده.

**۱۷۲۲ ماده:**

(۱) د حوالی اخیستونکی څخه د حوالی ورکوونکی پور ورتیا د حوالی د صحت شرط گڼل کیږی.

(۲) د حوالی ورکوونکی څخه د حوالی ورکړ شوی پور ورتیا شرط نه ده. هروخت چه حواله ورکړ شوی، حواله قبوله کی، حواله صحیح ده، حواله اخیستونکی د پور په ورکولو مکلف دی. که څه هم حواله ورکړ شوی د حوالی ورکوونکی پوروړی نه وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریم مبحث – هغه پوروته چه حواله وربانډې جواز لري

**۱۷۲۳ ماده:**

کوم پور چه کفالت په کښې صحیح دی په هغې کښې حواله هم صحیح ده، خو په دې شرط چه معلومه وي، په مجهول پور حواله صحیح نه ده.

**۱۷۲۴ ماده:**

لکه چه حواله په هغې پورونو چه په ذمې باندې اصالتاً مرتب وي صحیح ده همدارنګه د هغې پورونو حواله چه په ذمې باندې د کفالې یا حوالې په صورت مرتب کیږي هم صحیح ده.

**۱۷۲۵ ماده:**

د وقف مستحق کولی شي چه خپل پور ورکوونکی ته د وقف څخه د خپل استحقاق پورې مقیده حواله د وقف په ناظر باندې ورکي، خو په دې شرط چه وقف د ناظر په تصرف کښې وي او حواله قبوله کي، که د وقف حاصل د ناظر په تصرف کښې نه وي نو په استحقاق حواله صحیح نه ده.

**۱۷۲۶ ماده:**

د صغیر پلار او وصي کولی شي د صغیر د پور حواله په بل چا قبوله کي، خو په دې شرط چه په هغې کښې د صغیر خیر وي. مثلاً حواله ورکړ شوی د حوالې ورکوونکي څخه ډیر شتمن وي. که دواړه په شتمنی کښې مساوي او یا سره نږدې وه نو په بل چا باندې حواله ورکول صحیح نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلورم مبحث – د حوالي حکمونه

### ۱۷۲۷ ماده:

که حواله اخیستونکی حواله قبوله کی او حواله ورکړ شوی وربانـدی راضی شی، نو حواله ورکوونکی او د هغه کفیل که چیرته کفیل ولری د پور او د پور د غوښتنی څخه بری الذمه ګڼل کیږی او په عین حال کښی د حوالی اخیستونکی غوښتنه دحوالی ورکړشوي څخه ثابتیږي. د حوالی ورکوونکی او د هغه د کفیل برائت د حوالی اخیستونکی د حق د سلامتیا پوری مقیده ګڼل کیږی.

### ۱۷۲۸ ماده:

حواله د حوالی ورکوونکی د نه برائت په شرط کفالت ګڼل کیږی، که په حوالی ورکوونکی ضمان شرط شی، یا حوالی اخیستونکی دپاره خیار کښیښودل شی، شرط صحیح دی او حواله اخیستونکی کولی شی چه پور د حوالی ورکوونکی څخه یا د حوالی ورکړه شوی څخه وغواړی.

### ۱۷۲۹ ماده:

په مطلقی حوالی کښی د حوالی ورکوونکی غوښتنه د حوالی ورکړه شوی څخه نه قطع کیږی، د حوالی وروسته ترڅو چه حواله ورکړه شوی حوالی اخیستونکی ته پور نه وی ورکړی، کولی شی چه د هغه څخه د پور غوښتنه وکی. که یی پور اداً کړی وه نو په کومی اندازی چه یی اداً کړی وی په همغی اندازی ئی د ذمی څخه ساقطیږی. که حواله ورکړه شوی د حوالی ورکوونکی پوروړی نه وه او د هغه په امرئی د هغه له خوا پور اداً که د هغی د مثل په اندازی به په هغه رجوع کوی، او که یی بی د هغه د امر څخه پور اداً کړی وه، تبرع کوونکی ګڼل کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۷۳۰ ماده:**

په مقیدی حوالی کښی دحوالی ورکړه شوی ځخه د پور د غوښتنی په باره کښی د حوالی ورکوونکی حق قطع کیږی، او حواله ورکړه شوی نه شی کولی چه پور حوالی ورکوونکی ته ورکی. د مخالفت په صورت کښی، حوالی اخیستونکی ته مسئول دی. نو حواله اخیستونکی کولی شی د هغی په باره کښی حوالی ورکوونکی ته رجوع وکی.

**۱۷۳۱ ماده:**

پور په حواله ورکړ شوی پوری په همغی صفت تعلق نیسی چه د حوالی ورکوونکی پوری ئی لرلو. که په حوالی ورکوونکی پور په معجل صورت وه نو حواله ورکړ شوی باید چه هغه په معجل صورت ادأ کی. که پور مؤجل وه نو حواله کړه شوی د هغی په ادأ کولو ترهغی نه مکلف کیږی ترڅو چه د ادأ کولو نیټه نه وی رارسیدلی.

**۱۷۳۲ ماده:**

که حواله مؤجله وه د حوالی ورکوونکی مړینه د اداء کولو په نیټې کښی تاثیر نه لری، که حواله ورکړه شوی مړشو نو پور معجل کیږی او دمتروکی ځخه یی ادأ کیږی، خو په دی شرط چه متروکه د پور د ادأ کولو دپاره کافی وی، که متروکی کفایت نه کولو نو ټول پور یا پاتی اندازه یی د هغی د مودی د پوره کیدو وروسته د حوالی ورکوونکی ځخه غوښتل کیږی.

**۱۷۳۳ ماده:**

که حواله مبهمه وی او د پور تأجیل یا تعجیل په کښی نه وی تصریح شوی، حواله ورکړه شوی ته په مؤجل صورت اعتبار لری، په هغی صورت کښی چه تعجیل ثابت کړی شو سمدستی په ادأ کولو مکلف کیږی. او که

(c) ketabton.com: The Digital Library



تأجیل ثابت کړی شو نو چه د ادأ کولو وخت را ورسیدلو په ورکولو یی مکلف کیږی.

**۱۷۳۴ ماده:**

که ګروی ورکوونکی، ګروی اخیستونکی ته د پور په اخیستلو، یا اخیستونکی، خرڅوونکی ته د ثمن په اخیستلو په بل چا حواله ورکی نو دا حواله د ګروی اخیستونکی د ګروی د حبسولو په باره کښی او د خرڅوونکی حق د مبیعی د حبسولو په باره کښی نه ساقطوی، مګر داچه دریيم شخص پور او ثمن ادأ کړی وی.

**۱۷۳۵ ماده:**

که ګروی اخیستونکی خپل پور ورکوونکی ته په ګروی ورکوونکی حواله ورکی، د هغه حق د ګروی په حبسولو کښی ساقطیږی، که خرڅوونکی خپل پور ورکوونکی ته په اخیستونکی د ثمن د اخیستلو دپاره حواله ورکی د هغه حق د عین مبیعی په حبسولو کښی ساقطیږی.

**۱۷۳۶ ماده:**

که پور وړی خپل پور ورکوونکی ته په بل چا په دی شرط حواله ورکی چه حواله کړه شوی دی د حوالی ورکوونکی د ملکیت عین چه ورسره دی خرڅ کی او د هغی د ثمن څخه دی د حوالی اخیستونکی پور ادأ کی نو حواله د حوالی ورکړه شوي د قبلیدو وروسته صحت لري،هغه مکلف دي چه ذکر شوی عین خرڅ کي او د ثمن څخه یې پور ادأ کي. حواله ورکړه شوی د خپل پور په باره کې حوالي ورکوونکی ته رجوع نشي کولی، مګر داچه په حوالې کې د حوالي اخیستونکي دپاره خیار شرط شوی وي یا دا چه د حوالې کړه شوی مال د هلاکیدو په سبب حواله فسخ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۷۳۷ ماده:**

د حواله کړه شوي شخه د پور د ادا کیدلو متعذره کیدل یا د هغه په افلاس حکم د حوالې د باطلیدلو نه موجب کیږي.

**۱۷۳۸ ماده:**

د حوالې ورکړه شوی غیابت که څه هم په دایمي ډول وي د حوالې اخیستونکي په حوالې ورکوونکی د رجوع کولو باعث نه ګرځي، مګر دا چه د غایب مړینه ثابته شي.

**۱۷۳۹ ماده:**

کوم پور چه په حوالې مقید شوی وي ساقط شي او د هغې شخه د حوالي کړه شوي د ذمې برائت د حوالې شخه تر مخه د یو کار په موجب ظاهره شي، حواله باطلیږي او حواله اخیستونکی به په حوالې ورکوونکی رجوع کوي.

**۱۷۴۰ ماده:**

کوم مال چه حواله کړه شوی او د حوالی شخه وروسته د یوی عارضی په اثر هلاک شی او د حواله کړه شوی د ذمی برائت د هغی شخه ثابت نه شی نو حواله نه باطلیږی.

**۱۷۴۱ ماده:**

(۱) که پوروړی خپل پور ورکوونکی ته په ودیعت اخیستونکی باندی د ودیعی په عین مقیده حواله ورکی او ودیعه پخوا له دی چه حوالی اخیستونکی ته تسلیم کړی شی بی د ودیعت اخیستونکی د تیری شخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلاکه شي، نو وديعت اخيستونکی بری الذمه او حواله باطله ګڼل کيږي.
حواله اخيستونکی کولی شي چه په حوالي ورکوونکي رجوع وکي.
(۲) که وديعه د وديعت اخيستونکي د قصور او تيري په اثر هلاکه شوي وي، حواله نه باطليږي که عين قيمتي وي وديعت اخيستونکی د هغې په قيمت او که مثلي وي د هغې د مثل په ادأ کولو، حوالي اخيستونکي ته ضامن کيږي.

**۱۷۴۲ ماده:**

که وديعه چه د بل چا دپاره د حوالي محل دی په استحقاق ويوړله شوه لکه چه حواله په هلاکيدو باطليږي همدارنګه دا هم باطليږي. حواله اخيستونکی کولی شي چه په حوالي ورکوونکي رجوع وکي.

**۱۷۴۳ ماده:**

(۱) که پوروړی خپل پور ورکوونکي ته په حواله کړه شوي باندي د پور د ادأ کولو دپاره د هغې غصب کړه شوي مال په عين باندي مقيده حواله ورکي چه د هغه سره دی او عين پخواله دی چه حوالي اخيستونکي ته ورکول شي د حواله کړه شوي غصبوونکي سره هلاک شي، حواله نه باطليږي او حواله ورکړه شوي هم نه بری الذمه کيږي، نو حوالي اخيستونکي ته د هغې د مثل يا قيمت ضامن کيږي.
(۲) که د غصب کړه شوي شي عين بل څوک په استحقاق ويسي، حواله باطليږي او حواله اخيستونکی به د خپل حق د اخيستلو دپاره په حوالي ورکوونکي رجوع کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۷۴۴ ماده:**

هغه مبیعه چه په ثمن یی حواله ورکړه شوی که په استحقاق ویوړه شی نو په هغی صورت کښی چه ثمن یی ورکړی وی نو کولی شی چه په حوالی ورکوونکی یا په حوالی اخیستونکی په هریوه چه یی زړه وغواړی رجوع وکی.

**۱۷۴۵ ماده:**

(۱) که حواله ورکوونکی پخواله دی چه حواله اخیستونکی دحوالی ورکړه شوی څخه تول پور واخلی، د پورورړ توب په حالت کښی مړ شی. نوکوم شی چی حوالی اخیستونکی د حوالی ورکوونکی په ژوند کښی د حوالی ورکړه شوی څخه قبض کړی د هغه دی، او کوم شی چه یی نه دی قبض کړی نو حواله اخیستونکی سره به په هغی کښی دحوالی ورکوونکی د نورو پور ورکوونکو په شان معامله کیږی.
(۲) په هغه صورت کښی چه پور د حوالی ورکوونکی د پور ورکوونکی ترمنځ وویشل شی، حواله اخیستونکی د هغی حصو په باره کښی چه نورو پور ورکوونکو اخیستی په حوالی ورکړه شوی رجوع نه شی کولی.

**۱۷۴۶ ماده:**

که حواله ورکوونکی پخواله دی چه حواله اخیستونکی خپل پور دحوالی ورکړه شوی څخه واخلی، مړ شی او د هغه څخه وارثان پاتی وی، دحوالی ورکوونکی وارثان کولی شی چه پور وغواړی او دمتروکی سره ئی یوځای کی، نو په دی صورت کښی په حواله اخیستونکی دمتروکی څخه خپل پور اخلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۷۴۷ ماده:**

که حواله ورکړه شوی د پور ورټوب په حالت کښې مړ شي د هغه متروکه د پور ورکوونکو او حوالي اخیستونکي ترمنځ د هغوی د حصو په اندازې ویشله کیږي نو که د ویشلو وروسته د حوالي اخیستونکي حق پاتي شو، د هغي غوښتنه به د حوالي ورکوونکي څخه کوي.

**۱۷۴۸ ماده:**

که حواله اخیستونکي مړ شي او حواله کړه شوی د هغه وارث وی نو کوم پورچه حواله ورکوونکي یې پرحواله کړه شوی لري باطلیږي که څه هم حواله اخیستونکي خپل مال حواله کړه شوی ته هبه کي.

**پنځم مبحث - د حوالي ورکړه شوي د ذمي برائت**

**۱۷۴۹ ماده:**

که حواله ورکړه شوی پور اداً کي او یائی په بل چا حواله کي او د بل چا له خوا دا حواله قبوله شي، بری الذمه کیږي.

**۱۷۵۰ ماده:**

که حواله اخیستونکي، حواله ورکړه شوی ته ابرأ وکي پور ساقطیږي او حواله ورکړه شوی بری الذمه کیږي.

**۱۷۵۱ ماده:**

که حواله اخیستونکي پور حواله ورکړه شوی ته هبه کي او هغه هبه قبوله کي نو د پور مالک ګڼل کیږي. په دی صورت کښې که حواله ورکړه شوی د حوالي ورکوونکي پور ورېی وی نو پور دمجرائی په اساس ساقطیږي، او

(c) ketabton.com: The Digital Library



که پور وړی نه یی ، نو هغه او د هغه وارثان کولی شی چه د حوالی ورکوونکی څخه د هغی غوښتنه وکی.

**۱۷۵۲ ماده:**

په مقیدی حوالی کښی د حوالی اخیستونکی له خوا حوالی ورکوونکی ته ابرأ او هبه صحت نه لری.

**دوه یم قسمت- د حق حواله**

**۱۷۵۳ ماده:**

که پور ورکوونکی د بل چا سره موافقه وکی چه زما د پور حواله چه په پوروړی یی لرم قبوله که، نو که حوالی اخیستونکی، حواله قبول کړه، بی له دی چه حواله کړه شوی پری موافقه وکی دا حواله صحیح ده. مګر دا چه د پور ورکوونکی او پوروړی ترمنځ موافقه بل رنګه شوی وی یا دا چه د قانون حکم په بل ډول وی.

**۱۷۵۴ ماده:**

د حق حواله بی د پور وړی درضائیت څخه صحت لری.

**۱۷۵۵ ماده:**

د حق حواله د هغی اندازی څخه دباندی چه د حجز قابلیت لری، صحیح نه ده.

**۱۷۵۶ ماده:**

د حق حواله د حواله کړه شوی په مقابل کښی غیر نافذه نه ګڼل کیږی، مګر دا چه حواله ورکړه شوی پور وړی هغه قبوله کی یاورته خبر ورکول

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی وی او دهغی نفاذ دبل چا په مقابل کښی د حوالی ورکړه شوی پور وړی د قبلولو په اثر د دی مستلزمه وی چه دا قبولی دی ثابته نېټه ولری.

**۱۷۵۷ ماده:**

د حواله شوی حق سره د هغی تضمینات هم نقلیږی.

**۱۷۵۸ ماده:**

حواله اخیستونکی پور ورکوونکی کولی شی دحوالی د اعلامولو یا د هغی د قبلولو ترمخه داسی عملی اجراآتو ته اقدام وکی چه د هغی په وسیلی د هغی حق ساتنه وکی چه ورته نقل شوی دی.

**۱۷۵۹ ماده:**

که د حق حواله د عوض په مقابل کښی وی، حواله ورکوونکی د حوالی په وخت کښی د هغي حق په وجود چه پری حواله ورکړه شوی، ضامن دی، مگر دا چه د هغی په خلاف موافقه شوی وی.

**۱۷۶۰ ماده:**

که د حق حواله د عوض په مقابل کښی نه وی، نو حواله ورکوونکی ضامن نه گڼل کیږی.

**۱۷۶۱ ماده:**

که حواله ورکوونکی د پور وړی شتمنی تضمین کړی وی، نو ضمان د حوالی د وخت منعقیدو ته راجع کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۷۶۲ ماده:**

که حواله اخیستونکی په حوالی ورکوونکی د ضمان رجوع وکی نو حواله ورکوونکی د هغه څه په ردولو چه ئی اخیستی د مصرفونو سره مکلف دی.

**۱۷۶۳ ماده:**

حواله ورکوونکی د خپل تیری کولو ضامن دی که څه هم حواله بی عوضه وی یا د ضمان نشتوالی شرط شوی وی.

**۱۷۶۴ ماده:**

حواله ورکوونکی مکلف دی چه حوالی اخیستونکی ته هغه سند چه په کښی حواله شوی حق درج وی سره د هغی توضیحاتو او وسیلو چه د دی حق حاصلول آسانوی، تسلیم کړی.

**۱۷۶۵ ماده:**

که په یوه حق کښی څو حوالی وی نو د هغه چا حوالی ته ترجیح ورکول کیږی چه تر نورو د مخه تنفیذ شی.

**۱۷۶۶ ماده:**

حواله ورکړه شوی پوروړی کولی شی چه د حوالی اخیستونکی په مقابل کښی په داسی د فاعیو استناد وکی چه د حوالی د نافذیدو په وخت کښی یی په هغی د حوالی ورکوونکی په مقابل کښی استناد کولی شو. همدارنګه کولی شی په داسی د فاعیو استنادو کی چه د حوالی د حق څخه استنباطیدلی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۷۶۷ ماده:**

که حواله شوی حق پخوا لـه دی چـه حوالـه د بـل چـا پـه حصی کـښی نافـذه شی، د حواله کړه شوی په تصرف کښی د حجز لاندی واقع شی، نـو حوالـه نسبت حجز کوونکی ته بل حجز ګڼل کیږی.

**۱۷۶۸ ماده:**

وروسته له دی چه حواله د بل چا په حصی کښی نافـذه شـی د حجـز لانـدی مال بانـدی بـل حجز واقـع شـی نـو پـور دمخکنـی حجـز کوونکـی او حـوالی اخیستونکی او د وروستنی حجز کوونکی ترمنځ د پور ورکوونکو پـه شـان ویشل کیږی خو د وروستنی حجز کوونکی د حصی څخه په دومـره انـدازی اخیستل کیږی چه د حوالی اندازه حوالی اخیستونکی ته پوره کی.

**۱۷۶۹ ماده:**

که پوروړی حواله قبولـه کـړی نـه وی او د حـوالی د اعلامیـدو ترمخـه، پـور حواله ورکوونکی ته ورکی بری الذمه ګڼل کیږی په هغی صورت کښی چـه حواله اخیستونکی ثابته کی چه د پور د ورکولو پـه وخـت کـښی پـه حـوالی خبروو، نو نه بری الذمه کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریم فصل
## حیازي ګروي

### لومړی قسمت– د حیازي ګروي رکنونه

**۱۷۷۰ ماده:**
حیازي ګروي داسي عقد دی چه د هغی په موجب ګروي ورکوونکی تعهد کوي چه خپل مال به دګروي اخیستونکی په تصرف کښي یا د یو بل امین شخص په تصرف کښي د داسي مال د حق په بدل کښي ورکوي چه د هغی ټول یا یوه برخه اداً کول د لومړۍ درجې پور ورکوونکو یا د داسي پورورکوونکو حق ته چه نسبت ذکرشوو پور ورکونکوو ته په ټیټې رتبې کښي واقع دی ترمخه وي.

**۱۷۷۱ ماده:**
په حیازي ګروي کښي باید چه د ګروي مال موجود، قیمت لرونکی، تسلیمیدل یی ممکن اوداسي ملکیت وي چه دنورو د حقوقو څخه خالي وي.

**۱۷۷۲ ماده:**
(۱) دګروي موضوع باید چه د پور وړی په ذمی باندی ثابت پوروی او یا داسي عین وي چه د تضمین وړ وي. په امانتونو ګروي صحیح نه ده.
(۲) په حیازي ګروي کښي منقول او نامنقول مال ګرویدلی شي.
(۳) که په حیازي ګروي کښي د ګروي مال پیسي وي نو ګروي اخیستونکی نه شي کولی چه ورڅخه ګټه واخلي مګر دا چه دا ګټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخیستل د دی دپاره وی چه د ګروی اخیستونکی د خبرتیا وروسته د پور د اداً کولو په وخت کښی د پور دحصول دپاره وی.

## لومړی مبحث - د عقد د دواړو خواوو ترمنځ د حیازی ګروی آثار

### لومړی فرعه- دګروی ورکوونکی التزامونه

**۱۷۷۳ ماده:**

(۱) د ګروی د صحت او لازمیدو د پاره شرط ده چه ګروی اخیستونکی، ګروی په پوره صورت قبض کی.

(۲) ګروی ورکوونکی کولی شی چه ګروی اخیستونکی ته دګروی د تسلیمولو ترمخه دهغی څخه رجوع وکی او د ګروی په عین کښی تصرف وکی.

**۱۷۷۴ ماده:**

ګروی ورکوونکی اوګروي اخیستونکی کولی شی په عقدکښی یا ترعقد وروسته یودبل په موافقی داسی شرط کښیږدی چه ګروی دې د یو بل امین شخص سره کښیښودله شی. په دی صورت کښی دامین شخص په رضائیت دهغه تصرف دګروی اخیستونکی دتصرف په شان دی او دهغه په قبضولو سره ګروی پوره کیږی او ګروی ورکوونکی په هغی ملزم دی.

**۱۷۷۵ ماده:**

ګروی ورکوونکی د ګروی د سلامتیا او نافذیدو ضامن دی. پور ورکوونکی کولی شی چه د ګروی ورکوونکی په مصرف د داسی وسیلو نیولو ته اقدام وکی چه د ګرو شوی شی د ساتنی دپاره لازم وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۷۷۶ ماده:**

که ګرو شوی مال د ګروی اخیستونکی په تصرف کښی وی او د هغی یوه برخه په استحقاق ویوړه شی، که په استحقاق وړله شوی برخه شریکه وی ګروی په پاتی کښی باطله ده. او که په استحقاق وړل شوی برخه ټاکلی وه نو په پاتی کښی ګروی پخپل حال پاتی کیږی او ټول پور حبسیږی.

**۱۷۷۷ ماده:**

که ګرو شوی شی دګروی ورکوونکی په حیازت کښی داخل شی، ګروی پای ته رسیږي مګر دا چه پور ورکوونکی ګروی اخیستونکی ثابته کی چه مراجعه بی د ګروی د مودی د تېرېدو په بل سبب شوی ده. داحکم په هغی صورت کښی دی چه د بل چا حق اخلال نه شی.

**۱۷۷۸ ماده:**

(۱) که ګرو شوی شی هلاک یا ناقص شی او دا هلاک یا نقصان د ګروی ورکوونکی د خطا یا د مجبری قوی په علت وی نو ګروی ورکوونکی د هغی مسئول دی.

(۲) په حیازی ګروی باندی د رسمی ګروی پوری مربوط حکمونه د شی د هلاکېدو یا نقصان، د ګرو شوی شی په باره کښی دپور ورکوونکی د حق نقلیدل هغی شی ته چه په حقوقو کښی د هغی قایم مقام کیږی تطبیقیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### دوه یمه فرعه- د پورورکوونکی ګروی اخیستونکی التزامونه

**۱۷۷۹ ماده:**

که پور ورکوونکی ګروی اخیستونکی دګرو شوی شی تسلیم شی مکلف دی چه د هغی په ساتنی او صیانت کښی داسی توجه وکی لکه چه دخپل مال په باره کښی یې کوی.

**۱۷۸۰ ماده:**

ګروی اخیستونکی د قبضولو وروسته د هغی د هلاکېدو ضامن دی دګرو شوی شی یا د پور په قیمت ورکولو هریو چه کم وی مکلف دی، د قیمت په باره کښی دقبضولو د ورځی قیمت اعتبار ورکول کیږی، نه د مال د هلاکېدو د ورځی قیمت ته.

**۱۷۸۱ ماده:**

که ګروشوی مال دګروی اخیستونکی سره هلاک شی او قیمت ئی د پور د اندازی سره مساوی وی، پور د ګروی ورکوونکی د ذمی څخه ساقطیږی او داسی ګڼل کیږی چه ګروی اخیستونکی پخپل حق رسیدلی دی خو په دی شرط چه ثابته شی چه هلاکېدل یا نقصان د هغه د تیري په اثر صورت مندلی دی.

**۱۷۸۲ ماده:**

که ګرو شوی مال دګروی اخیستونکی سره هلاک شی او قیمت یی د پور داندازی څخه زیات وی، پور ساقطیږی او ګروی اخیستونکی دګرو شوی مال د پاتی قیمت ضامن دی، خو په دی شرط چه د مال هلاکېدل د هغه د تیری یا د تقصیر په سبب وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۷۸۳ ماده:**

که ګرو شوی مال د ګروی اخیستونکی سره د هغه دتیری یا تقصیر په سبب هلاک شی او قیمت ئی د پور د اندازی څخه کم وی، پور د ګرو شوی شی په اندازی ساقطیږی او د پاتی پور غوښتنه به د ګروی ورکوونکی څخه کوی.

**۱۷۸۴ ماده:**

که ګروی اخیستونکی د ګرو شوی شی د عین حاصلات بی د ګروی ورکوونکی د اجازی د هغه د حضور په حالت کښی یا بی دواک لرونکی محکمی د اجازی څخه د هغه د غیابت په حالت کښی، خرڅ کی، د قیمت په ورکولو مکلف کیږی.

**۱۷۸۵ ماده:**

ګروی اخیستونکی نه شی کولی د ګرو شوی مال څخه عام له دی چه منقول وی یا نامنقول بی د ګروی ورکوونکی د اجازی څخه ګټه واخلی. هغه کولی شی چه د ګروي ورکوونکي په اجازي ګرو شوی مال په اجاری ورکی او اجوره ئی ګروی ورکوونکی ته ورکی، یا دا چه د اجاری پیسی د ګروی ورکوونکی د اجازی وروسته د اصلی پور څخه وضع کی، که څه هم د ګروی عقد باطل شوی وی.

**۱۷۸۶ ماده:**

(۱) که ګروی ورکوونکی د ګرو شوی مال د استعمال، ګټی اخیستلو یا عاریت ورکولو، ګروی اخیستونکی ته د یوه کار د اجرأ کولو دپاره اجازه ورکی، او ګرو شوی مال د استعمال یا کار کولو ترمخه یا د هغی څخه د فارغیدو وروسته هلاک شی نو د پور څخه ضمان اخیستل کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) که د ګروی ورکوونکی د اجازی په صورت کښی ګرو شوی مال د استعمال، ګټی اخیستلو یا د هغی کار د اجرأ کولو په وخت کښی چه د هغی د پاره په عاریت ورکول شوی هلاک شی نو امانت ګڼل کیږی په ګروی اخیستونکی ضمان نه لازمیږی او نه د هغی په بدل کښی د پور څخه څه کمیږی.

**۱۷۸۷ ماده:**

که دګروی دواړه خواوی دموافقه شوی تعویض په بدل کښی د پور د ادأ کولو د وروسته والی په سبب په دی موافقه نه وی کړی چه حاصلات دی د تعویض په بدل کښی وی او هم ئی د تعویض د ټاکلو څخه سکوت کړی وی، نو تعویض د قانونی نرخ په اساس سنجول کیږی او د حاصلاتو د قیمت څخه نه شی زیاتیدلی.

**۱۷۸۸ ماده:**

که د تضمین شوی پور د ادأ کولو لپاره وخت نه وی ټاکل شوی، پور ورکوونکی نه شی کولی چه دخپل حق د ادأ کولو غوښتنه وکی، مګر د حاصلاتو د قیمت دکمولو څخه، بی له دی چه د پور وړی حق د پور د ادأ کولو په باره کښی هروخت چه وغواړی، اخلال کي.

**۱۷۸۹ ماده:**

پور ورکوونکی رهن اخیستونکی به دګرو شوی شی اداره په لاس کښی اخلی د استثمار د لاری چه د عین څخه ئی کوی هیڅ تغییر په کښی نه شی راوړی مګر د ګروی ورکوونکی په اجازی. همدارنګه ګروی اخیستونکی مکلف دی د ټولو کارونو څخه ګروی ورکوونکی ته خبرتیا ورکی خو په هغی صورت کښی چه د هغه مداخله ایجابوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۷۹۰ ماده:**

که پور ورکوونکی خپل حق دګرو شوی مال په اداری کښې بد استعمال کی یا د لوی اهمال ارتکاب کوونکی شی، ګروی ورکوونکی کولی شی چه غوښتنه وکی چه شی د ی دساتنی لاندی کښیښودل شی یا دا چه کوم پور د هغه په ذمې دی د هغی د اداء کولو په بدل کښې ګروشوی شی بیرته واخلی.

**۱۷۹۱ ماده:**

(۱) ګروی ورکوونکی کولی نه شی چه دیوی برخی پور په اداْ کولو سره، ګروی اخیستونکی د یوی برخی ګرو شوی مال په بیرته ورکولو مکلف کی، ګروی اخیستونکی کولی شی، ګرو شوی مال د پاتی پور په بدل کښې که څه هم کم وی د ځان سره وساتی.

(۲) که ګرو شوی مال دوه جلا شیان وی او ګروی ورکوونکی د پور یوه اندازه چه د هغی دواړو څخه دیوه په مقابل کښې قرارلری، اداْ کی نو کولی شی چه هغه شی واخلی. که د هر یوه په مقابل کښې دپور اندازه نه وی ټاکل شوی، نو نه شی کولی چه هیڅ یو واخلی او دواړه د ټول پور په مقابل کښې حبس کیږی.

**۱۷۹۲ ماده:**

ګروی اخیستونکی نه شی مکلف کولی چه ګرو شوی مال ورڅخه د دی دپاره واخیستل شی چه ګروی ورکوونکی ته ورکول شی چه هغه خرڅ کی اودګروی ورکوونکی پور اداْ کی، ځکه چه دګروی حکم دادی چه ګرو شوی مال دی دایمی حبس وی ترڅوچه پورورکوونکی خپل پورقبض کی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۷۹۳ ماده:**

په حیازي ګروي باندي دقانون هغه حکمونه چه د پور وړي په غیر ګروي ورکوونکي دمسئولیت پوري مربوط دي او هغه حکمونه چه دپور دنه اداً کولو په وخت کښي د تملک دشرط دایښودلو پوري مربوط دي او دقانون هغه حکمونه چه بي له اجراآتو د بیعي د شرطونو پوري مربوط دي تطبیقیږي.

**۱۷۹۴ ماده:**

ګروي اخیستونکي نه شي کولي چه ګرو شوي مال خرڅ کي, مګر په هغي صورت کښي چه د ګروي ورکوونکي له خوا د هغي په خرڅولو وکیل شوي وي. همدارنګه رهن ورکوونکي نه شي کولي چه بي د ګروي ورکوونکي د اجازي څخه، ګرو شوي مال په ودیعت، اجاري، عاریت او په ګروي ورکي. که یي دا کارونه وکړل ګروي اخیستونکي تیري کوونکي ګڼل کیږي او دهغي په سبب د ګرو شوي مال د قیمت په ورکولو په هري اندازي چه وي ضامن ګڼل کیږي.

**۱۷۹۵ ماده:**

که ګروي اخیستونکي بي دګروي ورکوونکي د اجازي څخه ګرو شوي مال خرڅ کي او اخیستونکي ته یي تسلیم کي او ګرو شوي مال دګروي ورکوونکي د اجازي د حاصلولو ترمخه د اخیستونکي سره هلاک شي، نو ګروي ورکوونکي د اخیستونکي یا د ګروي اخیستونکي په تضمین کښي اختیار لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوه یم مبحث - نسبت دریيم شخص ته د حیازي ګروی آثار

**۱۷۹۶ ماده:**

حیازي ګروی په بل چا حجت کیدای نه شي، مګر دا چه ګرو شوی مال د پور ورکوونکي په تصرف کښي وي یا دا چه د ګروی ورکوونکي او ګروی اخیستونکي په موافقي د یوامین شخص په تصرف کښي وي.

**۱۷۹۷ ماده:**

د ګروی عقد پور ورکوونکي ګروی اخیستونکي ته دا حق ورکوي چه ګرو شوی مال حبس کي بی له دی چه د بل چا قانوني حقوق اخلال کي.

**۱۷۹۸ ماده:**

که ګرو شوی شي دګروی اخیستونکي د تصرف څخه بی د هغه د ارادي یا بی د هغه د علم څخه ووځي، کولی شي چه د حیازت د حکمونو سره سم هغه د بل چا څخه بیرته پخپل حیازت کښي راوړي .

**۱۷۹۹ ماده:**

حیازي ګروی پور ورکوونکي ګروی اخیستونکي ته حق ورکوي چه خپل حق د نورو پور ورکوونکو څخه ترمخه دګرو شوی شي دثمن څخه ترلاسه کي عام له دی چه بل پور ورکوونکي عادي وي یا دترتیب له لحاظه وروستني پور ورکوونکي وي.

**۱۸۰۰ ماده:**

پور ورکوونکي ګروی اخیستونکي کولی شي د خپل حق تنفیذ د ګرو شوی مال څخه وغواړي, که څه هم د هغې شي ملکیت د غیر پوري تعلق

(c) ketabton.com: The Digital Library



نيولي وي، په دي صورت کښې بل څوک کولي شي چه پور ادأ کي او خپل ځان د پوروړي په مقابل کښې دهغه قايم مقام کي.

**۱۸۰۱ ماده:**

دحيازي ګروی څخه په اصلي حق علاوه، هغه ضروري مصرفونه چه دګرو شوی مال دساتني دپاره شوي دي، دشي دعيب څخه پيدا شوی تعويض، دپور د عقد مصرفونه، دحيازي ګروی دعقد مصرفونه، قيد او دهغي تنفيذ، او قانوني يا موافقه شوی تعويضونه چه دعين د ادأ کولو د وروسته والي څخه پيدا شوي ورکول کيږي.

## دوه يم قسمت- دحيازي ګروی د مودي تيريدل

**۱۸۰۲ ماده:**

ګروی دتضمين شوی پور په تېرېدو سره تېرېږي، اودهغي سبب د زائله کېدو سره چه پور پري تير شوی ګروی عودت کوی. دهغه ښه نيت د خاوندانو حقوق چه دحق د مودي د تېرېدو او بيرته عودت په اوږدو کښې کسب شوی، نه اخلاليږي.

**۱۸۰۳ ماده:**

د دی قانون(۱۸۰۲) مادي په درج شوو حالونو علاوه حيازي ګروی ديوه راتلونکی سبب په موجوديدو تيريږي:

۱- که دحيازي ګروی حق او د ملکيت دحق سره ديوه شخص په تصرف کښې يو ځاي شي.

۲- که ګروی اخيستونکی پور ورکوونکی په صريح يا ضمني توګه دګروی دحق څخه انصراف وکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- دګرو کړی شوی شی په هلاکېدو.

**۱۸۰۴ ماده:**

حیازی ګروی د ګروی ورکوونکی او ګروی اخیستونکی په مړینه نه باطلیږی او د وارثانو سره پاتی کیږی.

**۱۸۰۵ ماده:**

که ګروی ورکوونکی مړ شی د هغه وصی به د ګروی اخیستونکی په اجازی ګرو کړه شوی شی خرڅوی او د هغی څخه به د ګروی اخیستونکی پور اداً کوی. که ګروی ورکوونکی وصی نه وی ټاکلی پور ورکوونکی به د هغی محکمی څخه چه دمړی د اوسیدلو ځای د هغی دواک په حوزی کښی وجود لری، تقاضا کوی چه یو څوک دګرو کړه شوی مال د خرڅولو او د هغی د ثمن څخه د پور د اداً کولو د پاره د وصی په حیث وټاکی.

**۱۸۰۶ ماده:**

که ګروی اخیستونکی پور ورکوونکی مړ شی او دګرو کړه شوی مال معلومات په لاس کښی نه وی او په متروکی کښی هم پیدا نه شی، دمتروکی څخه دګرو کړه شوی مال قیمت د اداً کولو د واجب پور په حیث ګڼل کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریيم قسمت- د حیازی ګروی ځینی نوعی

## لومړی مبحث - عقاری ګروی

### ۱۸۰۷ ماده:

عقاری حیازی ګروی په بل چا حجت کیدای نه شی، مګر دا چه عقد ثبت شوی وی، نو په دی ثبت د رسمی ګروی د قیدونو پوری مربوط خاص حکمونه تطبیقیږی.

### ۱۸۰۸ ماده:

ګروی اخیستونکی پور ورکوونکی کولی شی چه عقار ګروی ورکوونکی ته په اجاری ورکی بی له دی چه دا کار دنورو په حقوق تاثیر وکی او لازمه ده چه داجاری قیمت دګروی په عقد کښی تصریح شی. که ګروی دعقد څخه وروسته په هغی موافقه وشی نو لازمه ده چه موضوع دعقد دثبت په حاشیی کښی ورسوله شی.

### ۱۸۰۹ ماده:

ګروی اخیستونکی پور ورکوونکی مکلف دی چه دعقار د ښه ساتلو تعهد وکی او دهغی دساتنی دپاره ضروری مصرفونو ته اقدام وکی. همدارنګه مکلف دی چه محصول، مالیی او نور کلنی تکلیفونه چه لازم دی، ادأ کی. پور ورکوونکی کولی شی چه کوم شی یی مصرف کړی د عقار د حاصلاتو یا د هغی د ثمن څخه دقانون په حدودو کښی وضع کی. پور ورکوونکی هغه وخت د دی التزاماتو څخه معافیدلی شی چه د ګروی د حق څخه انصراف وکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوه یم مبحث - منقوله ګروی

### ۱۸۱۰ ماده:

(۱) منقوله ګروی هغه وخت په بل چا حجت کېدای شي چه د حیازت د نقلیدلو په خوا کښې په داسي پاڼې کښې ثبت شي چه ثابته نېټه ولري. او باید چه په دي پاڼې کښې په ګروی باندي تضمین شوی پیسي او د ګروی عین په تفصیل سره توضیح شي.
(۲) ثابته نېټه دګروی اخیستونکی پور ورکوونکی مرتبه ټاکي.

### ۱۸۱۱ ماده:

که ګروی اخیستونکی دښه نیت خاوند وي، کولی شي چه پخپل حق په ګرو کړه شوی شي کښې استناد وکي که څه هم ګروی ورکوونکی په ګروه شوی شي کښې دتصرف توان ونه لري. همدارنګه هر یو دښه نیت خاوند کولی شي چه په داسي حق استناد وکي چه په ګرو کړه شوی شي یې کسب کړي دي که څه هم دا حق د ګروی دنېټې څخه وروسته وي.

### ۱۸۱۲ ماده:

(۱) که ګرو کړه شوی شي د هلاکیدو، نقص یا د قیمت د کښته کیدو سره مخامخ وي په داسي توګه چه د پور ورکوونکی د حق د تضمین د نه پوره کېدو ویره ورسره محققه وي او ګروی ورکوونکی هم دهغی مبادله په یو بل شي چه هغی قایم مقام وګرځي ونه کي، پور ورکوونکی یا ګروی ورکوونکی کولی شي چه د محکمي څخه د مزایدی په ډول یا په بازار کښې په موجود نرخ دهغی دخرڅولو غوښتنه وکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) کـه محکمـی د خرڅولـو اجـازه وکـړه نـو محکمـه بـه دڅمـن د ودیعـت ایښودلو په باره کښې هم امر کوی. پـه دی صورت کـښې د پـوروركـوونکی حق د شی څخه دهغی ثمن ته نقلیږی.

**۱۸۱۳ ماده:**

که دګرو کړه شوی مال دخرڅولو دپاره مناسب فرصت پیدا شـو او دصفت وړګتهی سره خرڅول ممکـن شـو. نـو ګـروی ورکـوونکی کـولی شـی چـه دمحکمـی څخه دګروی دخرڅولو اجازه وغـواړی، کـه څـه هـم د اداء کولـو موده نه وی پوره شوی، محکمه به داجازی په حالت کښی دبیعی شرطونه معلوموی او دڅمن د ودیعت ایښودلو په باره کښی به امر کوی.

**۱۸۱۴ ماده:**

که ګروي اخیستونکی پور ورکوونکی خپـل حق تـه ونـه شـي رسـیدلی، نـو حـق لـري چـې د محکمـې څخـه بـه دګـرو کـړه شـوي مـال خـرڅلاو دعلنـي مزایدې په توګه یا د بازار په موجوده نرخ غوښتنه وکړي.

**۱۸۱۵ ماده:**

ګروی اخیستونکی پور ورکوونکی کولی شی چه دخپل پـور پـه بـدل کـښی دمحکمی څخه ګرو کړه شوی مال د تملیک غوښتنه وکـي خـو پـه دی شـرط چی دتملیک د داسی قیمت پـه بـدل کـښی صـورت ومـومی چـه دپوهـانو لـه خوا ټاکل کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۸۱۶ ماده:**

د دی فصل درج شوی حکمونه په هغی حدودو کښی د تطبیق وړ دی چه د تجارتی قوانینو او د منقول مال د ګروی پوری د خاصو قوانینو متعارض واقع نه شی.

## درېیم مبحث - د پور ګروی

**۱۸۱۷ ماده:**

(۱) د پور ګروی د پور وړی په مقابل کښی هغه وخت نافذه ګڼل کیږی چه د دی ګروی څخه ورته خبرتیا ورکړ شوی وی، یا د حوالی د حکمونو سره سم یې د هغه حق قبول کړی وی.

(۲) دپورګروی دبل چا په حق کښی هغه وخت نافذه ګڼل کیږی چه دګرو کړه شوی پور سند دګروی اخیستونکی په حیازت کښی داخل شوی وی. دګروی مرتبه دخبرتیا د نېټې څخه یا دقبلولو د نېټې څخه محاسبه کیږی.

**۱۸۱۸ ماده:**

(۱) کوم پور چه د حوالی یا حجز قابلیت ونه لری، ګروی یی جواز نه لری.

(۲) د رسمی سندونو ګروی په هغی خاصی طریقی سره چه قانون ددی سندونو د حوالی په منظور تنظیم کړی، صورت مومی. خو په دی شرط چه ذکر کړی شی چه حوالی دګروی په طریقی صورت مونډلی دی. په دی حالت کښی ګروی بی د اعلان د ضرورت څخه پای ته رسیږی.

**۱۸۱۹ ماده:**

ګروی اخیستونکی پور ورکوونکی کولی شی چه په موافقه شوو تعویضونو چه دګرو کړه شوی شی د پور څخه یی مستحق شوی او د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څـه چـه د ګـروی څخـه وروسـته يـی مـستحق شـوی، تـسلط پيـدا کـی. همدارنګه کولی شی چه د پور په ټولو دورانی استحقاقونو تسلط پيدا کی، خو په دی شرط چه په کوم شی تسلط پيدا کوی اول د مصروفونو، دوه يم دتعويضونو، دريیم په ګروی سره اصلی تضمين شوی پورڅخه کسر شـی، د دی ټولـو مرتبـو څخـه وخت مراعـات کيـږی چـه دهغـی پـه خـلاف موافقه نه وی شوی.

**۱۸۲۰ ماده:**

ګروی اخيستونکی پور ورکوونکی مکلف دی چه د ګرو کړی شوی پور ساتنه وکـی، کـه وغـواړی چه د ګرو کړه شوی پور يوه برخه بی د ګروی ورکوونکی د مداخلی څخه د خپل پور په بدل کښی حصول کی لازمه ده چـه هغـه د ټـاکلی زمـانی او ځـای د مراعـات کولـو سـره حـصول کـی اود موضوع څخه ګروی ورکوونکی ته خبرتيا ورکی.

**۱۸۲۱ ماده:**

په ګرو کړه شوی پور کښی پور وړی کـولی شـی د ګـروی اخيـستونکی پـور ورکوونکی په مقابل کښی د اداًً کولـو پـه ټولوسـيلو چـه د تـضمين شـوی حق د صحت پوری تعلق لری استناد وکـی. همدارنګـه کـولی شی چه د اداًً کولـو پـه هغـو وسـيلو اسـتناد وکـی چـه د اصلی پـور ورکـوونکی پـه مقابـل کښی يی لری.ټول دا حکم په هغی حدودو کښی تطبيقيږی چه پور وړی يی د حوالی پـه حالـت کـښی د حـوالی اخيـستونکی پـه مقابـل کـښی پـه دی تأدياتو استناد وکړی شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۸۲۲ ماده:**

(۱) که ګرو کړه شوی پور په ګروی باندی د تضمین شوی پور دمودی درسیدو ترمخه آخر ته ورسیږی ، پوروړی مکلف دی چه ګروی ورکوونکی او ګروی اخیستونکی ته ئی یو ځای اداً کی. دادواړه کولی شی چه د پوروړی څخه غو ښتنه وکی چه هغه څه اداء کوی هغه دی په ودیعت کښیږدی، په دی صورت کښی دګروی حق په ودیعت ایښودل شوی مال ته نقلیږی.

(۲) ګروی ورکوونکی او ګروی اخیستونکی مکلف دی کوم شی چي پوروړی اداً کړی په هغی کښی په داسی ترتیب مرسته وکی چي د ګروی ور کوونکی دپاره ډیر ګټهور وی او پور ورکوونکی ګروی اخیستوونکی ته ورڅخه ضررونه رسیږی.

**۱۸۲۳ ماده:**

که ګرو کړه شوی پور او په ګروی باندی تضمین کړه شوی پور، دواړه دادأ کولو مستحق وګرځی، په دی صورت کښی که ګروی اخیستونکی پور ورکوونکی خپل حق پوره نه وی اخیستی کولی شی چي دکوم شی مستحق کیږی د ګرو کړه شوی پور څخه قبض کی یادا چي ددی پور دخرڅولو غوښتنه وکی اویاېي ددی قانون د(۱۸۱۵) مادی ددرج شوی حکم سره سم تملک کی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلورم مبحث- د عاریت ګروی

**۱۸۲۴ ماده:**

پور وړی کولی شی چې دبل چا مال په عاریت واخلی او د هغه په اجازی یی په ګروی ورکی. که د عاریت ورکوونکی اجازه مطلقه او بی له قیده وی پور وړی کولی شی چې هغه په هری اندازی او هر جنس چې یی وغواړی او همدارنګه د هر چا دپاره په هر ځای کښی چې اراده وکی په ګروی ورکی.

**۱۸۲۵ ماده:**

که عاریت ورکوونکی د شی اندازه یا جنس یا شخص یا ټاکلی ځای په اجازی کښی مقید کی، عاریت اخیستونکی نه شی کولی چې د هغی څخه مخالفت وکی، مګر داچې په مخالفت کښی د عاریت ورکوونکی ګټه وی.

**۱۸۲۶ ماده:**

که عاریت اخیستونکی د عاریت ورکوونکی مال د هغه په اجازی د هغی شرطونو سره سم چې ئی ایښی دی په ګروی ورکی، نو عاریت ورکوونکی نه شی کولی وروسته له دی چې مال ګروی اخیستونکی ته تسلیم شی، د هغی څخه انصراف وکی او ګروی اخیستونکی کولی شی چې هغه د پور داداء کولو تروخته د ځان سره وساتی.

**۱۸۲۷ ماده:**

که عاریت د ټاکلی مودي پوري مقیدوی نو د ګروی دپاره عاریت ورکوونکی نه شی کولی چې د ټاکلی مودې د تېرېدو تر مخه د ګروی

(c) ketabton.com: The Digital Library



انفکاک او د خپل ځان دپاره د عاریت تسلیمول وغواړي. که د عاریت موده نه وه مقیده یا د ټاکلی مودي د تیریدو وروسته ، عاریت ورکوونکی کولی شی چې دارنگه غوښتنه وکی.

**۱۸۲۸ ماده:**

کــه عاریــت ورکــوونکی د گــروی د انفکــاک غوښــتنه وکــی او گــروي اخیستونکی ته پور ورکی، نو که پور د گروی د قیمت په اندازی وی، گروی اخیستونکی په قبلولو مجبوره کولی شی، په دی صورت کښی په عاریت ورکوونکی په عاریت اخیستونکی رجوع کوی، که د گرو کړه شوی مال قیمت د پور څخه کم وی، نو گروی اخیستونکی د گروی په تسلیمولو مجبوره کولی نه شی. اوکه هغه څه چې عاریت ورکوونکی ادأ کړی دگروی د قیمت څخه زیات وی، نو عاریت ورکوونکي د گرو شوی مال د زیاتی اندازی قیمت په ادأ کولو کښی تبرع کوونکی گڼل کیږی او د عاریت اخیستونکی څخه یی غوښتنه نه شی کولی.

**۱۸۲۹ ماده:**

که دگروی عاریت اخیستونکی دافلاس په حالت کښی مړ شی، نو گرو کړه شوی مال دگروی اخیستونکی په تصرف کښي حبس پاتی کیږی، بی دعاریت ورکوونکی د اجازی څخه نه شی خرڅول کېدای.

**۱۸۳۰ ماده:**

کــه عاریــت ورکــوونکی دپوروړتیــا پــه حالــت کــښی مړشــی، عاریــت اخیستونکی گروی ورکوونکی ته امر کیږی چې پور ادأ اوگروی خلاصه کی، که هغه دپور دادأ کولو څخه عاجزه وو نو په گروی ورکړه شوی مال د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګروی اخیستونکی سره پخپل حال پاتي کیږي، دعاریت ورکوونکی وارثان کولی شی چي پور اداً او ګرو کړه شوی مال خلاص کی.

**۱۸۳۱ ماده:**

په هغی مواردو کښی چي د عاریت د ګروی پورتنی حکمونه د حیازی ګروی د حکمونو معارض واقع نه شی نو د حیازی ګروی خاص حکمونه د عاریت په ګروی تطبیقیږي.

## څلورم فصل
## رسمی ګروی

**لومړی قسمت- د رسمی ګروی انشاء**

**۱۸۳۲ ماده:**

رسمی عقد هغه دی چي د هغی په سبب پور ورکوونکی عینی حق په هغی عقار کښی کسب کوی چي د پور د اداً کولو دپاره تخصیص شوی او د هغی په مقتضاء په ټولو عادی پور ورکوونکو او د ټیټو مرتبو په پور ورکوونکو د وړاندی والی حق لری او خپل پور د ذکر شوی عقار څخه په هر لاس کی چي وی حاصلولی شی.

**۱۸۳۳ ماده:**

(۱) د رسمی ګروی عقد نه شی منعقد کیدلی مګر په داسی رسمی پاڼی کی چي د مربوطو مقامونو په نزد پوره شوی وی.
(۲) د رسمی ګروی مصرفونه د ګروی ورکوونکی په غاړه دی مګر داچې د هغی په خلاف موافقه شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۸۳۴ ماده:**

په رسمی ګروی کی پور ورړی یا هغه څوک چی د پور ورړی په ګټه څه شی په ګروی ورکی ګروی ورکوونکی کېدای شی.

**۱۸۳۵ ماده:**

ګروی ورکوونکی باید چي د ګرو کړه شوی عقار مالک وی او په هغی کښی د تصرف اهلیت ولری.

**۱۸۳۶ ماده:**

که ګروی ورکوونکی د عقار مالک نه وی نو په رسمی پانړی کښې بی د مالک د اجازی صحت نه لری.

**۱۸۳۷ ماده:**

دهغی عقار ګروی چې په راتلونکی وخت کښی موجودیږی باطله ده.

**۱۸۳۸ ماده:**

که د عقار ګروی د داسی مالک له خوا صادره شوی وی چې د ملکیت سند یی باطل، فسخ، لغو، زایل یا په بل کوم سبب بی اعتباره شوی وی نو ګروی د ګروی اخیستونکی پور ورکوونکی په ګټه پاتی کیږی خو په دی شرط چي د ګروی د عقد د تړون په وخت کښی پور ورکوونکی د ښه نیت لرونکی وی.

**۱۸۳۹ ماده:**

رسمی ګروی بی له عقاره په بل شی نه شی واقع کېدلی، مګر داچي قانون د هغی په خلاف صراحت ولری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۸۴۰ ماده:**

(۱) ګرو کړه شوی عقار باید په داسې ډول وي چې د عرف له لحاظه د هغې خرڅول په علني مزایدی صحیح وي.

(۲) همدارنګه باید چې په عقد کښې په دقیق صورت ټاکل شوی وي د هغې په غیر ګروی باطله ګڼل کیږی.

**۱۸۴۱ ماده:**

ګروی د ګرو کړه شوی عقار هغې ملحقاتو ته شامله ده چې عقار ګڼل کیږی خصوصاً د اوبو کولو حقوق او د تأسیساتو هغه تزئینات چې مالک ته ګټه رسوی، مګر داچې موافقه بل رنګه شوی وی.

**۱۸۴۲ ماده:**

که د ملکیت د نرخ په باره کښې د خبرتیا پاڼه ثبت شي نو د پاڼې د ثبتیدو د نېټې څخه وروسته د عقار حاصلات او عایدات د عقار پوری یوځای کیږی او د هغې په توزیع کولو کښې هغه حکمونه مراعات کیږی چې دعقار د ثمن په توزیع کولو کښې مراعات کیږی.

**۱۸۴۳ ماده:**

کومه ګروی چې په شریک عقار کښې د مالکینو له خوا صادره شوی صحیح ده. که وروسته د عقار په ویشلو یا د هغې په خرڅولو دویشلو د نه امکان په صورت کښې، هره نتیجه مرتبه شي د ګروی په صحت تأثیر نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۸۴۴ ماده:**

که یو شریک په عقار کښې خپله حصه یا د هغې یو ټاکلی جزء په ګروی ورکړي او د ویشلو په وخت کې نور اعیان هغه ته ورسیږي، نو ذکر شوی ګروی د هغې عقار د قیمت په حدودو کښې چې اصلاً په ګروی ورکړ شوی دی اعیانو ته نقلیږي. ذکر شوی اندازه د مربوطې اداری له خوا ټاکل کیږي. پور ورکوونکی مکلف دی د ویشلو دثبت د نېټې څخه د شپیتو ورځو په اوږدو کښې د نوی قید پوری مربوطو اجراآتو ته اقدام وکی او په هغې کښې هغه اندازه چې ګروی ورته انتقال کړی بیان کی.

**۱۸۴۵ ماده:**

ګروی د شرط پوری د معلق پور یا د احتمالی پور د تضمین دپاره صورت موندلی شی، خو په دی شرط چې د ګروی په عقد کښې د تضمین شوی پیسو اندازه وټاکل شی.

**۱۸۴۶ ماده:**

